د افغانستان بانک

# اقتصادي او احصائیوي بولټن

د افغانستان بانک ربعوار اقتصادي او احصائیوي بولټن

د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې( د ۲۰۱۶ کال د جون له ۲۱ څخه د ۲۰۱۶ کال د سپټمبر تر ۲۱ پورې)

DA AFGHANISTAN BANK

د افغانستان بانک

# اقتصادي او احصائیوي بولټن

د افغانستان بانک ربعوار اقتصادي او احصائیوي بولټن

د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې( د ۲۰۱۶ کال د جون له ۲۱ څخه د ۲۰۱۶ کال د سپټمبر تر ۲۱ پورې)

ابن سینا واټ

کابل

افغانستان

ټلیفون ۲۱۰۳۹۳۲-۲۰-۹۳+

وب پاڼه: www.dab.gov.af

بریښنالیک: info@dab.gov.af

ټول حقونه خوندي دي

حقونه او اجازه لیکونه

په دې بولټن کې د ټولو مطالبو د خپرولو حق خوندي دی؛ خو نقلول او بیاځلي چاپول یې په آزاده توګه ترسره کېدای شي. د بیا چاپ لپاره د تصدیق پاڼې او د بولټن یوه کاپي لازمي ده.

**یادداښت:**

د افغانستان نوی مالي کال له ۱۳۹۱ (۲۰۱۲) کال راهیسې بدلون موندلی دی. نوی مالي کال هر کال د ډیسمبر په ۲۱ (د مرغومې لومړۍ نېټه) پیلیږي. دا درې میاشتنی بولټن د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې( د ۲۰۱۶ کال د جون له ۲۱ نېټې څخه د ۲۰۱۶ کال د سپټمبر تر ۲۱ نېټې پورې) اقتصادي او احصائیوي بدلونونه رانغاړي.

## د محتویاتو لړلیک

**عمومي کتنه** ........ ۱
**۱. نړیوال اقتصادي وضعیت** ........ ۵
**۱.۱ پرمختللي اقتصادونه** ........ ۵
۱.۱.۱ د امریکې د متحده ایالاتو اقتصاد ........ ۵
۲.۱.۱ د بریتانیې اقتصاد ........ ۶
۳.۱.۱ د جرمني اقتصاد ........ ۷
۴.۱.۱ فرانسې اقتصاد ........ ۸
۵.۱.۱ د جاپان اقتصاد ........ ۹
**۲.۱ راغوړېدلي اقتصادونه** ........ ۹
۱.۲.۱ د چین اقتصاد ........ ۹
۲.۲.۱ د هند اقتصاد ........ ۱۰
۳.۲.۱ د ترکیې اقتصاد ........ ۱۱
**۲. د بانکې او پولي بازار بدلونونه** ........ ۱۵
۱.۲ پولي پروګرام ........ ۱۵
۲.۲ د نقدینګی حجم ........ ۱۶
۳.۲ خالصه نړیوالې زیرمې ........ ۱۹
۴.۲ د اسعارو د مبادلې بازار ........ ۱۹
**۵.۲ د آزاد بازار فعالیت او د سیالیت شرایط** ........ ۱۹
۱.۵.۲ د اسعارو لیلام ........ ۱۹
۲.۵.۲ د بانګه ایزه پاڼو (کپیټل نوټ) لیلام ........ ۲۰
۳.۵.۲ الزامي او اضافي زیرمې ........ ۲۰
**۳. د انفلاسیون بهیر او لیدلوری** ........ ۲۵
**۱.۳ په افغانستان کې د مصرفي توکو بیې** ........ ۲۵
۱.۱.۳ د ملي مصرفي توکو د بیې د عمومي شاخص بدلونونه ........ ۲۶
۲.۱.۳ د کابل د مصرفي توکو د بیې په شاخص کې بدلونونه ........ ۳۰
**۲.۳ د انفلاسیون لنډ مهاله لید لوری** ........ ۳۴
**۴. د بهرني سکتور بدلونونه** ........ ۳۷
۱.۴ د اداینو بیلانس ........ ۳۷
۱.۱.۴ د جاري حساب بیلانس ........ ۳۷

۲.۱.۴ پانګه ایز حساب ۳۸
۳.۱.۴ مالي حساب ۳۸
۴.۱.۴ د توکو سوداګري ۳۹
**۲.۴ د سوداګرۍ لوری ۳۹**
**۳.۴ د سوداګرۍ ترکیب ۴۱**
۱.۳.۴ د وارداتو ترکیب ۴۱
۲.۳.۴ د صادراتو ترکیب ۴۲
**۴.۴ بهرني پوراینې ۴۳**
**۵.۴ خالصه نړیوالې زیرمې ۴۴**
**۵. د مالي سکتور بدلونونه ۵۱**
**۱.۵ د بودجې د اجراء نرخ ۵۱**
**۲.۵ د بودجې کسر ۵۱**
**۳.۵ د عوایدو راټولول ۵۱**
۱.۳.۵ مالیاتي عواید ۵۲
۲.۳.۵ غیر مالیاتي عواید ۵۲
**۴.۵ د بسپنه ورکوونکو مرستې ۵۳**
**۵.۵ لګښتونه ۵۳**
**۶. د بانکي نظام د کړنو څرنګوالی ۵۷**
**۱.۶ د بانکي نظام شتمنی ۵۷**
۱.۱.۶ ناخالصه پورونه ۵۹
۲.۱.۶ د پور د زیان زېرمې ۵۹
۳.۱.۶ د کریډټ وېشنه ۵۹
**۲.۶ د پورونو ډله بندي ۶۲**
۱.۲.۶ صعب الحصول پورونه ۶۲
۲.۲.۶ معکوس ډله بندي شوي پورونه ۶۲
۳.۲.۶ تر نظر لاندې کټګورۍ کې پورونه ۶۲
۴.۲.۶ په خساره کټګورۍ کې پورونه ۶۳
۵.۲.۶ د بانکونو ترمنځ طلبات ۶۳
۶.۲.۶ پانګه اچونه ۶۳
۷.۲.۶ په خزانه کې پیسې او د افغانستان بانک باندې طلبات ۶۳

**۳.۶ پوراینې** ........ ۶۴
۱.۳.۶ امانتونه ........ ۶۴
۲.۳.۶ پور اخیستنې ........ ۶۵
**۴.۶ نقدینګی (سیالیت)** ........ ۶۵
۱.۴.۶ د سیالیت نسبت (پراخه کچه) ........ ۶۶
**۵.۶ پانګه** ........ ۶۶
**۶.۶ ګټورتیا (نافعیت)** ........ ۶۶
**۷.۶ د اسعارو خطر** ........ ۶۹
**۸.۶ د ټکټانې د نرخ خطر** ........ ۶۹

**د ګرافونو لیست**


۱.۱ ګراف: د متحده ایالاتو د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ (د موسم پر بنسټ عیار شوي کلني بدلونونه)............ ۵

۲.۱ ګراف: ټولو ښاري لګښت کوونکو لپاره د متحده ایالاتو د مصرفي توکو د بیې شاخص( د موسم پراساس دعیارشوي یو میاشتني بدلونونو سلنه)........................................................................ ۵

۳.۱ ګراف: د متحده ایالاتو د توکو او خدمتونو نړیواله سوداګري ( په میلیارد امریکایي ډالر)........................... ۶

۴.۱ ګراف: د متحده ایالاتو د بیکارۍ نرخ ( د موسم پر بنسټ عیار شوی)........................................ ۶

۵.۱ د بریتانیې د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ ( د موسم پر بنسټ عیار شوی)............................. ۶

۶.۱ ګراف: د بریتانیې د انفلاسیون کلنی نرخ ................................................ ۷

۷.۱ ګراف: د جرمني د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ ( ربعه په ربعه)....................................... ۷

۸.۱ ګراف: د فرانسې د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ ( ربعه په ربعه)...................................... ۸

۹.۱ ګراف: د عامه او شخصي تقاضا له مخې د جاپان د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ ( د موسم له مخې عیار شوی).. ۹

۱۰.۱ ګراف: د چین د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ (ربعه په ربعه)........................................ ۱۰

۱۱.۱ ګراف: د هند د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ ( کال په کال)........................................ ۱۰

۱۲.۱ ګراف: د ترکیې د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ ( کال په کال د سلنې بدلونونه)........................ ۱۱

۱.۲ ګراف: په ګردښت کې پیسې، ۱۳۹۵ مالي کال دریمه ربعه ................................................. ۱۶

۲.۲ ګراف: پولي زیرمې، ۱۳۹۵ مالي کال دریمه ربعه................................................... ۱۶

۳.۲ ګراف: په ګردښت کې پیسې د پراخه مفهوم (M2) د ونډې په توګه(٪) ................................. ۱۷

۴.۲ ګراف: جاري امانتونه د M2 د ونډې په توګه (٪)................................................ ۱۷

۵.۲ ګراف:د پراخه مفهوم (M2 ) د ونډې په توګه پیسه وزمه (٪)......................................... ۱۷

۶.۲ ګراف: خالصه نړیوالې زیرمې، ۱۳۹۵ کال دریمه ربعه ................................................ ۱۹

۷.۲ ګراف: د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې ورځنی اوسط نرخ، ۱۳۹۵ مالي کال دریمه ربعه.............. ۱۹

۸.۲ ګراف: ناتصفیه شوې پانګه ایزې پانې، ۱۳۹۵ مالی کال دریمه ربعه ........................................ ۲۰

۱.۳ ګراف: د ملي عمومي مصرفي توکو د بیې شاخص (کال په کال) ......................................... ۲۶

۲.۳ ګراف: د ملي عمومي مصرفي توکو د بیې شاخص (ربعه په ربعه) ........................................ ۲۸

۳.۳ ګراف:د کابل د عمومي مصرفي توکو د بیې شاخص (کال په کال)........................................ ۳۰

۴.۳ ګراف: د کابل د عمومي مصرفي توکو د بیې شاخص (ربعه په ربعه)....................................... ۳۲

۱.۴ ګراف: د جاري حساب د اداینو بیلانس................................................... ۳۷

۲.۴ ګراف: د پانګه ایز حساب بیلانس..................................................... ۳۸

۳.۴ ګراف: د مالي حساب بیلانس........................................................ ۳۸


۴.۴ ګراف: د سوداګرۍ کړنې او د سوداګرۍ بیلانس (په میلیون امریکایي ډالر)................................ ۳۹

۵.۴ ګراف: د صادراتو لوری (د ونډې سلنه)، ۱۳۹۵ مالي کال دریمه ربعه ........ ۴۰
۶.۴ ګراف: د صادراتو لوری (د ونډې سلنه)، ۱۳۹۴ مالي کال دریمه ربعه ........ ۴۰
۷.۴ ګراف: د وارداتو لوری (د ونډې سلنه)، ۱۳۹۵ مالي کال دریمه ربعه ........ ۴۱
۸.۴ ګراف: د وارداتو لوری (د ونډې سلنه)، ۱۳۹۴ مالي کال دریمه ربعه ........ ۴۱
۹.۴ ګراف: د وارداتو ترکیب (د ونډې سلنه)، ۱۳۹۴ مالي کال دریمه ربعه ........ ۴۲
۱۰.۴ ګراف: د وارداتو ترکیب (د ونډې سلنه)، ۱۳۹۵ مالي کال دریمه ربعه ........ ۴۲
۱۱.۴ ګراف: د صادراتو ترکیب (د ونډې سلنه)، ۱۳۹۴ مالي کال دریمه ربعه ........ ۴۳
۱۲.۴ ګراف: د صادراتو ترکیب (د ونډې سلنه)، ۱۳۹۵ مالي کال دریمه ربعه ........ ۴۳
۱۳.۴ ګراف: د بهرني پورلینې پرتله کول، د ۱۳۹۴ مالي کال دریمه ربعه او د ۱۳۹۵ کال دریمه ربعه ........ ۴۴
۱۴.۴ ګراف: د تېرو ربعو په اوږدو کې خالصه نړیوالې زیرمې (په میلیون امریکایي ډالر) ........ ۴۴
۱.۵ ګراف: د ټولیزه عوایدو ترکیب، ۱۳۹۵ مالي کال دریمه ربعه ........ ۵۱
۲.۵ ګراف: د ټولیزه عوایدو پرتله کول، ۱۳۹۵ مالي کال دریمه ربعه ........ ۵۲
۳.۵ ګراف: د مالیاتي عوایدو پرتله کول، ۱۳۹۵ مالي کال دریمه ربعه ........ ۵۲
۴.۵ ګراف: د مالیاتي عوایدو ترکیب، ۱۳۹۵ مالي کال دریمه ربعه ........ ۵۲
۵.۵ ګراف: د ملي بودجې مالي سرچینې، ۱۳۹۵ مالي کال دریمه ربعه ........ ۵۳
۶.۵ ګراف: د بسپنه ورکوونکو د ونډې پرتله کول، ۱۳۹۵ مالي کال دریمه ربعه ........ ۵۳
۷.۵ ګراف: د حکومت د ټولیزه لګښتونو ترکیب، ۱۳۹۵ مالي کال دریمه ربعه ........ ۵۳
۱.۶ ګراف: د بانکي نظام ونډه (په ټولیزه شتمنیو کې) ........ ۵۸
۲.۶ ګراف: د بانکي نظام د ټولیزه ناخالصه پورونو په پورټوفولیو کې د بانکونو د ګروپونو ونډه ........ ۵۹
۳.۶ ګراف: د پورونو د پورټوفولیو کیفیت ........ ۶۲
۴.۶ ګراف: د بانکي ګروپونو ترمنځ د خپل منځي طلباتو ونډه ........ ۶۳
۵.۶ ګراف: پوراینې ۵۸.۰۲ میلیونه افغانی یا ۰.۰۲ سلنه راکمې شوي دي ........ ۶۴
۶.۶ ګراف: د امانتونو اسعاري ترکیب ........ ۶۵
۷.۶ ګراف: په افغانی ایښودل شوي امانتونه ........ ۶۵
۸.۶ ګراف: امانتونه ۰.۲۸ سلنه یا ۶۷۴ میلیونه افغانی راکمې شوي دي ........ ۶۵
۹.۶ ګراف: د امانتونو ډله بندي ........ ۶۵
۱۰.۶ ګراف:د بانکي سکتور ګټورتیا ........ ۶۷
۱۱.۶ ګراف: له شتمنی ترلاسه شوې ګټه او له پانګې ترلاسه شوې ګټه ........ ۶۸
۱۲.۶ ګراف: نهایي خالصه ټکټانه ........ ۶۸

**د جدولونو لیست**

۱.۲ جدول: د نقدینه ګی حجم، ۱۳۹۵ مالي کال دریمه ربعه ۱۸
۱.۳ جدول: د ملي عمومي مصرفي توکو د بیې شاخص د اجزاوو وېشنه (کال په کال) ۲۷
۲.۳ جدول: د ملي عمومي مصرفي توکو د بیې شاخص د اجزاوو وېشنه (ربعه په ربعه) ۲۹
۳.۳ جدول: د کابل د عمومي مصرفي توکو د بیې شاخص د اجزاوو وېشنه (کال په کال) ۳۱
۴.۳ جدول: د کابل د عمومي مصرفي توکو د بیې شاخص د اجزاوو وېشنه (ربعه په ربعه) ۳۳
۱.۴ جدول: د توکو سوداګري (په میلیونه امریکایي ډالر) ۴۵
۲.۴ جدول: د افغانستان د اداینو بیلانس (په میلیون امریکایي ډالر) ۴۵
۳.۴ جدول: د بهرنۍ سوداګرۍ لوری، ۱۳۹۵ مالي کال دریمه ربعه (په میلیون ډالر) ۴۶
۴.۴ جدول: د بهرنۍ سوداګرۍ لوری، ۱۳۹۴ مالي کال دریمه ربعه (په میلیون ډالر) ۴۶
۵.۴ جدول: بهرنۍ پوراینې، ۱۳۹۵ مالي کال دریمه ربعه ( په ذکر شویو واحدونو کې) ۴۶
۶.۴ جدول: خالصه نړیوالې زیرمې، ۱۳۹۴ مالي کال دریمه ربعه ۴۷
۱.۶ جدول: د بانکي نظام د شتمنۍ او پوراینې ترکیب ۵۸
۲.۶ جدول: د کریډېټ سکتوري وېش ۶۰
۳.۶ جدول: د بانکي نظام د ټینګښت مهم شاخصونه ۶۶
۴.۶ جدول: ګټې/زیان ۶۸

# د افغانستان بانک مشرتابه پلاوی



خلیل صدیق

د افغانستان بانک لوی رئیس



واحد الله نوشیر

د افغانستان بانک لومړی مرستیال



محمد قسیم رحیمي

د افغانستان بانک دویم مرستیال



## د لوی رئیس پیغام

”د افغانستان بانک د پالیسیو او هڅو موخه د ټولنې د ډېرو زیانمننونکو برخو ساتنه ده چې دا چاره د سالم او اغیزناکه پولي سیاست د تطبیقولو له لارې چې تمرکز یې د بیو پر ثبات (د بانک لومړني هدف) باندې دی، ترسره کیږي.“

**عمومي کتنه**

د افغانستان اقتصاد په هېواد کې د دوامداره اقتصادي او سياسي نا ډاډمنتيا او د بهرنيو ځواکونو د وتلو له امله د اغيزمن کيدو سره سره بيا هم د ارزونې لاندې ربعه کې له تمې زياته وده کړې ده. افغانستان د ۱۳۹۵ مالي کال په دريمه ربعه کې د عوايدو د راټولولو او صادراتو په برخه کې د پام وړ وده درلودلې ده. کورني عوايد د ۱۳۹۵ مالي کال په دريمه ربعه کې ۵۹.۷۳ ميليارده افغانۍ ته رسيږي چې د تير کال د ورته ربعې د ۲۸.۸۶ ميليارده افغانۍ په پرتله څه باندې دوه برابره زياتوالی ښکاره کوي. ټوليزه مالياتي عوايد د ګمرکي حقونو په ګډون د ۱۳۹۵ مالي کال په دريمه ربعه کې ۲۴.۴۹ ميليارده افغانۍ ته رسيږي چې د تير کال د ورته ربعې د ۲۱.۱۳ ميليارده افغانۍ په پرتله ۱۶ سلنه يا ۳.۳۶ ميليارده افغانۍ زياتوالی ښکاره کوي.

همدا ډول د جاري حساب د ادايئو بيلانس(BOP) د ۱۳۹۵ مالي کال په دريمه ربعه کې ۱،۰۹۷.۰۹ ميليونه امريکايي ډالره کسر درلوده چې د ۱۳۹۴ مالي کال د دريمې ربعې د ۱،۷۴۴.۱۶ ميليونه امريکايي ډالره کسر په پرتله ټيټوالی ښکاره کوي. د جاري حساب د کسر د ټيټيدو بنسټيز لاملونه د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې د دواړو توکو او خدمتونو د واردولو په لګښتونو کې کموالی او د صادراتو د عوايدو زياتوالی په ګوته شوي دي. د سوداګرۍ د بيلانس کسر د ۱۳۹۵ مالي کال په دريمه ربعه کې ۱،۳۲۲.۱۸ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسيږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د دريمې ربعې د ۲،۰۴۲.۶۳ ميليونه امريکايي ډالرو په پرتله ۳۵ سلنه کموالی ښکاره کوي. همدا ډول د مالي حساب د ادايئو بيلانس د ۱۳۹۴ مالي کال د دريمې ربعې له ۲۱۲.۸۴ ميليونه امريکايي ډالره بهرني خالصه جريان څخه د ۱۳۹۵ مالي کال په دريمه ربعه کې ۶۶ ميليونه امريکايي ډالره دننه خالصه جريان ته تبديل شوی دی.

د انفلاسيون د نرخ په برخه کې بايد وويل شي چې د عمومي انفلاسيون اوسط د ۱۳۹۵ مالي کال په دريمه ربعه کې ۶.۸۶ سلنې ته رسيږي چې د ۱۳۹۵ مالي کال د دويمې ربعې د ۵.۹۶ سلنې او د تير کال د ورته ربعې د منفي ۱.۹ سلنې په پرتله زياتوالی ښکاره کوي. د انفلاسيون د نرخ د دوامداره زياتوالي لامل ځينې داخلي او بهرني عوامل ښودل شوي دي. که څه هم د اومه نفتو او حبوباتو بيې راټيټې شوي دي، خو بيا هم د نړۍ په کچه د ډېرو توکو په بيو کې زياتوالی تر سترګو کيږي.

په ورته وخت کې حقيقي ګردښت کې پيسې او پولي زېرمې د ۱۳۹۵ مالي کال د لومړي او دويمې ربعې په اوږدو کې له ټاکل شوي حد څخه ټيټې شوې دي چې د ۱۳۹۵ مالي کال د دريمې ربعې په اوږدو کې د دې دوو کټګوريو شمېرې له ټاکل شوې هدف څخه پورته دي چې هر يو يې په ترتيب سره ۷.۹ سلنه او ۷.۴ سلنه مثبته وده ثبت کړې ده. د پولي زېرمو کچه د افغانستان بانک د عملياتي هدف په توګه د همدې ربعې په پای کې ۲۳۹،۷۲۷ ميليونه افغانۍ ته رسيږي، حال دا چې په ګردښت کې د پيسو کچه د افغانستان بانک د ضمني هدف په توګه ۲۱۵،۰۲۲ ميليونه افغانۍ ثبت شوې ده.

١

# نړیوال اقتصادي وضعیت

## نړیوال اقتصادي وضعیت

د پیسو د نړیوال صندوق (IMF) د راپور پر بنسټ، د نړۍ اقتصادي وده په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۳.۱ سلنه اټکل شوې چې دا شمېره د روان کال د اپریل د میاشتې د وړاندې وینې (د پیسو د نړیوال صندوق د وړاندوینې) په پرتله۰.۰۰۱ سلنه کموالی ښکاره کوي او بنسټیز لاملونه یې له اروپایي ټولنې (بریکسټ) څخه د بریتانیې د وتلو لپاره له رایې ورکولو وروسته د پرمختللو هېوادونو د اقتصادي ودې کموالی او د امریکې د متحده ایالاتو کمزوره وده په ګوته شوي دي. په پایله کې، دې بدلونونو په نړیواله تکتانې نرخ باندې ټیټېدونکي اغیزې کړې دي چې له امله یې تمه کیږي اوږد مهاله انبساطي پولي سیاست ترلاس لاندې ونیول شي. سره له دې چې د بریکسټ پر وړاندې د بازار عکس العمل منظم دی، خو اوس هم د بریتانیې او اروپایي ټولنې د هېوادونو ترمنځ په اقتصادي اړیکو باندې د هغه نهایي اغیزې څرګندې نه دي. له همدې کبله په ۱۳۹۵ مالي کال د پیسو د نړیوال صندوق لخوا د پرمختللو هېوادونو اقتصادي وده ۱.۶ سلنه ټیټه اټکل شوې ده.

د راغوړیدلو او د پرمختګ په حال کې هېوادونو اقتصادي وده چې د تیرو پنځو کلونو په اوږدو کې یې ټیټوالی درلوده، په ۱۳۹۵ مالي کال کې د لږ څه زیاتوالي په درلودلو سره ۴.۲ سلنه اټکل شوې ده. د پورته یاد شویو هېوادونو لید لوري سره ورته نه دي او د تیر په پرتله په ټولیزه توګه کمزوره دي. سره له دې چې مالي وضعیت په پرمختللو اقتصادونو کې د ټکتانې نرخ د کموالي د غوښتنو پر بنسټ، ښه شوی دی، خو د دې هېوادونو د اقتصادي کړنو نور عوامل یې اغیزمن کړي دي.

### ۱.۱ د پرمختللو هېوادونو اقتصاد

#### ۱.۱.۱ د امریکې د متحده ایالاتو اقتصاد

د امریکې د متحده ایالاتو کورني ناخالصه تولیدات د کلنی نرخ پر بنسټ د ۱۳۹۵ مالي کال په دریمه ربعه کې ۳.۲ سلنې ته زیات شوي دي، حال دا چې د دې هېواد کورني ناخالصه تولیدات په تیره ربعه کې ۱.۴ سلنه زیاتوالی درلوده. د ۱۳۹۵ مالي کال په درېمه ربعه کې د امریکې د متحده ایالاتو د کورني ناخالصه تولیداتو د زیاتیدو اصلي لاملونه په مثبته توګه شخصي لګښتونه، صادرات، د توکو په موجودۍ کې شخصي پانګونې، د فدرال حکومت لګښتونه په ګوته شوي دي، حال دا چې په استوګن ځایونو کې ثابتو پانګونو او دولتي او سیمه ایزو لګښتونو د دې هېواد د کورني ناخالصه تولیداتو په زیاتیدو کې منفي ونډه درلودلې ده.


۱.۱ ګراف: د امریکې د متحده ایالاتو د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ
(ربعه په ربعه د بدلونونو سلنه)




سرچینه: د اقتصادي تحلیل اداره، د امریکې د متحده ایالاتو د سوداګرۍ مدیریت

د امریکې د متحده ایالاتو د لګښت کوونکو د بیې شاخص (د موسم له مخې عیار شوی) ټولو ښاري لګښت کوونکو لپاره د ۲۰۱۶ کال په سپټمبر میاشت کې ۰.۳ سلنه زیاتوالی موندلی دی. په تیره میاشت کې دې شاخص ۰.۲ سلنه زیاتوالی درلوده، حال دا چې دا شاخص په جولای میاشت کې د تیرې مودې په پرتله هیڅ ډول بدلون نه ښکاره کوي.


**۲.۱ ګراف: ښاري لګښت کوونکو لپاره د امریکې د متحده ایالاتو د مصرفي توکو د بیې شاخص ( د موسم له مخې عیار شوی د یو میاشتني بدلونونو سلنه)**




سرچینه: د کارکوونکو د احصائیې اداره، د امریکې د متحده ایالاتو د کار وزارت

د امریکې د متحده ایالاتو د نړیوالې سوداګرۍ (د توکو او خدمتونو) کسر د ۲۰۱۶ کال د سپتمبر میاشت کې ۳۶.۲ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیرې میاشتې ۴۰.۶ میلیارده امریکایي ډالرو په پرتله ۱۲.۲ سلنه کموالی ښکاره کوي. په سپتمبر میاشت کې د دې هېواد ټولیزه صادرات ۱۸۹.۸ میلیارده امریکایي ډالره او واردات یې ۲۲۵.۹ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسیږي، حال دا چې په تیره دوره کې د دې هېواد د صادراتو او وارداتو کچې په ترتیب سره ۱۸۸.۰ او ۲۲۸.۶ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسیدې. همدا ډول د جولای میاشت کې د دې هېواد د صادراتو کچه ۱۸۶.۴ میلیارده امریکایي ډالره ثبت شوې ده، حال دا چې په همدې میاشت کې د دې هېواد د ټولیزه وارداتو کچه ۲۲۶.۰ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسیده چې دا شمېرې په ټولیزه توګه ۳۹.۶ میلیارده کسر ښکاره کوي.


۳.۱ ګراف: د امریکې د متحده ایالاتو (د توکو او خدمتونو)
د نړیوالې سوداګرۍ بیلانس




سرچینه: د اقتصادي تحلیل اداره، د امریکې د سوداګرۍ وزارت

د امریکې د متحده ایالاتو د موسم پر اساس عیار شوی د بیکارۍ نرخ د ۲۰۱۶ کال د سپتمبر میاشت کې ۵ سلنې ته چې د اګست او جولای د میاشتو د ۴.۹ سلنې په پرتله ۰.۰۰۱ سلنه لږ څه زیاتوالی ښکاره کوي. په ۲۰۱۶ کال کې د دې هېواد د بیکارۍ تر ټولو ټیټ نرخ په می میاشت کې او تر ټولو لوړ نرخ یې په مارچ، اپریل او سپتمبر میاشتو کې ثبت شوی ؤ چې په ترتیب سره ۴.۷ سلنې او ۵ سلنې ته رسیده.

۴.۱ ګراف: د امریکې د متحده ایالاتو د بیکارۍ نرخ
( د موسم پر اساس عیار شوي د بدلونونو سلنه)





سرچینه: د کارکوونکو د احصائیې اداره، د امریکې د کار وزارت

### ۲.۱.۱ د بریتانیې اقتصاد

د بریتانیې اقتصاد د ۱۳۹۵ مالي کال په دریمه ربعه کې ۰.۵ سلنه (ربعه په ربعه) وده کړې ده. حال دا چې په تیره ربعه کې د بریتانیې اقتصاد ۰.۷ سلنه وده درلوده. په دریمه ربعه کې د بریتانیې د اقتصادي ودې اصلي لامل بهرنۍ خالصه تقاضا په ګوته شوې ده، حال دا چې کورنۍ لګښت او ثابتې پانګونې لږ څه زیاتې شوې دي.

۵.۱ ګراف: د بریتانیې د کورنۍ ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ (ربعه په ربعه)
د موسم له مخې عیار شوی د بدلونونو سلنه





سرچینه: د بریتانیې د احصائیې ملي اداره

د بریتانیې د مصرفي توکو د بیې شاخص د کلنۍ نرخ پر بنسټ د ۲۰۱۶ کال په سپتمبر کې ۱ سلنې ته رسیږي چې د تیرې میاشتې د ۰.۶ سلنې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. د بریتانیې د مصرفي توکو د بیې د لوړیدو بنسټیز لامل د

پوښاک، د موټرو د تيلو او په هوټلونو کې د شپې لخوا د اوسيدو د بيو زياتوالي په ګوته شوی دی. همدا ډول د دې هېواد د مصرفي توکو د بيو شاخص په جولای مياشتې کې ۰.۶ سلنه ثبت شوی دی چې د تيرې مياشتې د ۰.۵ سلنې په پرتله زياتوالی ښکاره کوي.

۶.۱ ګراف: د بريتانيې د انفلاسيون کلنی نرخ ( د سلنې له مخې بدلونونه)




سرچينه: د بريتانيې د احصائيې ملي اداره


د بريتانيې د بيکارۍ نرخ د تيرې دورې له ۴.۹ سلنې څخه د ۱۳۹۵ مالي کال په دريمه ربعه کې ۴.۸ سلنې ته راکم شوی دی. د دې هېواد د بيکارۍ نرخ د تير کال د ورته دورې په پرتله په دې دوره کې ۵.۳ سلنه کموالی ښکاره کوي. حال دا چې د بريتانيې د بيکارۍ نرخ د ۲۰۰۵ زيږديز کال راپدېخوا د ۱۳۹۵ مالي کال په دريمه ربعه کې تر ټولو ټيټ نرخ ښکاره کوي.

د بريتانيې د نړيوالې سوداګرۍ (توکي او خدمتونه، ربعه په ربعه) کسر د ۱۳۹۵ مالي کال په دريمه ربعه کې د ۱.۶ ميليارده پاونډه کموالي په درلودلو سره ۱۱.۰ ميليارده پاونډه ته رسيږي. د دې هېواد د توکو صادرات د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې ۴.۵ ميليارده پاونډه ( ۶.۱ سلنې) ته زيات شوي، حال دا چې د خدمتونو صادرات يې ۰.۱ ميليارده پاونډه ( ۰.۱ سلنې) ته راکم شوي دي. په ورته وخت کې دې هېواد ته د توکو واردات ۳.۱ ميليارده پاونډه ( ۲.۸ سلنه) زيات شوي، خو د خدمتونو واردات يې ۰.۳ ميليارده پاونډه ( ۰.۷ سلنې) ته راکم شوي دي.

### ۳.۱.۱ د جرمني اقتصاد

د جرمني کورني ناخالصه توليدات د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې۰.۲ سلنې ته لوړ شوي چې د تيرې ربعې د ۰.۴ سلنې ودې په پرتله کموالی ښکاره کوي. د دې هېواد د کورني ناخالصه توليداتو د ودې اصلي لامل د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې کورني لګښتونه ښودل شوي دي، حال دا چې کورني لګښتونو او دولتي لګښتونو په ترتيب سره ۰.۴ سلنې او ۱.۰ سلنې ته لوړ شوي دي. برعکس، د ثابتې پانګونې د تشکيل وده کمزوره شوې، حال دا چې په ودانيزو چارو کې د ناخالصه ثابتې پانګونې تشکيل ۰.۳ سلنه زياتوالی او په ماشين الاتو او تجهيزاتو کې د ثابتې پانګونې تشکيل ۰.۶ سلنه کموالی ښکاره کوي. سربېره پر دې، د دې هېواد سوداګريز بيلانس هم د کورني ناخالصه توليداتو په وده باندې ۰.۰۰۳ سلنه منفي اغيز کړی دی.

۷.۱ ګراف: د جرمني د کورني ناخالصه توليداتو د ودې نرخ
( ربعه په ربعه د سلنې بدلونونه) د موسم او کليزې پر اساس عيار شوی




سرچينه: د فدرال د احصائيې اداره (Destatis)

د جرمني د انفلاسيون کلنی نرخ د ۲۰۱۶ کال سپټمبر مياشت کې ۰.۷ سلنه ثبت شوی ؤ. د اګست مياشت کې د دې هېواد د انفلاسيون کلنی نرخ ۰.۴ سلنه ؤ، حال دا چې په تيره

مياشت کې هم د انفلاسيون کلنی نرخ ۰.۴ سلنې ته رسيده.

د جرمني د بيکارۍ نرخ ( د موسم او نامنظمه اغيزو پر بنسټ عيار شوی) د ۲۰۱۶ کال سپټمبر مياشت کې ۴.۱ سلنه ثبت شوی ؤ، حال دا چې دا شمېره د اګست په مياشت او تيره مياشت کې ۴.۲ سلنه ثبت شوې وه. بايد يادونه وشي چې د سپټمبر مياشت کې د جرمني د بېکاره وګړو شمېر ۱.۶۵ ميليونه (له تعديلاتو وروسته ۱.۷۷ ميليونه وګړو) ته رسيدې، حال دا چې دا شمېره اګست مياشت کې ۱.۸۰ ميليونه ( له تعديلاتو وروسته ۱.۸۲ ميليونه وګړو) ته رسيده. همدا ډول د ۲۰۱۶ کال جولای مياشت کې ۱.۸۵ ميليونه ( له تعديلاتو وروسته ۱.۸۲ ميليونه وګړي) د دندو په ترلاسه کولو برلاسي شوي نه دي.

د جرمني د بهرنۍ سوداګرۍ بيلانس (د کليزې او موسم له مخې عيار شوی) د ۲۰۱۶ کال سپټمبر مياشت کې ۲۱.۳ ميلياره يورو ته رسيږي چې د تيرې مياشتې د ۲۲.۲ ميلياره يورو ډېريدنې په پرتله ۴.۰۵ سلنه کموالی ښکاره کوي. د جرمني د بهرنۍ سوداګرۍ ډېريدنه د جولای د مياشتې د ۱۹.۴ ميلياره يورو په پرتله په سپټمبر مياشت کې ۹.۷۹ سلنه لوړه شوې ده.


**۴.۱.۱ د فرانسې اقتصاد**

د فرانسې کورني ناخالصه توليدات د تيرې ربعې له ۰.۱ سلنه کموالي وروسته د ۱۳۹۵ مالي کال په دريمه ربعه کې ۰.۲ سلنه زياتوالی موندلی دی. د دې هېواد کورني لګښتونه په دريمه ربعه کې ثابته پاتې شوي، خو د خدمتونو لګښتونه يې د تيرې ربعې د ۰.۲ سلنه کموالي په پرتله په دريمه ربعه کې ۰.۳ سلنې ته زيات شوي دي، حال دا چې د توکو لګښتونه يې د تيرې دورې د ۰.۱ سلنه زياتوالي په پرتله ۰.۵ سلنه کموالی ښکاره کوي. همدا ډول کورنی پانګونې د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې زياتې شوي دي، خو د شرکتونو پانګه اچونې بيا په دې ربعه کې راکمې شوې دي.

د توکو په موجودۍ کې بدلونونو د ۱۳۹۵ مالي کال په دريمه ربعه کې د دې هېواد د کورني ناخالصه توليداتو په وده کې ۰.۰۰۶ سلنه مثبته ونډه درلوده چې دا شمېره په تيره ربعه کې منفي ۰.۸ سلنې ته رسيده.

د فرانسې د بهرنۍ سوداګرۍ بيلانس د تيرې ربعې له ۰.۰۰۶ سلنې ودې وروسته په دريمه ربعه کې د دې هېواد په کورني ناخالصه توليداتو کې منفي ۰.۰۰۵ سلنه منفي ونډه درلوده.

۸.۱ ګراف: د فرانسې د کورني ناخالصه توليداتو د ودې نرخ
( د کارۍ ورځې او موسم پر اساس عيار شوی ربعه په ربعه د سلنې بدلونونه)




سرچينه: د احصائيې او اقتصادي چارو د څېړنې ملي انسټيټوټ(INSEE)

د فرانسې د مصرفي توکو د بيې شاخص(CPI) د اګست مياشتې له ۰.۲ سلنه زياتوالي وروسته د ۲۰۱۶ کال سپټمبر مياشت کې ۰.۴ سلنه (کال په کال) زيات شوی دی، حال دا چې د مصرفي توکو د بيې شاخص جولای مياشت کې ۰.۲ سلنه زياتوالی درلوده. په سپټمبر مياشت کې د انفلاسيون نرخ د لوړيدو اصلي لامل د خدمتونو لوړې بيې په ګوته شوي دي.


د ۱۳۹۵ مال کال په دريمه ربعه کې د فرانسې د لويو ښارونو او له هېواد څخه د بهر ادارو د بيکارۍ نرخ ۱۰.۰ سلنه ثبت شوی دی چې د تيرې ربعې د ۹.۹ سلنې په پرتله ۰.۰۰۱ سلنه زياتوالی ښکاره کوي. همدا ډول په دريمه ربعه کې يوازې د فرانسې په لويو ښارونو کې د بېکارۍ نرخ ۹.۷ سلنې ته لوړ شوی دی.

د فرانسې د موسم پر بنسټ عیار شوی د بهرنۍ سوداګرۍ کسر (په توکو کې) د ۱۳۹۵ مالي کال په دریمه ربعه کې ۲۰.۸۳ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیرې ربعې د ۱۵.۷۲ میلیارده امریکایي ډالرو په پرتله ۵.۱۱ میلیارده امریکایي ډالره (۳۲.۵۱ سلنه) زیاتوالی ښکاره کوي. د میاشتو له مخې د فرانسې د موسم پر اساس عیار شوی د بهرنۍ سوداګرۍ کسر ( په توکو کې) د جولای، اګسټ او سپټمبر میاشتو کې په ترتیب سره ۶.۶۶ میلیارده، ۷.۱۴ میلیارده او ۷.۰۳ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسیږي.

**۵.۱.۱ د جاپان اقتصاد**

د جاپان اقتصاد د تیرې ربعې د ۰.۵ سلنه ودې په پرتله د ۲۰۱۵ مالي کال په دریمه ربعه کې (د موسم پر بنسټ عیار شوی، ربعه په ربعه) ۰.۳ سلنه وده کړې ده. په دې هېواد کې شخصي لګښتونه د ۱۳۹۵ مالي کال د دویمې ربعې له ۰.۲ سلنې څخه په دریمه ربعه کې ۰.۳ سلنې ته زیات شوي دي. همدا ډول کورني لګښتونه د ۱۳۹۵ مالي کال په دریمه ربعه کې ۰.۳ سلنې ته رسیږي چې د همدې کال د دویمې ربعې د ۰.۲ سلنې په پرتله ۰.۰۰۱ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. په ورته وخت کې د دې هېواد دولتي لګښتونه د تیرې ربعې له منفي ۱.۱ سلنې څخه په دریمه ربعه کې ۰.۳ سلنې ته لوړ شوي دي، حال دا چې عامه لګښتونه یې د تیرې ربعې له ۱.۶ سلنې څخه په دریمه ربعه کې ۰.۱ سلنې ته کموالی ښکاره کوي.

۹.۱ ګراف: د جاپان د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ (د موسم پر اساس)




سرچینه: د جاپان د کابینې دفتر

د ۲۰۱۶ کال په سپټمبر میاشت کې د جاپان د انفلاسیون کلنی نرخ منفي ۰.۵ سلنې ته رسیږي چې دا شمېره په تیره میاشت کې هم منفي ۰.۵ سلنه وه، حال دا چې جولای میاشت کې یې کچه منفي ۰.۴ سلنه ثبت شوې ده. د جاپان د انفلاسیون نرخ د کمیدو بنسټیز لامل د کورنې لګښت کموالی په ګوته شوی دی.

د جاپان د موسم پر اساس عیار شوی د بیکارۍ نرخ د ۲۰۱۶ کال جولای میاشت کې ۳ سلنه ؤ، حال دا چې دا نرخ په اګست میاشت کې ۳.۱ سلنې ته زیات شوی او په سپټمبر میاشت کې بیرته ۳ سلنې ته راکم شوی دی. په دې هېواد کې د بیکاره وګړو شمېر په جولای میاشت کې ۲.۰۳ میلیونه وګړو ته (د موسم پر بنسټ عیار شوی نه دی) رسیږي، خو په اګست میاشت کې یې شمېر ۲.۱۲ میلیونه وګړو ته زیات شوی، حال دا چې په سپټمبر میاشت کې د بېکاره وګړو شمېر ۲.۰۴ سلنې ته راکم شوی دی.

د جاپان د سوداګرۍ بیلانس د ۲۰۱۶ کال د سپټمبر میاشت کې ۴۹۳.۲ میلیارده ینه ډېریدنه ښکاره کوي چې صادرات یې ۵،۹۶۸.۶۵ میلیارده ین او واردات یې ۵،۴۷۵.۴۵ ین ته رسیدلي، حال دا چې د دې هېواد صادرات په اګست میاشت ۵،۳۱۶.۶۴ میلیارده ین او واردات یې ۵،۳۳۹.۵۶ میلیارده ین ته رسیږي چې دا شمېرې ۲۲.۹ میلیارده ینه سوداګریز کسر ښکاره کوي. په جولای میاشت کې د دې هېواد د صادراتو کچه ۵،۷۲۹.۱۶ میلیارده ین او د وارداتو کچه یې ۵،۲۱۸.۷۶ میلیارده ین ته رسېده چې ۵۱۰.۴ میلیارده ینه سوداګریزه ډېریدنه ښکاره کوي.


**۲.۱ راغوړېدلي اقتصادونه**

**۱.۲.۱ د چین اقتصاد**

د چین اقتصاد د ۱۳۹۵ مالي کال په دریمه ربعه کې ۱.۸ سلنه (ربعه په ربعه) وده کړې ده چې د تیرې ربعې د ۱.۹ سلنې ودې په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي. د چین کورني ناخالصه تولیدات د تیر کال د ورته مودې په پرتله د روان مالي کال

په درېمه ربعه کې ۰.۰۰۱ سلنه وده ښکاره کوي. د کلني نرخ پر بنسټ، د چين کورني ناخالصه توليداتو وده د ۱۳۹۵ مالي کال په درېمه ربعه کې ۶.۷ سلنې ته زياته شوې ده چې دا وده د روان کال په تيرو دوو ربعو کې هم په ورته سلنه کې پاتې شوې ده.

۱۰.۱ ګراف: د چين د کورني ناخالصه توليداتو د ودې نرخ
( ربعه په ربعه د سلنې بدلونونه)




سرچينه: د چين د احصائيې ملي اداره

د چين د انفلاسيون کلنی نرخ د ۲۰۱۶ کال سپټمبر مياشت کې ۱.۹ سلنه او اګست مياشت کې ۱.۳ سلنه ثبت شوی دی، حال دا چې دا نرخ په جولای مياشت کې ۱.۸ سلنه ؤ. د مياشتو پر بنسټ، د انفلاسيون نرخ په سپټمبر مياشت کې ۰.۷ سلنې ته لوړ شوی، حال دا چې په اګست او جولای مياشتو کې د انفلاسيون نرخ په ترتيب سره ۰.۱ او ۰.۲ سلنه ثبت شوی دی.


د چين د بيکارۍ نرخ د تيرې ربعې له ۴.۰۵ سلنې څخه د ۱۳۹۵ کال په درېمه ربعه کې ۴.۰۴ سلنې ته لږ څه راکم شوی دی. چين د روان کال د نهو مياشتو په اوږدو کې ۱۰.۶۷ ميليونه نوې دندې رامنځ ته کړې دي.

د چين صادرات د ۲۰۱۶ کال په سپټمبر مياشت کې ۱۸۴.۵۱ ميلیارده امريکايي ډالره او واردات يې ۱۴۲.۵۲ ميلیارده امريکايي ډالرو ته رسيږي چې ۴۱.۹۹ ميليارده امريکايي ډالره سوداګريزه ډېريدنه (۲۹.۶ سلنه کال په کال کميدنه) ښکاره کوي. په اګست مياشت کې د دې هېواد د صادراتو کچه ۱۹۰.۵۹ ميليارده امريکايي ډالره او د وارداتو کچه يې ۱۳۸.۵۴ ميليارده امريکايي ډالره ثبت شوې ده چې ۵۲.۰۵ ميلیارده امريکايي ډالره سوداګريزه ډېريدنه (۱۲.۸ سلنه کال په کال کميدنه) په ګوته کوي، حال دا چې د همدې کال په جولای مياشت کې د دې هېواد صادرات ۱۸۴.۷۳ ميلیارده امريکايي ډالره او واردات يې ۱۳۲.۴۳ ميلیارده امريکايي ډالرو ته رسيدلی چې ۵۲.۳۱ ميلیارده امريکايي ډالره سوداګريزه ډېريدنه ( ۲۴.۹ سلنه کال په کال زياتوالی) ښکاره کوي.

**۲.۲.۱ د هند اقتصاد**

اټکل کيده چې د هند کورني ناخالصه توليدات د ۱۳۹۵ مالي کال په دريمه ربعه کې ۷.۳ سلنې ته زيات شي، حال دا چې په تيره ربعه کې د کورني ناخالصه توليداتو د ودې نرخ ۷.۱ سلنه ثبت شوی ؤ. په درېمه ربعه کې د کال په کال پرتلې له مخې د کرنې، ځنګلونو او کب نيونې سکتورونو ۳.۳ سلنه وده کړې ده. په ورته وخت کې ودانيز سکتور ۳.۵ سلنه او د برېښنا، غازو، اوبو او د نورو خدمتونو سکتور ۳.۵ سلنه وده درلوده، حال دا چې د کان کيندنې سکتور ۱.۵ سلنه کموالی موندلی دی.

۱۱.۱ ګراف: د هند د کورني ناخالصه توليداتو د ودې نرخ
(کال په کال د بدلونونو سلنه)




سرچينه: د هند د احصائيې او د پروګرام د تطبيق وزارت

د هند د انفلاسيون نرخ د ۲۰۱۶ کال په سپټمبر مياشت کې ۴.۳۹ سلنه ثبت شوی ؤ، حال دا چې دا نرخ په تيره مياشت کې ۵.۰۵ سلنې ته رسيده. د دې هېواد د انفلاسيون نرخ د دوو (جولای ـ سپټمبر) د مياشتو په اوږدو کې ۰.۰۱۶۸ سلنه


کموالی ښکاره کوي.

د هند د صادراتو او وارداتو کچه د ۲۰۱۶ کال سپټمبر میاشت کې په ترتیب سره ۲۲.۶ میلیارده امریکایي ډالره او د ۳۰.۰ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسیږي چې ۷.۴ میلیارده امریکایي ډالره سوداګریزه کسر ښکاره کوي. په اګست میاشت کې د هند صادرات او واردات په ترتیب سره ۲۱.۵ میلیارده او ۲۸.۶ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسیده چې ۷.۱ میلیارده امریکایي ډالره سوداګریزه کسر ښکاره کوي. حال دا چې په جولای میاشت کې د دې هېواد صادرات او واردات د ۷.۳ میلیارده امریکایي ډالره سوداګریزه کسر په درلودلو سره ۲۱.۵ او ۲۸.۸ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسېده.

**۳.۲.۱ د ترکیې اقتصاد**

د ترکیې کورني ناخالصه تولیدات د تیر کال د ورته مودې په پرتله د ۱۳۹۵ مالي کال په درېمه ربعه کې ۱.۸ سلنې ته راکم شوي دي. د دې هېواد د کلیزې پر بنسټ عیار شوي کورني ناخالصه تولیدات د تیر کال د ورته ربعې په پرتله د روان مالي کال په درېمه ربعه کې ۰.۲ سلنه کموالی ښکاره کوي، حال دا چې د دې هېواد د موسم او کلیزې پربنسټ عیار شوي کورني ناخالصه تولیدات د تیرې ربعې په پرتله د ۱۳۹۵ مالي کال په درېمه ربعه کې ۲.۷ سلنه کموالی په ګوته کوي.

۱۲.۱ ګراف: د ترکیې د کورني ناخالصه تولیداتو د ودې نرخ
( کال په کال د سلنې بدلونونه)




سرچینه: د ترکیې د احصائیې انسټیټوټ

د ترکیې د مصرفي توکو د بیې شاخص کلنی نرخ د ۲۰۱۶ کال سپټمبر میاشت کې ۷.۲۸ سلنې ته لوړ شوی دی، حال دا چې د جولای او اګسټ میاشتو کې د انفلاسیون نرخ په ترتیب سره ۸.۷۹ سلنه او ۸.۰۵ سلنه ثبت شوې ؤ. د میاشتو پر بنسټ، د ۲۰۱۶ کال په سپټمبر میاشت کې د انفلانسیون نرخ ۰.۱۸ سلنې ته رسیده، حال دا چې په جولای او اګست میاشتو کې دا نرخ په ترتیب سره ۱.۱۶ سلنه او منفي ۰.۲۹ سلنه ثبت شوی ؤ.

د ترکیې د موسم پر بنسټ عیار شوی د بیکارۍ نرخ د ۲۰۱۶ کال د سپټمبر میاشت کې ۱۱.۳ سلنې ته رسیږي چې د اګست د میاشتې د ۱۱.۴ سلنې په پرتله ۰.۰۰۱ سلنه کموالی ښکاره کوي. همدا ډول د دې هېواد د بیکارۍ نرخ د جولای د میاشتې د ۱۱.۲ سلنې په پرتله د ارزونې لاندې ربعه کې ۰.۰۰۱ سلنه زیاتوالی ښکاره کوی.

د ترکیې سوداګریز کسر په سپټمبر میاشت کې ۴.۳۶ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته دورې په پرتله ۱۴.۱ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي، حال دا چې د ۲۰۱۶ کال په اګست میاشت کې د دې هېواد سوداګریز کسر ۴.۶۹ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسیده چې د تیر کال د ورته میاشتې په پرتله ۵.۳ سلنه کموالی ښکاره کوي. په ورته وخت کې د ۲۰۱۶ کال جولای کې د دې هېواد سوداګریز کسر ۴.۷۹ میلیارده امریکایي ډالره ؤ چې د تیر کال د ورته دورې په پرتله ۳۲.۵ سلنه د پام وړ کموالی ښیي.

# ۲

# د پانګې او پولي بازار بدلونونه

## ۲
## د بانکي او پولي بازار بدلونونه

د بانکي او پولي بازار د بدلونونو څېړنې د ۱۳۹۵ مالي کال په درېمه ربعه کې د اوږد مهاله پوروونو د اسانتیا پروګرام، د نقدینګۍ حجم، خالصه نړیوالي زیرمې، د اسعارو د مبادلې نرخونه او همدا ډول د ازاد بازار عملیات او په هېواد کې د سیالیت شرایط تر څېړنې لاندې نیسي.

په ګردښت کې پیسې (CIC) او پولي زېرمې (RM) د روان مالي کال د لومړۍ او دویمې ربعې په اوږدو کې له ټاکل شوي حد څخه ټیټې شوې، حال دا چې حقیقي په ګردښت کې پیسې او پولي زېرمې د ۱۳۹۵ مالي کال د درېمې ربعې په اوږدو کې له ټاکل شوي حد څخه لوړې شوې دي او په ترتیب سره ۷.۹ سلنه او ۷.۴ سلنه مثبته وده یې ثبت کړې ده. د درېمې ربعې په پای کې پولي زېرمې (د افغانستان بانک د عملیاتي هدف) په توګه ۲۳۹،۷۲۷ میلیونه افغانۍ ته رسیږي، حال دا چې په ګردښت کې پیسې د افغانستان بانک د ضمني هدف په توګه ۲۱۵،۰۲۲ میلیونه افغانۍ ته رسیدې.

د محدوده مفهوم په توګه پیسې(M1) د ارزونې لاندې ربعې په پای کې ۳۹۲،۱۱۶ میلیونه افغانۍ ته رسیږي چې ۳.۱۱ سلنه وده یې ( ربعه په ربعه) ثبت کړې ده. د پراخه مفهوم په توګه پیسې (M2) هم ورته بهیر درلودلی دی چې ۳.۷۲ سلنه (ربعه په ربعه) وده ښکار کوي او کچه یې د ۱۳۹۵ مالي کال د درېمې ربعې په پای کې ۴۲۴،۳۱۱ میلیونه افغانۍ ته رسیږي. د افغانستان بانک خالصه نړیواله زېرمې (NIR) د ۱۳۹۵ مالي کال د درېمې ربعې په پای کې د ۷ سلنه زیاتوالي په درلودلو سره ۶،۸۶۸.۶۵ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي.

د ۱۳۹۵ مالي کال د درېمې ربعې په اوږدو کې د امریکایي ډالرو پر وړاندې د افغانۍ ارزښت ۳.۳۵ سلنې ته لوړ شوی دی.

د افغانستان بانک د ۱۳۹۵ مالي کال د درېمې ربعې په پای کې په ټولیزه توګه ۴۱۸.۰۴ میلیونه امریکایي ډالره لیلام کړې دي څو په بازار کې د سیالیت د مدیریت ترڅنګ د اسعارو په وړاندې د افغانۍ بې ځایه او له حده زیات نوسانات راکم کړي. د پانګه ایزو پاڼو ټولیزه ناترلاسه شوې کچه د ارزونې لاندې مودې په پای کې ۳۱.۱۰۷ میلیارده افغانۍ ته رسیږي.

### ۱.۲ پولي پروګرام

د پولي زېرمو (RM) کره مبلغ چې د کورنۍ بیو د ثبات او د افغانستان بانک د لومړنۍ موخو په ترلاسه کولو کې مرسته کوي، د پیسو د مقداري تیورۍ په کارولو سره ټاکل کیږي. له همدې کبله د پولي زیرمو او په ګردښت کې د پیسو د ودې لپاره کلني هدفونه د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې د اقتصادي ودې او انفلاسیون د تمو پر بنسټ ټاکل کیږي. ۱.۲ او ۲.۲ ګرافونه د افغانستان بانک د هدف په پام کې نیولو سره په ګردښت کې د پیسو او پولي زېرمو بهیر ښکاره کوي.

د روان مالي کال د لومړۍ او دویمې ربعې په اوږدو کې پولي زیرمې او په ګردښت کې پیسې له ټاکل شوي هدف څخه راښکته شوې دي، حال دا چې دې دوه کټګوریو د ۱۳۹۵ مالي کال په درېمه ربعه کې مثبت وده ثبت کړې ده او له ټاکل شوي هدف څخه لوړې شوې دي.


په ګرښت کې پیسې او پولي زېرمو د ارزونې لاندې ربعې په

اوړدو کې په ترتیب سره ۷.۹ او ۷.۴ سلنه وده ثبت کړې ده.
په ګردښت کې پیسې د ۲۰۱۶ کال د سپټمبر په ۲۱ نېټه ۲۱۵،۰۲۲.۸۵ میلیونه افغانۍ ته رسیږي چې دا شمېره له ټاکل شوي هدف څخه ۵،۰۲۲.۸۵ میلیونه افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي. په ورته وخت کې پولي زېرمې هم د ۱۳۹۵ مالي کال په دریمه ربعه کې ۲۳۹،۷۲۷.۳۴ میلیونه افغانۍ ته رسیږي چې دا شمېره هم د دریمې ربعې په پای کې له ټاکل شوي حد څخه لوړه ثبت شوې ده.

همدا ډول د افغانستان بانک په دریمه ربعه کې د نقدینه ګۍ او د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د افغانۍ د اسمي نرخ د زیاتو نوساناتو د مخنیوی په موخه په دوامداره توګه د افغانۍ د کچې د کمولو بهیر تر لاس لاندې نیولی دی.


۱.۲ او ۲.۲ ګرافونه د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې په ګردښت کې د پیسو او د پولي زیرمو کچې وړاندې کوي.

۱.۲ ګراف: په ګردښت کې پیسې، ۱۳۹۵ مالي کال دریمه ربعه




سرچینه: د پولي سیاست لوی آمریت، د افغانستان بانک

۲.۲ ګراف: پولي زیرمې، ۱۳۹۵ مالي کال دریمه ربعه




سرچینه: د پولي سیاست لوی آمریت، د افغانستان بانک

**۲.۲ د نقدینګۍ حجم**

د پولي سروې د معلوماتو له مخې چې په ۱.۲ جدول کې وړاندې کیږي. د پراخه مفهوم په توګه پیسې (M2) د تیرې ربعې له ۱۴،۸۱۴ میلیونه افغانۍ څخه په ارزونې لاندې ربعه کې ۱۵،۲۰۶ میلیونه افغانۍ ته زیاتې شوي دي چې د ۱۳۹۵ مالي کال د دویمې ربعې له ۳.۸ سلنې څخه په دریمه ربعه کې ۳.۷۲ سلنې ته زیاتوالی ښکاره کوي.

د پراخه مفهوم په توګه د پیسو (M2) د زیاتیدو بنسټیز لامل د ارزونې لاندې ربعه کې د پیسه وزمې ۱۱.۷۲ سلنه زیاتوالی ښودل شوی، حال دا چې په تېره ربعه کې پیسه وزمه ۴.۴ سلنه وده ثبت کړې ده.

د محدوده مفهوم په توګه پیسې (M1) د ارزونې لاندې ربعې په پای کې ۱۱،۸۳۲ میلیونه افغانۍ ته رسیږي چې د دویمې ربعې د ۳.۷ سلنې ودې په پرتله ۳.۱۱ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

هغه پیسې چې د امانت اېښودونکو شرکتونو څخه بهر دي یا په ګردښت کې پیسې (CIC) د محدوده مفهوم په توګه پیسو (M1) تر ټولو ستره برخه (۵۰ سلنه) جوړوي چې د تیرې ربعې د ۴.۷۴ سلنې په پرتله په روانه ربعه کې ۷.۰۷ سلنې ته زیاتوالی په ګوته کوي.


جاري امانتونه چې د محدوده مفهوم په توګه پیسو (M1) بله ستره برخه جوړوي، د ۱۳۹۵ مالي کال د دویمې ربعې د ۲.۷ سلنې ودې په پرتله په دریمه ربعه کې ۰.۹۵ سلنه منفي وده تجربه کړې ده.

د ۳.۲ ګراف ښکاره کوي چې د پراخه مفهوم په توګه پیسې (M2) د ونډې په توګه په ګردښت کې پیسې (CIC) د دویمې ربعې له ۴۷.۰۷ سلنې څخه د ۱۳۹۵ مالي کال په دریمه ربعه کې ۴۸.۵۹ سلنې ته زیاتې شوي دي. د پراخه

مفهوم په توګه پیسې (M2) د ونډې په توګه بانکي امانتونه د تېرې ربعې له ۴۵.۸۹ سلنې څخه د ۱۳۹۵ کال په درېمه ربعه کې ۴۳.۸۲ سلنې ته راکم شوي دي (۴.۲ ګراف). د M2 د ونډې په توګه پیسه وزمه چې په ۵.۲ ګراف کې ښودل شوی، د تېرې ربعې له ۷.۰۴ سلنې څخه لوړوالی ښکاره کوي. د پیسه وزمه د زیاتیدو اصلي لامل د اوږدمهاله افغاني امانتونه ښودل شوی چې د ۱۳۹۵ مالي کال د دویمې ربعې له ۲.۱۹ سلنې څخه د ارزوني لاندې ربعې په پای کې ۲.۹۷ سلنې ته زیاتوالی په ګوته کوي.


د ۳.۲، ۴.۲ او ۵.۲ ګرافونه د پولي تراکم او د هغه د اجزاوو په اړه ځینې معلومات وړاندې کوي.

۳.۲ ګراف: د M2 د ونډې په توګه په ګردښت کې پیسې





سرچینه: د پولي سیاست لوی آمریت، د افغانستان بانک

۴.۲ ګراف: د M2 د ونډې په توګه جاري امانتونه، په سلنه




سرچینه: د پولي سیاست لوی آمریت، د افغانستان بانک

۵.۲ ګراف: د M2 د ونډې په توګه پیسه وزمه (٪)




سرچینه: د پولي سیاست لوی آمریت، د افغانستان بانک

**۱.۲ جدول: د نقدینګۍ حجم، ۱۳۹۵ مالي کال دریمه ربعه**

| په میلیون افغانۍ | د ۱۳۹۵ لومړۍ ربعه | د ۱۳۹۵ دویمه ربعه | د ربعې په ربعې بدلونونه | توپیر | د ۱۳۹۵ دریمه ربعه | د ربعې په ربعې بدلونونه | توپیر |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | مبلغ | مبلغ | سلنه | | مبلغ | سلنه | |
| ۱- خالصه بهرنۍ شتمنۍ | 548,969 | 580,358 | 5.7 % | 31,389 | 572,447 | - 1.36 % | -7,912 |
| (الف) بهرنۍ شتمنۍ | 581,123 | 612,311 | 5.4 % | 31,189 | 603,065 | -1.51% | -9,246 |
| د افغانستان بانک د اسعارو زیرمې | 477,665 | 512,160 | 7.2 % | 34,494 | 500,916 | - 2.20 % | -11,244 |
| سره زر | 51,513 | 51,513 | 0.0 % | 0 | 62,246 | 20.84 % | 10,733 |
| نور | 426,152 | 460,647 | 8.1 % | 34,494 | 438,670 | - 4.77 % | -21,977 |
| نورې بهرنۍ شتمنۍ | 103,457 | 100,152 | - 3.2 % | - 3,306 | 102,149 | 1.99 % | 1,998 |
| (ب) بهرنۍ پورونې | 32,153 | 31,953 | - 0.6 % | - 200 | 30,618 | - 4.18 % | - 1,335 |
| ۲. خالصه کورنۍ شتمنۍ | -154,485 | -170,947 | 10.7 % | - 16,462 | - 147,791 | -13.55 % | 23,156 |
| (الف) خالص کورنی کریډټ | - 24,097 | - 56,357 | 133.9 % | - 32,261 | - 41,156 | - 26.97 % | 15,202 |
| د غیر مالي عامه سکتور لپاره خالص کریډټ | - 72,640 | -106,225 | 46.2 % | - 33,584 | - 86,999 | - 18.10 % | 19,225 |
| د مرکزي حکومت لپاره خالص کریډټ | - 72,735 | -106,336 | 46.2 % | - 33,602 | - 87,110 | - 18.08 % | 19,226 |
| د مرکزي حکومت لپاره کریډټ | 61,164 | 74,700 | 22.1 % | 13,536 | 72,658 | - 2.73 % | - 2,042 |
| د مرکزي حکومت لپاره پورونې | 133,898 | 181,036 | 35.2 % | 47,138 | 159,768 | -11.75 % | - 21,268 |
| د مرکزي او سیمه ایز حکومت لپاره خالص کریډټ | 0.000 | 0.000 | 0.0 % | 0 | 0.000 | 0.00 % | 0 |
| د عامه غیر مالي شرکتونو لپاره خالص کریډټ | 94 | 112 | 18.4 % | 17 | 111.048 | - 0.59 % | -1 |
| د خصوصي سکتور لپاره کریډټ | 49,975 | 51,250.50 | 2.6 % | 1,276 | 47,162.849 | - 7.98 % | - 4,088 |
| د نورو مالي شرکتونو لپاره خالص کریډټ | - 1,431 | -1,383.33 | - 3.3 % | 47 | - 1,319.38 | - 4.62 % | 64 |
| (ب) د پانګې حسابونه | 142,574 | 138,931 | - 2.6 % | -3,643 | 133,963 | - 3.58% | - 4,968 |
| (ت) نور خالص اقلام | 12,185 | 24,342 | 99.8 % | 12,156 | 27,328 | 12.27 % | 2,987 |
| ۳- د پراخه مفهوم په توګه پیسې | 394,290 | 409,104 | 3.8% | 14,814 | 424,311 | 3.72% | 15,206 |
| د محدوده مفهوم په توګه پیسې | 366,679 | 380,284 | 3.7% | 13,605 | 392,116 | 3.11% | 11,832 |
| په ګردښت کې پیسې (هغه پیسې چې د امانات اینبودونکو شرکتونو څخه بهر دي) | 183,848 | 192,565 | 4.7 % | 8,716 | 206,175 | 7.07% | 13,610 |
| جاري امانتونه | 182,831 | 187,720 | 2.7 % | 4,889 | 185,941 | - 0.95 % | - 1,779 |
| نور امانتونه (پیسه وزمه) | 27,611 | 28,820 | 4.4 % | 1,209 | 32,195 | 11.71 % | 3,375 |
| په افغانۍ | 8,827 | 8,957 | 1.5 % | 130 | 12,614 | 40.82 % | 3,656 |
| په بهرنیو اسعارو | 18,784 | 19,863 | 5.7 % | 1,079 | 19,581 | - 1.42 % | - 282 |

سرچینه: پولي سروې، د پولي سیاست لوی آمریت، د افغانستان بانک


**۳.۲ خالصه نړيوالې زيرمې**

خالصه نړيوالې زيرمې (NIR) د روان مالي کال د دربو ربعو په اوږدو کې ۴۴۸.۸۵ ميليونه امريکايي ډالره زياتې شوي دي چې د ۱۳۹۵ مالي کال په لومړيو دربو مياشتو کې ۷ سلنه زياتوالی ښکاره کوي. د ۱۳۹۵ مالي کال د درېمې ربعې لپاره د خالصه نړيواله زيرمو هدف ۶،۶۱۱.۱۲ ميليونه امريکايي ډالره ټاکل شوی دی، حال دا چې د خالصه نړيوالو زېرمو حقيقي کچه ۶،۸۶۸.۶۵ ميليونه امريکايي ډالره ثبت شوي چې له ټاکل شوي کچې څخه لوړه ده.

د دريمې ربعې په پای کې د بازار د مبادلې د نرخ په پام کې نيولو سره، خالصه نړيواله زېرمې ۴۵۷.۰۶۳ ميلیارده افغانۍ ته رسيږي چې د پراخه مفهوم په توګه پيسو (M2) ۱۹۰.۶۶ سلنه جوړوي.

۶.۲ ګراف د ۱۳۹۵ مالي کال په درېمه ربعه کې حقيقي خالصه نړيواله زيرمې او د هغه د هدف بهير وړاندې کوي.

۶.۲ ګراف: خالصه نړيوالې زيرمې، ۱۳۹۵ مالي کال دريمه ربعه




سرچينه: پولي سروې، د پولي سياست لوی آمريت، د افغانستان بانک


**۴. د اسعارو د مبادلې بازار**

د ملي پيسو (افغانۍ) ارزښت د روان مالي کال د دويمې ربعې د پای په پرتله په درېمه ربعه کې ۳.۳۵ سلنه د پام وړ زياتوالی تجربه کړی دی. د ارزونې لاندې مودې په اوږدو کې د امريکايي ډالرو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې نرخ ټيټېدونکی بهير درلودلی چې له امله يې يو امريکايي ډالر لږ تر لږه ۶۵.۶۲ افغانۍ او حد اکثر ۶۹.۰۱ افغانۍ مبادله کېدې چې دواړه حد اکثر او حد اقل شمېرې له منځني حد څخه کوچنی انحراف لري چې ۶۷.۷۷ ته رسيږي.

د ۱۳۹۵ مالي کال د درېمې ربعې په پای کې يو امريکايي ډالر په ۶۶.۵۴ افغانۍ مبادله کېده.

د ۱۳۹۵ مالي کال په درېمه ربعه کې د امريکايي ډالرو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې اوسط نرخ ورځنی شرحه په لاندني ګراف کې ښودل شوی دی.

۷.۲ ګراف: د امريکايي ډالرو په وړاندې د افغانۍ د مبادلې نرخ، ۱۳۹۵ مالي کال دريمه ربعه




سرچينه: پولي سروې، د پولي سياست لوی آمريت، د افغانستان بانک

**۵. د ازاد بازار عمليات او د سياليت شرايط**

**۱.۵.۲ د اسعارو ليلام**

د ۱۳۹۵ مالي کال د دريمې ربعې په اوږدو کې د افغانستان بانک په ټوليزه توګه ۴۱۸.۰۴ ميليونه امريکايي ډالره ليلام کړي دي، په داسې حال کې چې په همدې موده کې ټوليزه تقاضا ۶۰۸.۹۹ ميليونه امريکايي ډالره وه. په اوسط ډول په هر ليلام کې ۴۷ داوطلبانو ګډون کړی دی او له دې ډلې

۳۱ داوطلبان ګټوونکي اعلان شوي دي چې اوسط مبلغ یې ۱۱.۶۱ میلیونه امریکايي ډالرو ته رسیږي. حال دا چې په تېره ربعه کې ټولیز ورکړل شوی مبلغ ۴۶۴.۲۰ میلیونه امریکايي ډالره و او ټولیزه تقاضا ۶۵۳.۴۵ میلیون امریکايي ډالرو ته رسېده. په تیره ربعه کې په اوسط ډول په هر لیلام کې ۴۸ داوطلبانو ګډون کړی ؤ چې له دې ډلې ۳۳ داوطلبان ګټوونکي اعلان شوي چې په اوسط ډول په هر یو باندې ۱۲.۸۹ میلیونه امریکايي ډالره پلورل شوي ؤ.

### ۲.۵.۲ د پانګه ایزو پاڼو لیلام


د ۱۳۹۵ مالي کال د دريمې ربعې په پاي کې د پانګه ایزو پاڼو ټولیزه ناترلاسه شوې کچه ۳۱.۱۰۷ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ۱۳۹۵ مالي کال د دويمې ربعې په پاي کې د ۳۲.۲۶۱ میلیارده افغانۍ په پرتله ۳.۵۷ سلنه کموالی ښکاره کوي. د بیه لرونکو پاڼو په کچه کې د دې زیاتوالي عمده لامل د بانکي سکتور لخوا د افغانۍ د تقاضا لپاره زیاتوالی دی.

په ورته وخت کې د ارزونې لاندې موده کې د ۷ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو نا ترلاسه شوې کچه صفر او د ۲۸ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو نا ترلاسه شوې کچه ۱.۸ میلیارده افغانۍ ته رسیږي، حال دا چې د ۹۱ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو نا ترلاسه شوې کچه ۱.۷ میلیارده افغانۍ ته رسیده. د ۱۸۲ ورځنیو پاڼو نا ترلاسه شوې کچه ۶.۴۳۴ میلیارده افغانۍ او د ۳۶۴ ورځنیو بیه لرونکو پاڼو نا ترلاسه شوې کچه ۲۱.۰۷۳ میلیارده افغانۍ ته رسیږي.

همدا ډول د ارزونې لاندې مودې په پای کې، د ۷ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو د عیار شوې ټکټانې اوسط نرخ ۱.۸ سلنه او د ۲۸ ورځنیو بیه لرونکو پاڼو نرخ ۳.۵۳ سلنه ؤ، په داسې حال کې چې د ۹۱ ورځنیو بیه لرونکو پاڼو نرخ ۴.۳۳ سلنه او د ۱۸۲ ورځنیو بیه لرونکو پاڼو نرخ ۵.۱۵ سلنې ته رسیږي او د ۳۶۴ ورځنیو پاڼو د ټکټانې نرخ ۶.۶۶ سلنه ثبت شوی دی.

۸.۲ ګراف د ۱۳۹۵ مالي کال د دريمې ربعې په اوږدو کې د ټولیزه سررسید مودو نا ترلاسه شوو کچو د اجزاوو وېشنه ښکاره کوي.

۸.۲ ګراف: ناترلاسه شوې پانګه ایزې پاڼې، (په میلیون افغانۍ)
۱۳۹۵ مالي کال دریمه ربعه




سرچینه: د بازار عملیات لوی آمریت، د افغانستان بانک

### ۳.۵.۲ الزامي او اضافي زیرمې

بانکونه اړ دي چې د خپلو ټولو امانتونو ۸ سلنه د افغانستان بانک سره د الزامي زیرمې په توګه وساتي. د افغانستان بانک د ۲۰۱۵ کال د جون د ۲۸ نېټې وروسته د الزامي زیرمو لپاره د ټکټانې ورکړه ودرولې ده.

د دې لپاره چې بانکونو ته اسانتیاوې برابرې شي چې خپل سیالیت په سمه توګه مدیریت کړي او ورته فرصت ورکړل شي چې د پانګه ایزو پاڼو ترڅنګ په خپلو اضافي زېرمو باندې هم پانګونې وکړي، د افغانستان بانک په ۱۳۸۵ کال ( ۲۰۰۷-۲۰۰۶) کې **د شپې دايمي اسانتياوې** ( Overnight Standing Facilities) معرفي کړې دي. د ۱۳۹۵ مالي کال کې يادو اسانتياوو ته ورکړل شوې ټکټانه ۱.۰۷۷ میلیونه افغانۍ ته رسیږي.

**د شپې پور اسانتیا:** د دې اسانتیا کارونه، بانکونو ته په هغه صورت کې اجازه ورکوي چې په خپل لنډ مهاله سیالیت کې له کمښت سره مخ شي او اړتیا ولري چې د شپې په اساس د افغانستان بانک څخه په افغانی پور ترلاسه کړي. کوم مبلغ چې له بانکونو څخه د دې اسانتیا په بدل کې ګرځول کیږي د تیرو ۲۸ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو د لیلام له مبلغ څخه ۳.۵ سلنه پورته دی. دا پور اخیستنه د پانګه ایزو پاڼو د نا ترلاسه شوې مبلغ په مرسته تضمین کیږي. د ټکټانې د نرخ د دې ډول لوړوالي اصلي لامل د بانکونو ترمنځ د پور ورکړې لپاره د بانکونو هڅول دي. د ارزونې لاندې مودې په اوږدو کې هیڅ بانک د نقدینګی کموالي سره مخ شوی نه دی.

# ۳

# د انفلاسیون بهیر او لید لوری

## د انفلاسیون بهیر او لید لوری

د توکو نړیواله بیې د ۱۳۹۵ کال په دریمه ربعه کې زیاتې شوي دي چې اصلي لامل یې په دواړو انرژۍ او غیر انرژۍ برخو کې د بیو زیاتوالی په ګوته شوی دی. د انرژۍ بیې د ۱۳۹۵ مالي کال په دریمه ربعه کې له ۳.۰ سلنې څخه ډېروالی موندلی دی چې عمده لاملونه یې د وارداتو لپاره زیاته تقاضا او د هوا د ککړتیا د کمولو په موخه د چین لخوا تولیدي محدودیتونه ښودل شوي دي. سره له دې چې د اومه نفتو بیې د OPEC سازمان لخوا د نفتو د تولیدي ډېریدنې او د ایران او سعودي عربستان لخوا د تولیداتو زیاتوالي له امله راکمې شوي، خو د سپتمبر میاشت په پای کې وروسته له هغې چې OPEC سازمان اعلان وکړ چې تولیدات راکموي، د نفتو بیې لږ څه لوړې شوي دي.

همدا ډول، د غیر انرژۍ توکو د بیو د زیاتیدو اصلي لامل په ټولیزه توګه تولیدي عواملو پورې اړه لري. په دې کټګورۍ کې د فلزونو بیې ۴ سلنه زیاتې شوي دي. د قهوې بیې هم د ارزونې لاندې دوره کې لوړې شوي چې عمده لامل یې د قهوې په تولیدوونکو هېوادونو کې د لږو اورښتونو له امله د تولید کموالی ښودل شوی دی. له بلې خوا، د حبوباتو بیې د زیات تولید له کبله راټیټې شوي دي. په سویلي آسیا کې د بیو عمومي کچه ۵ سلنې ته زیاته شوې ده. په لومړیو دوو ربعو کې سویلي آسیا د نړۍ په کچه تر ټولو ټیټ انفلاسیوني نرخ تجربه کړی دی، خو په دریمه ربعه کې بیا انفلاسیون لوړیدونکی بهیر درلوده. په دریمه ربعه کې د انفلاسیون نرخ د لوړیدو ستر لامل په هند او بنګله دیش کې د انفلاسیون د نرخ زیاتوالی په ګوته شوی دی. په هند کې د انفلاسیون د لوړیدو ستر لامل د خوراکي توکو د بیو زیاتوالی او تر یوه بریده پورې د نړیواله توکو د بیو زیاتوالی ښودل شوی دی. په ورته وخت کې په بنګله دیش کې د انفلاسیون د زیاتیدو اصلي لامل د دولتي معاشونو او د مالیې د نوي زیات شوي ارزښت زیاتوالی په ګوته شوی دی.[1]

### ۱.۳ په افغانستان کې د مصرفي توکو بیې

په افغانستان کې د ملي انفلاسیون په اړه وروستي معلومات چې د احصائیې د مرکزي ادارې لخوا خپاره شوي، ښکاره کوي چې د ۲۰۱۶ کال سپټمبر میاشت کې د انفلاسیون نرخ زیات شوی دی. د معلوماتو په پام کې نیولو سره د عمومي انفلاسیون اوسط ۶.۸۶ سلنې ته رسیږي چې د دویمې ربعې د ۵.۹۶ سلنې او د تېر کال د دویمې ربعې د منفي ۱.۹ سلنې په پرتله لوړوالی ښکاره کوي. د یادونې وړ ده چې دا بیې د دریمې ربعې په لومړی میاشت کې کمې وې، خو اوس هم د تېرې ربعې د انفلاسیون له اوسط نرخ څخه لوړ دی. انفلاسیون د ځینو بهرنیو او کورنیو لاملونو له کبله لوړ شوی دی. لومړی، سره له دې چې په دریمه ربعه کې د ډېرو توکو نړیواله بیې لوړې پاتې شوي دي، خو د اومه نفتو او حبوباتو په بیه کې لږ څه کموالی راغلی دی. دویم، د کډوالو راستنېدل هم په دریمه ربعه کې د انفلاسیون په لوړوالي کې مهم رول لوبولی دی. شاوخوا ۵۴۰،۰۰۰ کډوال سږ کال له پاکستان او ایران څخه راستانه شوي چې ډېری برخه یې د جولای میاشتې راهیسې راستانه شوي دي. په پای کې، له پاکستان سره د پولې په سر شخړه هم په افغانستان کې د انفلاسیون د لوړوالي لامل شوی دی. دغو ستونزو د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ کچه راکمه کړې ده چې په پایله کې یې له پاکستان څخه د وارداتي توکو بیې لوړې

---

۱ د نړیوال بانک درې میاشتنی راپور، د ۲۰۱۶ اکتوبر.
نړیوال بانک، د سهیلي آسیا اقتصادي فوکس، د ۲۰۱۶ منی

شوي دي.


د ربعې په ربعې بدلونونو د ارزونې له مخې عمومي انفلاسیون له ۰.۹ سلنې څخه ۱.۶ سلنې ته لوړ شوی دی. د کابل د مصرفي توکو د بیو د شاخص پر بنسټ د عمومي مصرفي توکو د بیې شاخص په دریمه ربعه کې ۶.۳ سلنې ته رسیږي چې د تېرې ربعې د ۶.۴ سلنې په پرتله کموالی، خو د تېر کال د ورته مودې د ۲.۵ سلنه دیفلاسیوني نرخ په پرتله لوړوالی ښکاره کوي.

### ۱.۱.۳ د ملي عمومي مصرفي توکو د بیو د شاخص بدلونونه

#### ۱.۱.۱.۳ کلني بدلونونه

د ملي عمومي مصرفي توکو د بیو شاخص د ۲۰۱۶ کال په سپټمبر میاشت کې زیات شوی دی. د شمېرو په پام کې نیولو سره، انفلاسیون چې د کال په کال محاسبې له مخې سنجش کیږي په دریمه ربعه کې ۶.۹ سلنې ته زیات شوی، حال دا چې په تېره ربعه کې ۵.۹۶ سلنه او د تېر کال په ورته موده کې منفي ۱.۹ سلنه ثبت شوی ؤ.

۱.۳. ګراف: د ملي مصرفي توکو د بیو شاخص (کال په کال)




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ پولي سیاست لوی آمریت، د افغانستان بانک

همدا ډول د دریمې ربعې په اوږدو کې د بیو زیاتوالي په دواړو خوراکي توکو او ناخوراکي توکو پورې اړه لري. د خوراکي توکو انفلاسیون د څلورو کلونو راهیسې د ۲۰۱۶ کال په سپټمبر میاشت کې تر ټولو لوړ نرخ (۸.۳ سلنه)ثبت کړی دی چې د ۲۰۱۶ کال د جولای میاشتې د ۶.۸ سلنې او د تېر کال د ورته ربعې د منفي ۲.۶ سلنې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي. په دې شاخص کې د انفلاسیون د اغېزې بنسټیز لامل د غوښې (۱۱.۳ سلنه)، غوړیو او شحمیاتو (۹.۸ سلنه)، میوې (۱۰.۰ سلنه) او سبزیجاتو د بیو (۱۳.۳ سلنه) زیاتوالی په ګوته شوی دی.

د ناخوراکي توکو فرعي شاخص د جولای د میاشتې له ۵.۰ سلنې څخه په سپټمبر میاشت کې (۵.۲ سلنه) لږ څه زیاتوالی موندلی، خو د ۲۰۱۵ کال په دریمه ربعه کې د ۱.۲ سلنې دیفلاسیوني نرخ څخه د پام وړ زیاتوالی په ګوته کوي چې د دې زیاتوالي عمده لامل د کور جوړونې او روغتیا په شاخصونو کې په ترتیب سره ۳.۴ سلنه او ۹.۳ سلنه زیاتوالی په ګوته شوی دی.

۱.۳ جدول: د ملي عمومي مصرفي توکو د بیو د شاخص د اجزاوو وېشنه
(د کال له مخې د بدلونونو سلنه)
(د ۲۰۱۱ کال مارچ میاشت = ۱۰۰)

| | وزن | ۱۳۹۳ | | | | ۱۳۹۴ | | | | ۱۳۹۵ | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | لومړی ربعه | دوهمه ربعه | دریمه ربعه | څلورمه ربعه | لومړی ربعه | دوهمه ربعه | دریمه ربعه | څلورمه ربعه | لومړی ربعه | دوهمه ربعه | دریمه ربعه |
| **ټولیز شاخص** | **100.0** | **5.6** | **5.6** | **4.2** | **1.3** | **- 0.6** | **- 2.8** | **- 1.9** | **0.1** | **3.8** | **5.96** | **6.9** |
| **خوراکي توکي او څښاک** | **52.0** | **10.0** | **9.7** | **6.8** | **2.9** | **- 0.6** | **- 3.3** | **- 2.6** | **- 0.3** | **4.0** | **6.8** | **8.3** |
| ډوډۍ او حبوبات | 17.7 | 9.5 | 11.4 | 11.0 | 8.0 | 2.1 | - 3.4 | - 2.3 | 0.5 | 5.0 | 7.6 | 4.0 |
| غوښه | 7.2 | 2.6 | 3.4 | 3.7 | 3.4 | 2.4 | - 0.2 | - 1.5 | 0.8 | 3.2 | 6.7 | 11.3 |
| شیدې، پنیر او هګۍ | 4.8 | 6.5 | 6.1 | 2.1 | 3.4 | 1.4 | 1.0 | 1.5 | 1.3 | 2.4 | 3.1 | 2.2 |
| غوړي او شحمیات | 4.0 | 1.8 | 1.7 | 0.9 | - 1.7 | - 6.2 | - 7.2 | - 6.5 | - 6.6 | - 1.9 | 3.9 | 9.8 |
| تازه او وچه مېوه | 4.8 | 8.5 | 9.9 | 9.2 | 11.5 | 6.6 | 7.9 | 2.0 | 0.5 | 3.6 | 4.9 | 10.0 |
| سبزیجات | 7.9 | 30.3 | 24.3 | 7.1 | - 9.6 | -11.7 | -15.9 | -12.4 | - 6.3 | 1.9 | 4.2 | 13.3 |
| بوره او خواږه توکي | 2.9 | 2.5 | -1.6 | -0.2 | - 1.0 | - 1.1 | 0.5 | 0.4 | 6.0 | 11.1 | 19.9 | 24.1 |
| اچار، ترشي او... | 0.9 | 10.5 | 9.4 | 12.0 | 5.9 | 1.0 | -1.0 | 0.3 | 6.6 | 13.3 | 16.9 | 20.0 |
| غیر الکولي مشروبات | 1.8 | 7.4 | 3.7 | 4.0 | 2.1 | 1.3 | 3.1 | 4.6 | 5.3 | 7.9 | 7.3 | 6.1 |
| **نا خوراکي توکي** | **48.0** | **1.1** | **1.4** | **1.4** | **-0.5** | **-0.5** | **-2.2** | **-1.2** | **0.5** | **3.7** | **5.0** | **5.2** |
| تمباکو | 0.4 | 8.4 | 3.0 | 0.6 | 6.7 | 7.2 | 12.8 | 25.0 | 22.4 | 21.8 | 12.8 | 13.3 |
| پوښاک | 7.0 | 8.3 | 8.1 | 6.9 | 4.2 | 2.9 | 2.0 | 6.6 | 8.6 | 9.9 | 9.1 | 7.8 |
| کور جوړونه (استوګنځی) | 20.7 | -8.5 | -9.1 | -8.8 | -9.7 | -4.6 | -7.0 | -7.4 | -6.6 | -2.7 | 1.6 | 3.4 |
| فرنیچر او کورني توکي | 7.0 | 8.5 | 10.4 | 10.3 | 8.4 | 4.9 | 2.1 | 3.3 | 5.7 | 9.7 | 8.9 | 8.6 |
| روغتیا | 3.3 | 8.8 | 9.0 | 10.3 | 8.5 | 7.7 | 7.4 | 6.9 | 9.4 | 9.4 | 8.7 | 9.3 |
| ټرانسپورټ | 4.7 | 16.6 | 20.1 | 19.5 | 11.3 | -6.9 | -10.0 | -7.8 | -3.4 | 2.0 | 3.0 | -0.5 |
| اړیکې | 1.1 | -1.5 | -1.4 | -2.0 | -3.4 | -4.7 | -3.3 | -2.2 | -1.3 | -0.1 | 1.5 | -0.4 |
| زده کړه | 0.7 | 1.9 | 5.0 | 4.0 | 2.8 | 2.0 | -2.7 | -3.7 | -5.1 | -7.6 | 9.2 | 23.2 |
| معلومات او کلتور | 0.1 | 6.5 | 5.4 | 7.1 | 7.0 | 1.2 | 3.8 | 5.2 | 6.3 | 6.5 | 5.2 | 1.6 |
| ریستورانتونه او هوټلونه | 1.0 | 2.6 | 2.4 | 4.6 | 3.2 | 2.2 | 4.2 | -0.8 | -0.3 | 0.7 | -3.6 | 2.0 |
| متفرقه | 1.8 | 7.6 | 10.2 | 8.2 | 7.6 | 7.3 | 7.2 | 10.6 | 9.5 | 9.1 | 7.4 | 7.4 |
| اصلي انفلاسیون (۳۰ سلنه د اوسط موندلو میتود پر اساس) | | 6.4 | 6.3 | 5.6 | 4.3 | 0.9 | 0.5 | 0.5 | 2.2 | 5.1 | 6.4 | 7.8 |
| اصلي انفلاسیون (د ډوډۍ او حبوبات، غوړي او شحمیاتو او تمباکو څخه پرته عمومي انفلاسیون) | | 4.3 | 3.6 | 1.7 | -0.8 | -0.4 | -1.9 | -1.2 | 0.5 | 3.9 | 5.8 | 8.0 |


سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ پولي سیاست لوی آمریت، د افغانستان بانک

د انفلاسیون اصلي سنجش هم د تېرې ربعې په پرتله لوړ نرخونه ثبت کړي دي. د انفلاسیون د اوسط موندلو میتود (Trimmed Mean) له ۶.۴ سلنې څخه ۷.۸ سلنې ته لوړ شوی دی. د مصرفي توکو د بیو شاخص د ډوډۍ او حبوباتو، غوړیو او شحمیاتو او ټرانسپورټ پرته د تېرې ربعې له ۵.۸ سلنې څخه ۸.۰ سلنې ته زیات شوی دی.

### ۲.۱.۱.۳ د ملي مصرفي توکو د بیو د شاخص درې میاشتنې بدلونونه

د مصرفي توکو د بیو شاخص د ربعې په ربعې سنجش له مخې د تېرې ربعې په پرتله په سپټمبر میاشت کې لږ څه زیاتوالی موندلی دی. عمومي انفلاسیون د کال په پیل کې لوړېدونکي بهیر درلوده او د سپټمبر په میاشت کې ۱.۶ سلنې ته رسیږي چې د تېرې ربعې د ۰.۹ سلنې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي.

۲.۳ ګراف: د ملي مصرفي توکو د بیو شاخص (ربعه په ربعه)




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د پولي سیاست لوی آمریت، د افغانستان بانک

د احصائیې د مرکزي ادارې لخوا د خپاره شویو شمېرو له مخې، د خوراکي توکو شاخص په دریمه ربعه کې ۱.۱ سلنې ته رسیږي چې د دویمې ربعې د ۰.۹ سلنې په پرتله لوړوالی ښکاره کوي چې اصلي لامل یې د غوښې (له ۱.۴ سلنې څخه ۵.۱ سلنې)، شیدې، پنیرو او هګیو (له منفي ۱.۴ سلنې څخه ۰.۳ سلنې)، غوړیو او شحمیاتو (له ۴.۶ سلنې څخه ۶.۳ سلنې) او سبزیجاتو (له منفي ۵.۵ سلنې څخه منفي ۳.۴ سلنې ته) زیاتوالی په ګوته شوی دی. همدا ډول، د ځینو نورو اجزاوو د بیو شاخص په دریمه ربعه کې راکم شوی دی. ډوډۍ او حبوباتو بیې له ۱.۰ سلنې څخه ۰.۵ سلنې ته او د تازه او وچې میوې بیې له ۵.۹ سلنې څخه منفي ۲.۵ سلنې ته راکمې شوې دي.

د نا خوراکي توکو په فرعي شاخص کې انفلاسیون هم لوړ شوی دی. د شمېرو په پام کې نیولو سره د ناخوراکي توکو انفلاسیون د تېرې ربعې له ۱.۰ سلنې څخه ۲.۲ سلنې ته زیات شوی دی چې اصلي لامل یې د پوښاک د بیو (له ۰.۳ سلنې څخه ۳.۰ سلنې)، د کور جوړونې، بریښنا، اوبه او غازو د بیو (له ۱.۵ سلنې څخه ۱.۷ سلنې) اثاثیې او کورنیو توکو د بیو (له ۱.۰ سلنې څخه ۲.۱ سلنې) او د ټرانسپورټ د بیو (له ۰.۲ سلنې څخه ۱.۲ سلنې) ته زیاتوالی ګڼل کیږي.

**۲.۳ جدول: د ملي عمومي مصرفي توکو د بیې شاخص د اجزاوو وېشنه**

(د ربعې له مخې د بدلونونو سلنه)

(د ۲۰۱۱ کال د مارچ میاشت = ۱۰۰)

| | ۱۳۹۳ مالي کال | | | | ۱۳۹۴ مالي کال | | | | ۱۳۹۵ مالي کال | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | لومړی ربعه | دوهمه ربعه | درېیمه ربعه | څلورمه ربعه | لومړی ربعه | دوهمه ربعه | درېیمه ربعه | څلورمه ربعه | لومړی ربعه | دوهمه ربعه | درېیمه ربعه |
| **ټولیز شاخص** | **-1.0** | **1.2** | **-0.2** | **1.3** | **-2.9** | **-1.1** | **0.8** | **3.4** | **0.8** | **0.9** | **1.6** |
| **خوراکي توکي او څښاک** | **0.8** | **1.0** | **-1.0** | **2.0** | **-2.6** | **-1.7** | **-0.3** | **4.5** | **1.6** | **0.9** | **1.1** |
| ډوډۍ او حبوبات | 0.6 | 4.1 | 2.7 | 0.4 | -5.0 | -1.4 | 4.0 | 3.2 | -0.7 | 1.0 | 0.5 |
| غوښه | 0.3 | 0.7 | 2.1 | 0.3 | -0.7 | -1.9 | 0.8 | 2.7 | 1.7 | 1.4 | 5.1 |
| شیدې، پنیر او هګۍ | 1.9 | -1.8 | 0.8 | 2.5 | -0.1 | -2.1 | 1.2 | 2.4 | 0.9 | -1.4 | 0.3 |
| غوړي او شحمیات | -0.9 | -0.2 | -0.1 | -0.5 | -5.4 | -1.3 | 0.6 | -0.5 | -0.7 | 4.6 | 6.3 |
| تازه او وچه میوه | 6.5 | 3.4 | -1.7 | 3.1 | 1.8 | 4.6 | -7.1 | 1.5 | 4.9 | 5.9 | -2.5 |
| سبزیجات | -0.3 | -3.0 | -14.7 | 9.7 | -2.7 | -7.6 | -11.2 | 17.4 | 5.8 | -5.5 | -3.4 |
| بوره او خواږه توکي | -2.1 | -2.8 | 3.3 | 0.7 | -2.3 | -1.2 | 3.3 | 6.3 | 2.4 | 6.7 | 6.8 |
| اچار، ترشي او... | 3.3 | 2.7 | 0.3 | -0.5 | -1.5 | 0.7 | 1.7 | 5.7 | 4.7 | 3.9 | 4.3 |
| غیر الکولي مشروبات | 0.5 | -0.6 | 1.9 | 0.3 | -0.3 | 1.1 | 3.4 | 1.0 | 2.1 | 0.6 | 2.3 |
| **نا خوراکي توکي** | **-2.9** | **1.4** | **0.6** | **0.5** | **-3.2** | **-0.3** | **1.9** | **2.2** | **-0.2** | **1.0** | **2.2** |
| تمباکو | -0.2 | 2.2 | -2.8 | 7.6 | 0.3 | 7.5 | 7.8 | 5.4 | -0.2 | -0.4 | 8.2 |
| پوښاک | 1.2 | 1.9 | -0.2 | 1.3 | -0.1 | 1.1 | 4.3 | 3.2 | 1.1 | 0.3 | 3.0 |
| کور جوړونه (استوګنځی) | -10.3 | -0.3 | -0.1 | 1.1 | -5.7 | -2.8 | 0.0 | 1.9 | -1.7 | 1.5 | 1.7 |
| فرنیچر او کورني توکي | 1.8 | 4.6 | 1.1 | 0.7 | -1.5 | 1.7 | 2.4 | 3.0 | 2.3 | 1.0 | 2.1 |
| روغتیا | 4.2 | 2.0 | 2.5 | -0.4 | 3.4 | 1.8 | 2.0 | 1.9 | 3.4 | 1.1 | 2.5 |
| ټرانسپورټ | 9.1 | 3.2 | 2.4 | -3.5 | -8.7 | -0.2 | 4.9 | 1.1 | -3.6 | 0.8 | 1.2 |
| اړیکې | -0.1 | -1.3 | -1.3 | -0.7 | -1.4 | 0.1 | -0.3 | 0.3 | -0.3 | 1.7 | -2.1 |
| زده کړه | 1.8 | 2.4 | -0.2 | -1.2 | 1.0 | -2.2 | -1.3 | -2.6 | -1.7 | 15.6 | 11.3 |
| معلومات او کلتور | 5.5 | -1.0 | 1.6 | 0.8 | -0.2 | 1.5 | 2.9 | 1.9 | 0.1 | 0.2 | -0.6 |
| ریسټورانټونه او هوټلونه | 0.9 | 0.4 | 3.3 | -1.5 | 0.0 | 2.3 | -1.6 | -1.0 | 1.0 | -2.1 | 4.2 |
| متفرقه | 1.2 | 2.8 | 0.1 | 3.3 | 1.0 | 2.6 | 3.3 | 2.2 | 0.6 | 1.0 | 3.4 |


سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د پولي سیاست لوی آمریت، د افغانستان بانک

### ۳.۱.۲ د کابل د مصرفي توکو د بيو د شاخص بدلونونه

#### ۳.۱.۲.۱ کلني بدلونونه

د ۱۳۹۵ کال د دريمې ربعې په اوږدو کې د کابل د مصرفي توکو د بيې د شاخص د بدلونونو بهير د ملي شاخص په پرتله توپير درلوده. د کال په کال محاسبې له مخې په پلازمېنې کابل کې انفلاسيون د تېرې ربعې له ۶.۴ سلنې څخه ۶.۳ سلنې ته لږ څه ټيټوالی موندلی، خو د تېر کال د ورته ربعې له ۲.۵ سلنه ډيفلاسيوني نرخ څخه د پام وړ زياتوالی ښکاره کوي. حال دا چې په دې موده کې د خوراکي توکو انفلاسيون زيات شوی او د ناخوراکي توکو د کټګورۍ انفلاسيون راکم شوی دی چې په پايله کې عمومي انفلاسيون راکم شوی دی.

۳.۳ ګراف: د کابل د مصرفي توکو




سرچينه: د احصائيې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک

د خوراکي توکو شاخص د څلورو ربعو په اوږدو کې زياتيدونکی بهير درلوده او د سپټمبر مياشت کې ۸.۹ سلنې ته رسيږي چې د دويمې ربعې د ۶.۳ سلنې او د تېر کال د ورته ربعې د منفي ۲.۱ سلنې په پرتله زياتوالی ښکاره کوي.

همدا ډول په دې برخې باندې د انفلاسيون د اغېزو ستر لامل په ځانګړي توګه د غوښې د بيو (له ۱۲.۱ سلنې څخه ۱۶.۶ سلنې)، د غوړيو او شحمياتو د بيو (له منفي ۴.۷ سلنې څخه ۴.۷ سلنې)، د تازه او وچې مېوې د بيو (له ۹.۱ سلنې څخه ۱۳.۷ سلنې) او د سبزيجاتو د بيو (له ۳.۲ سلنې څخه ۱۴.۸ سلنې ته) زياتوالی په ګوته شوی دی.

## ۳.۳ جدول: د کابل د عمومي مصرفي توکو د بیو شاخص د اجزاوو وېشنه

د کال له مخې د بدلونونو سلنه

د ۲۰۱۱ کال مارچ = ۱۰۰

| | وزن | ۱۳۹۳ | | | | ۱۳۹۴ | | | | ۱۳۹۵ | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | لومړۍ ربعه | دویمه ربعه | دریمه ربعه | څلورمه ربعه | لومړۍ ربعه | دویمه ربعه | دریمه ربعه | څلورمه ربعه | لومړۍ ربعه | دویمه ربعه | دریمه ربعه |
| **ټولیز شاخص** | **100.0** | **1.8** | **1.2** | **1.2** | **-1.1** | **-1.8** | **-3.3** | **-2.5** | **-0.6** | **4.4** | **6.4** | **6.3** |
| **خوراکي توکي او څښاک** | **52.0** | **7.9** | **5.5** | **5.4** | **1.8** | **-1.0** | **-1.3** | **-2.1** | **0.0** | **4.8** | **6.3** | **8.9** |
| ډوډۍ او حبوبات | 17.7 | 7.7 | 4.8 | 6.6 | 3.0 | -1.9 | -2.9 | -3.2 | -0.7 | 1.1 | -0.2 | -2.9 |
| غوښه | 7.2 | -1.4 | -1.4 | 3.8 | 2.6 | 0.5 | 1.1 | 0.7 | 4.3 | 8.7 | 12.1 | 16.6 |
| شيدې، پنير او هګۍ | 4.8 | 6.1 | 9.9 | 8.7 | 5.9 | 2.7 | 6.1 | 8.5 | | 7.1 | 8.1 | 4.4 |
| غوړي او شحميات | 4.0 | -0.9 | -3.1 | -5.1 | -5.5 | -12.6 | -7.7 | -7.5 | -5.5 | -3.1 | -4.7 | 4.7 |
| تازه او وچه مېوه | 4.8 | 6.5 | 8.8 | 7.4 | 12.9 | 5.1 | 8.3 | 3.0 | 3.1 | 9.7 | 9.1 | 13.7 |
| سبزيجات | 7.9 | 24.7 | 15.8 | 8.9 | -5.6 | -2.3 | -10.2 | -12.6 | -11.5 | -3.0 | 3.2 | 14.8 |
| بوره او خواږه توکي | 2.9 | -0.5 | -6.9 | -3.5 | -5.1 | -2.8 | 1.4 | 2.6 | 13.9 | 26.9 | 39.3 | 40.4 |
| اچار، ترشي او... | 0.9 | 8.3 | 7.0 | 9.2 | 7.2 | 1.4 | 3.6 | 9.3 | 19.8 | 30.0 | 35.1 | 33.3 |
| غير الکولي مشروبات | 1.8 | 7.8 | 2.1 | 2.6 | 3.2 | -0.8 | 3.0 | 5.3 | 9.5 | 11.6 | 13.6 | 12.0 |
| **نا خوراکي توکي** | **48.0** | **-2.4** | **-1.7** | **-1.6** | **-3.1** | **-2.3** | **-4.8** | **-2.8** | **-0.9** | **4.2** | **6.5** | **4.5** |
| تمباکو | 0.4 | 11.2 | 13.3 | 11.5 | 15.5 | 12.9 | 9.1 | 22.6 | 20.1 | 20.8 | 17.1 | 9.1 |
| پوښاک | 7.0 | 7.8 | 11.5 | 11.3 | 10.3 | 5.6 | 0.8 | 9.8 | 13.8 | 17.8 | 16.7 | 11.4 |
| کور جوړونه، بریښنا، اوبه او ګاز | 20.7 | -12.2 | -13.2 | -13.1 | -13.4 | -5.5 | -8.8 | -9.9 | -9.6 | -4.7 | 1.7 | 1.0 |
| فرنيچر او کورني توکي | 7.0 | 6.2 | 13.4 | 13.2 | 12.5 | 7.2 | 3.9 | 8.5 | 14.0 | 19.8 | 15.4 | 9.9 |
| روغتيا | 3.3 | 7.8 | 7.3 | 8.7 | 4.1 | 4.1 | 3.5 | 0.2 | 0.3 | 1.7 | 0.9 | 1.4 |
| ټرانسپورټ | 4.7 | 33.3 | 33.2 | 32.1 | 19.4 | -14.7 | -15.4 | -7.4 | -3.4 | 8.2 | 9.2 | -0.5 |
| اړيکې | 1.1 | -0.8 | -2.2 | -4.0 | -5.0 | -5.7 | -3.6 | -1.6 | -0.2 | 0.3 | 0.0 | 0.1 |
| زده کړه | 0.7 | -0.1 | 2.8 | 1.9 | 2.1 | 1.6 | -3.8 | -5.8 | -7.3 | -9.7 | 11.4 | 29.7 |
| معلومات او کلتور | 0.1 | 14.0 | 14.6 | 19.1 | 18.3 | 1.8 | 5.6 | 6.8 | 9.8 | 11.7 | 8.1 | 1.9 |
| ريستورانتونه او هوټلونه | 1.0 | 1.5 | 2.3 | 5.2 | 3.1 | 1.7 | 5.5 | -0.6 | 0.0 | 2.2 | -7.4 | 0.8 |
| متفرقه | 1.8 | 4.3 | 7.9 | 3.8 | 5.0 | 4.5 | 8.3 | 17.8 | 17.9 | 19.1 | 12.5 | 14.9 |
| اصلي انفلاسيون (د اوسط مونډلو ۲۸ سلنه) | | **5.3** | **5.7** | **6.2** | **4.4** | **0.7** | **1.2** | **1.9** | **4.7** | **8.4** | **8.5** | **8.2** |
| اصلي انفلاسيون (له ډوډۍ او حبوباتو، غوړي او شحمياتو او تمباکو څخه پرته عمومي انفلاسيون) | | **-1.3** | **-1.3** | **-3.8** | **-3.1** | **-1.0** | **-2.3** | **-1.6** | **-0.1** | **5.4** | **8.5** | **9.4** |

سرچینه: د احصائیې مرکزی اداره/ د پولي سیاست لوی آمریت، د افغانستان بانک

*د افغانستان مالي کال له ۱۳۹۱ کال څخه پیل شوی (ډیسمبر- جنوري) له همدې امله ۳ میاشتې رانغاړي.

د ناخوراکي توکو انفلاسيون له ۶.۵ سلنې څخه ۴.۵ سلنې ته راکم شوی دی. د دې فرعي شاخص عمده لاملونه د پوښاك د بيو (له ۱۶.۷ سلنې څخه ۱۱.۴ سلنې) د كور جوړونې، بريښنا، اوبو او غازو د بيو (له ۱.۷ سلنې څخه ۱.۰ سلنې)، د فرنيچر او كورني توكو د بيو (له ۱۵.۴ سلنې څخه ۹.۹ سلنې) او د ټرانسپورټ شاخص د بيو (له ۹.۲ سلنې څخه منفي ۰.۳ سلنې) ته كموالى ښودل شوی دی. د ارزونې لاندې مودې په اوږدو کې تمباکو او د معلوماتو او کلتور برخو بيې هم راټيټې شوي دي.

اصلي انفلاسيون د بيلابيلو محاسبو له لارې په دريمه ربعه کې بيلابيل بدلونونه مونډلي دي. د اصلي انفلاسيون د حجم د پيدا کولو تر ټولو زيات کاروونکی ميتود د اوسط مونډلو ميتود دی چې د مصرفي توکو د بيو د شاخص د يوه ځانګړي برخې لپاره مشخص کيږي او له شاخص څخه د مشخصو اجزاوو د ايستلو وروسته د شاخص د ساده اوسط په ترلاسه کولو سره محاسبه کيږي. له همدې کبله د دې سنجش له مخې د انفلاسيون نرخ له ۸.۵ سلنې څخه ۸.۲ سلنې ته لږ څه کموالی مونډلی دی. همدا ډول، د ډوډۍ او حبوباتو، غوړي او شحمياتو او ټرانسپورټ پرته د مصرفي توکو د بيو شاخص له ۸.۵ سلنې څخه ۹.۴ سلنې ته لوړ شوی دی.

**۲.۲.۱.۳ د کابل د مصرفي توکو د بيو د شاخص درې مياشتني بدلونونه**

د لنډمهاله بدلونونو (ربعه په ربعه بدلونونو) د ارزونې له مخې، د کابل د مصرفي توکو د بيو د شاخص پر بنسټ عمومي انفلاسيون ثابته پاتې شوی دی. د وروستيو معلوماتو له مخې، عمومي انفلاسيون ۱.۳ سلنې ته رسيږي چې د تيرې ربعې سره ورته دی. په داسې حال کې چې د خوراکي او ناخوراکي فرعي توکو شاخصونو کې ځيني بدلونونه راغلي دي.

۴.۳ ګراف: د کابل د مصرفي توکو د بيو شاخص (ربعه په ربعه)




سرچينه: د احصائيې مرکزی اداره/ د پولي سياست لوی آمريت، د افغانستان بانك

د ۱۳۹۵ مالي کال په دريمه ربعه کې د خوراکي توکو انفلاسيون لږ څه يعني د تيرې ربعې له ۰.۹ سلنې څخه ۱.۶ سلنې ته لوړ شوی دی چې اصلي لامل يې د ډوډۍ او حبوباتو د بيو (له منفي ۰.۳ سلنې څخه ۱.۹ سلنې)، غوښې (له ۱.۲ سلنې څخه ۸.۱ سلنې)، شيدې، پنير او هګۍ (له منفي ۱.۸ سلنې څخه ۳.۴ سلنې)، غوړي او شحمياتو (له ۲.۲ سلنې څخه ۹.۳ سلنې) او سبزيجاتو (له منفي ۶.۰ سلنې څخه منفي ۳.۶ سلنې ته) زياتوالی ګڼل کيږي. په ورته وخت کې د تازه او وچې ميوې بيې په شديده توګه راغورځيدلي دي چې د تيرې ربعې له ۷.۷ سلنې څخه په سپټمبر مياشت کې منفي ۵.۳ سلنې ته کموالی ښکاره کوي. په نورو فرعي اجزاوو کې بدلونونه دومره زيات نه دي چې عمومي شاخص زيانمن کړي.

له بلې خوا، د ناخوراکي توکو په کټګورۍ کې د انفلاسيون نرخ ټيټوالی ښکاره کوي. په دريمه ربعه کې د ناخوراکي

توکو انفلاسیون د تېرې ربعې له ۱.۶ سلنې څخه ۱.۰ ته راکم شوی چې دا شمېره په ډېرو مهمو اجزاوو کې ټیټې ښیې منعکسوي. د کور جوړونې، برېښنا، اوبو او غازو بیې چې د مصرفي توکو د بیو په شاخص کې ستر ځای لري، له ۳.۱ سلنې څخه ۱.۱ سلنې ته راغورځېدلې دي. د دې ترڅنګ، د فرنیچر او کورني توکو بیې له ۰.۹ سلنې څخه ۰.۸ سلنې ته لږ څه کموالی ښکاره کوي. له بلې خوا د پوښاک، روغتیا او ټرانسپورټ د تېرې ربعې په پرتله لوړې بیې ثبت کړې دي.

**۴.۳ جدول: د کابل د عمومي مصرفي توکو د بیو د شاخص د ربعې له مخې بدلونونه**

د ربعې له مخې بدلونونو سلنه

د ۲۰۰۱ کال مارچ میاشت = ۱۰۰

| | ۱۳۹۳ | | | | ۱۳۹۴ | | | | ۱۳۹۵ | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | لومړۍ ربعه | دوهمه ربعه | دریمه ربعه | څلورمه ربعه | لومړۍ ربعه | دوهمه ربعه | دریمه ربعه | څلورمه ربعه | لومړۍ ربعه | دوهمه ربعه | دریمه ربعه |
| **ټولیز شاخص** | **-3.8** | **1.0** | **0.3** | **1.6** | **-4.7** | **-0.6** | **1.4** | **3.6** | **0.0** | **1.3** | **1.3** |
| **خوراکي توکي او څښاک** | **-1.2** | **- 0.2** | **0.0** | **3.3** | **-3.9** | **-0.5** | **-0.8** | **5.5** | **0.7** | **0.9** | **1.6** |
| ډوډۍ او حبوبات | -2.8 | 2.0 | 5.1 | -1.1 | -7.4 | 1.0 | 4.8 | 1.4 | -5.8 | -0.3 | 1.9 |
| غوښه | -0.5 | -2.5 | 4.4 | 1.3 | -2.6 | -1.9 | 3.9 | 4.9 | 1.5 | 1.2 | 8.1 |
| شیدې، پنیر او هګۍ | 2.0 | -1.5 | 2.5 | 3.0 | -1.1 | 1.7 | 4.7 | 1.6 | -0.1 | -1.8 | 3.4 |
| غوړي او شحمیات | -2.6 | -1.6 | -0.8 | -0.6 | -9.9 | 3.9 | -0.5 | 1.5 | -7.7 | 2.2 | 9.3 |
| تازه او وچه مېوه | 9.9 | 5.1 | -4.5 | 2.3 | 2.3 | 8.3 | -9.2 | 2.4 | 8.9 | 7.7 | -5.3 |
| سبزیجات | -6.6 | -3.9 | -11.0 | 18.2 | -3.4 | -11.7 | -13.4 | 19.8 | 5.9 | -6.0 | -3.6 |
| بوره او خواږه توکي | -5.2 | -5.6 | 6.0 | 0.0 | -3.0 | -1.5 | 7.3 | 11.1 | 8.1 | 8.1 | 8.1 |
| اچار، ترشي او... | 3.1 | 0.9 | 1.8 | 1.1 | -2.4 | 3.2 | 7.4 | 10.8 | 5.8 | 7.2 | 6.0 |
| غیر الکولي مشروبات | 2.0 | -2.6 | 2.3 | 1.5 | -2.0 | 1.2 | 4.6 | 5.5 | -0.1 | 3.0 | 3.2 |
| **نا خوراکي توکي** | **-5.6** | **1.9** | **0.5** | **0.3** | **-5.3** | **-0.7** | **3.1** | **2.2** | **-0.4** | **1.6** | **1.0** |
| تمباکو | 1.9 | 7.4 | 0.5 | 5.0 | -0.4 | 3.8 | 12.9 | 2.8 | 0.2 | 0.7 | 5.1 |
| پوښاک | 2.2 | 5.2 | -0.1 | 2.6 | -2.2 | 0.5 | 8.8 | 6.4 | 1.2 | -0.4 | 3.9 |
| کور جوړونه | -14.0 | 0.1 | - 0.1 | 0.6 | - 6.9 | - 3.4 | - 0.4 | 0.9 | - 1.9 | 3.1 | - 1.1 |
| فرنیچر او کورني توکي | 1.4 | 8.2 | 1.3 | 1.3 | -3.3 | 4.8 | 5.8 | 6.4 | 1.6 | 0.9 | 0.8 |
| روغتیا | 1.6 | 0.8 | 3.7 | - 2.0 | 1.7 | 0.2 | 0.4 | - 2.0 | 3.1 | - 0.6 | 0.9 |
| ټرانسپورټ | 21.9 | 0.5 | 1.7 | - 4.1 | - 12.9 | -0.4 | 11.4 | 0.0 | - 2.4 | 0.5 | 1.5 |
| اړیکې | - 0.1 | - 2.1 | - 1.9 | - 1.0 | - 0.8 | 0.1 | 0.1 | 0.4 | - 0.3 | - 0.2 | 0.2 |
| زده کړه | 1.0 | 2.0 | 0.1 | - 1.1 | 0.5 | - 3.3 | - 1.9 | - 2.8 | - 2.0 | 19.2 | 14.2 |
| معلومات او کلتور | 14.0 | -0.3 | 3.6 | 0.5 | -1.9 | 3.4 | 4.8 | 3.2 | -0.2 | 0.1 | -1.2 |
| ریسټورانټونه او هوټلونه | 1.5 | 0.8 | 2.9 | -2.0 | 0.0 | 4.6 | -3.1 | -1.3 | 2.2 | -5.2 | 5.4 |
| متفرقه | 0.4 | 3.2 | -1.9 | 3.3 | -0.1 | 7.0 | 6.8 | 3.4 | 0.9 | 1.0 | 9.0 |

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د پولي سیاست لوی آمریت، د افغانستان بانک

*د افغانستان مالي کال له ۱۳۹۱ کال څخه پیل شوی(ډیسمبر- جنوري) له همدې امله ۳ میاشتې رانغاړي.

**۲.۳ د انفلاسیون لنډ مهاله لیدلوری**

تمه کېده چې د افغانستان د انفلاسیون نرخ د ۱۳۹۵ مالي کال په وروستي ربعه کې راکم شي. د افغانستان بانک په خپل انفلاسیوني تحلیل او وړاندې وینو کې بیلابیل داخلي او بهرني عوامل لکه د کرنیزو محصولاتو کچه په پام کې نیسي. د انفلاسیون د ټیټې وړاندې وینې یو لامل د کرنیزو محصولاتو د بیې ټیټوالی دی. په تېرو ربعو کې د پربېمانه کرنیزو محصولاتو له امله تمه کېږي چې د ۱۳۹۵ مالي کال په وروستي ربعه کې د کرنیزو محصولاتو بیې راټیټې شي. د دې ترڅنګ، د افغانستان په ډېرو سیمو کې کروندګرو خپل کرنیز محصولات د کال په دریمه او څلورمه ربعه کې راټولوي چې په ملي بازارونو کې د دې محصولاتو بیې باندې په قطعي توګه اغېزه کوي.

سربېره پر دې، په نړیواله بازارونو کې د بیو د کچې کموالي یو بل لامل دی چې تمه کېږي په افغانستان کې د انفلاسیون نرخ راکم کړي. تمه کېږي چې د ۲۰۱۶ کال په پای کې او ۲۰۱۷ کال په پیل کې د ډېرو توکو نړیواله بیې راکمې شي. حال دا چې د نورو توکو په منځ کې دا د پام وړ کموالی د اومه نفتو او طبیعي غازو په بیو کې اټکل شوی دی.

۴

# د بهرني سکتور بدلونونه

## ۴

# د بهرني سکتور بدلونونه

دا څېړکی د ۱۳۹۴ کال د ورته ربعې په پرتله د ۱۳۹۵ مالي کال په دريمه ربعه کې د هېواد په اقتصاد کې د بهرني سکتور لنډ تحليل رانغاړي.

### ۱.۴ د ادراينو بيلانس

#### ۱.۱.۴ د جاري حساب بيلانس

د جاري حساب د ادراينو د بيلانس د ۱۳۹۵ مالي کال په دريمه ربعه کې ۱،۰۹۷.۰۹ ميليونه امريکايي ډالره کسر ثبت کړی چې دا شمېره د ۱۳۹۴ مالي کال د دريمې ربعې د ۱،۷۴۴.۱۶ ميليونه امريکايي ډالره کسر په پرتله کموالی ښکاره کوي.


د جاري حساب کسر د کميدو ستر لاملونه د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې د دوارو توکو او خدمتونو پر وارداتو لږ لګښت او د توکو د صادراتو له لارې زيات عوايد دي. د سوداګريز بيلانس کسر د ۱۳۹۵ مالي کال په دريمه ربعه کې ۱،۳۲۲.۱۸ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسېږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د دريمې ربعې د ۲،۰۴۲.۶۳ ميليونه امريکايي ډالرو په پرتله ۳۵ سلنه کموالی ښکاره کوي.

پراخه څېړنه ښکاره کوي چې د توکو تولیزه واردات د ۱۳۹۵ مالي کال په دريمه ربعه کې ۱،۴۹۴.۶۴ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسېږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د دريمې ربعې د ۲،۲۰۵.۵۳ ميليونه امريکايي ډالرو په پرتله ۳۲ سلنه کموالی ښکاره کوي. تولیزه صادرات د ۱۳۹۵ مالي کال په دريمه ربعه کې د ۶ سلنه زياتوالي په درلودلو سره ۱۷۲.۴۶ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسېږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د دريمې ربعې ۱۶۲.۹۰ ميليونه امريکايي ډالرو په پرتله زياتوالی ښکاره کوي.

د خدمتونو د حساب کسر د ۱۳۹۴ مالي کال د دريمې ربعې له ۲۰۰.۸۰ ميليونه امريکايي ډالرو څخه د ۱۳۹۵ مالي کال په ورته ربعه کې ۲۱۸.۹۴ ميليونه امريکايي ډالره يعني ۹ سلنه لوړوالی ښکاره کوي. د خدمتونو د حساب په کسر کې د دې زياتوالي اصلي لاملونه د ټرانسپورټي خدمتونو د جريانونو کموالی چې د ارزونې لاندې ربعه کې يې ۹۷ سلنه کموالی ثبت کړی دی او د شخصي ګرځنده خدمتونو په برخه کې د ورکړو زياتوالی په ګوته شوي دي چې د ۱۳۹۵ مالي کال په دريمه ربعه کې ۳۸.۳۱ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسېږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د دريمې ربعې د ۱۶.۱۴ ميليونه امريکايي ډالرو په پرتله ۱۳۷ سلنه زياتوالی ښکاره کوي.

په ورته وخت کې د عوايدو حساب ډېرېدنه د ۱۳۹۴ مالي کال په دريمه ربعه کې ۱۷.۵۰ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسېږي چې د ۱۳۹۵ مالي کال د ورته ربعې د ۳۷.۳۴ ميليونه امريکايي ډالرو په پرتله ۵۳ سلنه ټيټوالی ښکاره کوي. د عوايدو په حساب کې د کسر عمده لامل بهرنيو پانګوالو ته د ويشل شويو ګټو ادراينې ګڼل کېږي. همدا ډول د جاري ليږدونو د حساب ډېريدنه د ۱۳۹۴ مالي کال د دريمې ربعې په پرتله ۸ سلنه کموالی لري چې د دې کموالي بنسټيز لامل د ارزونې لاندې موده کې د دولتي ادارو ترمنځ د مرستو ۲۳ سلنه کموالی دی.

۱.۴ ګراف: د جاري حساب د ادراينو بيلانس
(په ميليون امريکايي ډالرو)





سرچينه: د احصائيې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د پولي سياست لوی آمريت

### ۲.۱.۴ پانګه ایز حساب

د پانګه ایزه حسابونو د ادواینو بیلانس د ۱۳۹۵ مالي کال په دریمه ربعه کې د ربعې له مخې پرتلې پر بنسټ ۱۷ سلنه کموالی ښکاره کوي (۱.۴ جدول، ۲.۴ ګراف وګورئ).

د پانګه ایزه حسابونو خالصه جریانونه د تیر کال د دریمې ربعې له ۲۹۹.۴۰ میلیونه امریکایي ډالرو څخه د ۱۳۹۵ مالي کال په دریمه ربعه کې ۲۴۹.۳۴ میلیونه امریکایي ډالرو ته راکم شوي دي چې اصلي لامل یې د دولت، شرکتونو او کورنیو لخوا د خالصه پانګې په لیږدونه کې د ۲۴۹.۳۴ میلیونه امریکایي ډالره کموالی دی، حال دا چې د تېر کال په ورته ربعه کې دا شمېره ۳۰۸.۳۷ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسېده.

۲.۴ ګراف: د پانګې حساب





سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د پولي سیاست لوی آمریت

### ۳.۱.۴ مالي حساب

د مالي حساب د ادواینو بیلانس د ۱۳۹۴ مالي کال د دریمې ربعې د ۲۱۲.۸۴ میلیونه امریکایي ډالره خالصه بهرني جریان په پرتله د ۱۳۹۵ مالي کال په دریمه ربعه کې ۶۶ میلیونه ډالره خالصه داخلي جریان ثبت کړی دی (د لا وضاحت لپاره ۱.۴ جدول او ۳.۴ ګراف وګورئ). د شمېرو شننه ښکاره کوي چې د هېواد د ټولیزه مالي شتمنیو ـ د افغانانو لخوا د طلباتو کچه – د ارزونې لاندې کال کې ۱۱.۷۰ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۱۰۸.۲۲ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله د ۸۹ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. ټولیز مالي پورواینې د ۱۳۹۴ مالي کال د دریمې ربعې د ۱۶.۴۴ میلیونه امریکایي ډالره ثبت شوې کچې په پرتله د ۱۳۹۵ مالي کال په دریمه ربعه کې ۲۳.۳۳ میلیونه امریکایي ډالره ثبت شوي دي چې عمده لامل یې هېواد ته زیات مالي جریانونه ګڼل کېږي.

د بهرنیو مالي شتمنیو ناټولیزه شننه ښيي چې له هېواد څخه بهر بهرنۍ مستقیمې پانګونې په ۱۳۹۵ مالي کال کې ۲۳.۵۳ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تېر کال د ورته ربعې د ۷۷.۹۸ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۷۰ سلنه کموالی ښکاره کوي. د پورټفولیو داخلي پانګونې د ۱۳۹۵مالي کال په دریمه ربعه کې ۲۰.۳۳ میلیونه ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۱۵.۸۳ میلیونه ډالرو په پرتله ۲۸ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

۳.۴ ګراف: مالي حساب




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د پولي سیاست لوی آمریت

### ۴.۱.۴ د ټوکو سوداګري (د مال التجاره/ سوداګرۍ)

د ټوکو د سوداګري شته شمېرې ښيي چې د افغانستان د سوداګرۍ کسر د ۱۳۹۵ مالي کال په دريمه ربعه کې ۱،۲۸۱.۷۲ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسېږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ورته ربعې د ۲،۱۴۶.۶۸ ميليونه امريکايي ډالرو په پرتله ۴۰ سلنه کموالی ښکاره کوي چې د دې کموالي اصلي لامل د نفتو او روغنياتو، پانګه ايزه توکو او د مصرفي توکو په وارداتو کې د پام وړ کموالی په ګوته شوی دی. (۴.۲ جدول، ۴.۵ ګراف وګورئ).


د توکو د ټوليزه وارداتو کچه د ۱۳۹۵ مالي کال په دريمه ربعه کې ۱،۴۵۴.۱۷ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسيږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د دريمې ربعې د ۲،۳۰۳.۱۳ ميليونه امريکايي ډالرو په پرتله ۳۷ سلنه کموالی په ګوته کوي.

د توکو د ټوليزه صادراتو کچه د ۱۳۹۵ مالي کال په دريمه ربعه کې ۱۷۲.۴۵ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسيږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د دريمې ربعې ۱۵۶.۴۵ ميليونه امريکايي ډالرو په پرتله ۱۰ سلنه کموالی ښکاره کوي.

د تازه او وچې ميوې، څرمن او وړيو په صادراتو کې د زياتوالي عمده لامل د توکو په صادراتو کې زياتوالی ښودل شوی دی.

د ۱۳۹۵ مالي کال په دريمه ربعه کې په ټوليزه وارداتو کې کموالی او په هېواد کې د صادراتو عادي زياتوالی د سوداګرۍ د کسر لامل شوی دی.

۴.۴ ګراف: د سوداګرۍ کړنه او د سوداګرۍ بيلانس




سرچينه: د احصائيې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د پولي سياست لوی آمريت

### ۲.۴ د سوداګرۍ لورې

د افغانستان د صادراتو لپاره عمده هېوادونه پاکستان، ايران، هند، چين او د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونه (CIS) دي.

د توکو د سوداګرۍ د احصائيو پر بنسټ، د ۱۳۹۵ مالي کال په دريمه ربعه کې د افغانستان د صادراتو تر ټولو لوی شريک پاکستان دی. پاکستان ته د افغانستان د ټوليزه صادراتو کچه له ۵۰.۴۳ سلنې څخه ۶۴.۱۳ سلنې ته لوړه شوې ده.

د ارزښت له مخې پاکستان ته د افغانستان د صادراتو کچه ۱۱۰.۶۰ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسيږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د دريمې ربعې د ۷۸.۸۹ ميليونه امريکايي ډالرو په پرتله ۴۰ سلنه زياتوالی ښکاره کوي.


د ۱۳۹۵ مالي کال په دريمه ربعه کې هند د افغانستان د صادراتو دويم ستر پيريدونکی هېواد دی. هند ته د افغانستان د صادراتو ونډه د ۱۳۹۴ مالي کال د دريمې ربعې له ۲۴.۸۳ سلنه ثبت شوې کچې څخه د ۱۳۹۵ مالي کال په ورته ربعه کې ۲۸.۲۷ سلنې ته زياته شوې ده.

هند ته د ټوليزه صادراتو کچه د ۱۳۹۵ مالي کال په دريمه ربعه کې ۴۸.۷۵ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسيږي چې د تير کال د ورته ربعې د ۳۸.۸۵ ميليونه امريکايي ډالرو په پرتله ۲۵ سلنه زياتوالی ښکاره کوي.

د ارزوني لاندې موده کې د افغانستان د صادراتو دريم ستر پيريدونکي د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونه (CIS) دي. د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونو (CIS) ته د افغانستان د صادراتو ونډه د تير کال د دريمې ربعې له ۵ سلنه ثبت شوې کچې څخه د ۱۳۹۵ مالي کال په ورته ربعه کې شاوخوا ۱ سلنې ته کمه شوې ده.


د ګډو ګټو خپلواکو هېوادونو(CIS) ته د افغانستان د ټوليزه صادراتو کچه د ۱۳۹۵ مالي کال په دريمه ربعه کې ۱.۷۳ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسيږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د همدې ربعې د ۸.۰۷ ميليونه امريکايي ډالرو په پرتله ۷۹ سلنه د پام وړ کموالی ښکاره کوي.

۵.۴ ګراف: د صادراتو لوری (د ونډې سلنه)
د ۱۳۹۵ مالي کال دريمه ربعه




سرچينه: د احصائيې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د پولي سياست لوی آمريت

۶.۴ ګراف: د صادراتو لوری (د ونډې سلنه)، د ۱۳۹۴
مالي کال دريمه ربعه




سرچينه: د احصائيې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د پولي سياست لوی آمريت

چين د افغانستان لپاره د ۱۳۹۵ مالي کال په دريمه ربعه کې د وارداتو تر ټولو ستره سرچينه ده. د چين د توليزه وارداتو ونډه د ۱۳۹۴ مالي کال د دريمې ربعې له ۱۴.۶۱ سلنې څخه د ارزونې لاندې ربعه کې ۲۳ سلنې ته زياته شوې ده.

خو د ارزښت له پلوه افغانستان ته د چين د توليزه وارداتو کچه د ۱۳۹۴ مالي کال د دريمې ربعې د ۳۳۶.۵۹ ميليونه امريکايي ډالرو په پرتله د ۱۳۹۵ مالي کال په ورته ربعه کې ۳۳۵ ميليونه امريکايي ډالرو ته لږ څه کموالي موندلې دی.

د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونه د ۱۳۹۵ مالي کال په دريمه ربعه کې د افغانستان لپاره دويمه ستره وارداتي سرچينه ګڼل کيږي. افغانستان ته د ګډو ګټو د خپلواکه هېوادونو توليزه واردات د ۱۳۹۵ مالي کال په دريمه ربعه کې ۳۲۰.۶۰ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسيږي چې د ۱۳۹۵ مالي کال په دريمه ربعه کې ۵۱۴.۷۰ ميليونه امريکايي ډالرو په پرتله ۳۸ سلنه کموالی ښکاره کوي، خو د ارزونې لاندې ربعه کې د ګډو ګټو د خپلواکه هېوادونو د وارداتو ونډه په ۲۲ سلنه کې ثابته پاتې شوې ده.


ايران د افغانستان لپاره د ۱۳۹۵ مالي کال په دريمه ربعه کې د وارداتو دريمه ستره سرچينه ده. د ايران د توليزه وارداتو کچه د ۱۳۹۴ مالي کال د دريمې ربعې له ۲۴.۳۷ سلنې څخه د ۱۳۹۵ مالي کال په ورته ربعه کې ۱۸.۲۸ سلنې ته راکمه شوې ده.

د ارزښت له پلوه، د ايران توليزه واردات د ۱۳۹۵ مالي کال په دريمه ربعه کې ۲۶۵.۸۸ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسيږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ورته ربعې د ۵۶۱.۳۲ ميليونه امريکايي ډالرو په پرتله ۵۳ سلنه د پام وړ کموالی ښکاره کوي.

پاکستان د افغانستان لپاره د ۱۳۹۵ مالي کال په دريمه ربعه کې د وارداتو څلورمه ستره سرچينه ګڼل کيږي. افغانستان ته د پاکستان توليزه واردات د ۱۳۹۵ مالي کال په دريمه ربعه کې د ۱۶ سلنه ونډې په درلودلو سره د ۲۲۵.۱۵ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسيږي، حال دا چې د ۱۳۹۴ مالي کال په دريمه ربعه کې يې کچه ۱۳.۳۵ سلنې ونډې په درلودلو سره ۳۰۷.۴۱ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسيده چې د ارزونې لاندې ربعه کې ۲۷ سلنه کموالی ښکاره کوي.


جاپان، هند او د امريکا متحده ايالاتو د افغانستان لپاره په ترتيب سره پنځم، شپږم او اووم ستر وارداتي هېوادونه دي.
په توليزه وارداتو کې د دې هېوادونو د وارداتو کچې په ترتيب سره ۴.۳۷ سلنه، ۲.۲۶ سلنه او ۱.۳۵ سلنې ته رسيږي.

۷.۴ ګراف: د وارداتو لوری (د ونډې سلنه)، د ۱۳۹۵ مالي کال دریمه ربعه




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د پولي سیاست لوی آمریت

۸.۴ ګراف: د وارداتو لوری (د ونډې سلنه)، د ۱۳۹۴ مالي کال دریمه ربعه




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د پولي سیاست لوی آمریت

## ۳.۴ د سوداګرۍ ترکیب

### ۱.۳.۴ د وارداتو ترکیب


د ۱۳۹۵ مالي کال په دریمه ربعه کې د وارداتو ترکیب ښکاره کوي چې؛

- د پانګه ایزه توکو واردات د وارداتو په ټوکرۍ کې ۴۵.۲ سلنې ونډې په درلودلو سره تر ټولوستره برخه جوړوي چې د ارزښت له پلوه، د پانګه ایزه توکو وارداتو د ۱۳۹۵ مالي کال په دریمه ربعه کې ۶۵۷.۳۹ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۹۶۲.۶۰ میلیونه امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله ۳۲ سلنه کموالی ښکاره کوي.
- د ۱۳۹۵ مالي کال د دریمې ربعې په اوږدو کې د وارداتو په ټوکرۍ کې دویمه لویه ونډه مصرفي توکو ثبت کړې ده چې کچه یې د ارزوني لاندې ربعې په اوږدو کې له ۲۱.۴ سلنې څخه ۲۸.۴ سلنې ته زیاته شوې ده. همدا ډول د ارزښت له پلوه، د مصرفي توکو د وارداتو لګښت د ۱۳۹۵ مالي کال په دریمه ربعه کې ۴۱۳.۲۷ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د همدې ربعې د ۴۹۳.۷۱ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۱۶ سلنه کموالی ښکاره کوي.
- د نفتو او روغنیاتو(پترولیم) واردات د افغانستان د وارداتو په ټوکرۍ کې دریمه لویه ونډه جوړوي چې د نفتو او روغنیاتو کچه د ۱۳۹۵ مالي کال په دریمه ربعه کې له ۲۹.۱ سلنې څخه ۱۴.۷ سلنې ته راکمه شوې ده. په ټولیزه وارداتو کې د دې توکو کچه د ۱۳۹۵ مالي کال په دریمه ربعه کې ۲۱۳.۸۵ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال په ورته ربعه کې د ۶۶۹.۳۸ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۶۸ سلنه د پام وړ کموالی ښکاره کوي.
- همدا ډول د ارزوني لاندې ربعې په اوږدو کې د صنعتي موادو کچه چې د افغانستان د وارداتو په ټوکرۍ کې تر ټولو لږه ونډه لري، د ۱۳۹۴ مالي کال د دریمې ربعې له ۷.۷ سلنې څخه ۱۱.۷ سلنې ته زیاته شوې ده. د صنعتي موادو د وارداتو کچه د ۱۳۹۵ مالي کال په دریمه کې ۱۶۹.۶۶ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ورته ربعې د ۱۷۷.۴۴ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۴ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.

پترول، پانګه ایزه توکي او صنعتي مواد لکه فلزونه پارو (سره)، کیمیاوي مواد او سمنټ چې په تولیدي سکتور کې


کارول کیږي، د ارزونې لاندې ربعه کې د پام وړ کموالی ښکاره کوي چې عمده لامل یې د ناډاډمنتیا او د لوی اقتصاد د بې ثباتۍ له کبله په ټول هېواد کې د پراختیایي پروژو کموالی ښودل شوی دی (د لا وضاحت ۳.۴- ۴.۴ جدولونه او ۹.۴ ـ ۱۰.۴ ګرافونه وګورئ)

۹.۴ ګراف: د وارداتو ترکیب (د ونډې سلنه)، د ۱۳۹۴ مالي کال دریمه ربعه




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د پولي سیاست لوی آمریت

۱۰.۴ ګراف: د وارداتو ترکیب (د ونډې سلنه)، د ۱۳۹۵ مالي کال دریمه ربعه




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د پولي سیاست لوی آمریت

**۲.۳.۴ د صادراتو ترکیب**

د ۱۳۹۵ مالي کال په دریمه ربعه کې د صادراتو ترکیب ښکاره کوي چې؛


- طبي بذرونو د افغانستان د صادراتو په ټوکرۍ کې تر ټولو لویه برخه لرې چې کچه یې د ۱۳۹۴ مالي کال د دریمې ربعې له ۳۸ سلنې څخه د ۱۳۹۵ مالي کال په دریمه ربعه کې ۴۳.۳ سلنې ته زیاته شوې ده. د طبي بذرونو له صادراتو څخه ترلاسه شوي عواید د ۱۳۹۵ مالي کال په دریمه ربعه کې ۷۴.۶۶ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال ورته ربعې کې ۵۹.۴۸ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۲۶ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.
- د هېواد په ټولیزه صادراتو کې دویمه لویه ونډه خوراکي توکو (تیلي بذرونو، تازه او وچې میوو) ثبت کړې ده. د خوراکي توکو ونډه د ۱۳۹۴ مالي کال د دریمې ربعې له ۴۴.۷ سلنې څخه د ۱۳۹۵ مالي کال په دریمه ربعه کې ۳۷.۹ سلنې ته راکمه شوې ده. د ارزښت له پلوه د خوراکي توکو صادرات د ۱۳۹۵ مالي کال په دریمه ربعه کې ۶۵.۲۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د دریمې ربعې د ۷۰ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۷ سلنه کموالی ښکاره کوي.
- په ټولیزه صادراتو کې د څرمنو او وړیو کچه چې د افغانستان د ټولیزه صادراتو دریمه لویه ونډه جوړوي د تېر مالي کال د دریمې ربعې له ۴.۶ سلنې څخه د ۱۳۹۵ مالي کال په دریمه ربعه کې ۱۶.۲ سلنې ته زیاته شوې ده. همدا ډول، د څرمنو او وړیو څخه د صادراتو عواید د ۱۳۹۵ مالي کال په دریمه ربعه کې ۲۷.۹۲ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د دریمې ربعې د ۷.۲۶ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۲۸۵ سلنه د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي.
- همدا ډول، غالي او ټغرونه چې په تېرو لسیزو کې یې د افغانستان د صادراتو بنسټیزه برخه جوړوله، د ټولیزه صادراتو په ټوکرۍ کې تر ټولو کوچنۍ ونډه لري. د دې ترڅنګ، د غالیو او ټغرونو د صادراتو کچه د ارزونې لاندې ربعه کې له ۱۲.۶ سلنې څخه ۲.۷ سلنې ته راغورځېدلې ده.

د غالیو او ټغرونو د صادراتو عواید د ۱۳۹۵ مالي

کال په دريمه ربعه کې ۴.۵۹ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسيږي چې ۱۳۹۴ مالي کال د ورته ربعې د ۱۹.۷۱ ميليونه امريکايي ډالرو په پرتله ۷۷ سلنه د پام وړ ټيټوالی په ګوته کوي.


(۱۱.۴ او ۱۲.۴ ګرافونه) د ۱۳۹۴ مالي کال د دريمې ربعې او د ۱۳۹۵ مالي کال د دريمې ربعې د صادراتو ترکيب ښکاره کوي.

۱۱.۴ ګراف: د صادراتو ترکيب ( د ونډې سلنه)، د ۱۳۹۴ مالي کال دريمه ربعه




سرچينه: د احصائيې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د پولي سياست لوی آمريت

۱۲.۴ ګراف: د صادراتو ترکيب ( د ونډې سلنه)
د ۱۳۹۵ مالي کال دريمه ربعه




سرچينه: د احصائيې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د پولي سياست لوی آمريت

**۴.۴ بهرنۍ پورونې**

۵.۴ جدول او ۱۳.۴ ګراف ښکاره کوي چې د افغانستان ټوليزه بهرنۍ پورونې (بدهي) د ۱۳۹۵ مالي کال په دريمه ربعه کې ۲،۱۴۷.۲۷ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسيږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د دريمې ربعې د ۲،۱۴۰.۳۳ ميليونه امريکايي ډالرو په پرتله شاوخوا ۷ ميليونه امريکايي ډالره زياتوالی ښکاره کوي. د ټوليزه بهرنيو پورونو زياتوالي يو شمېر اوږد مهاله عواملو پورې تړاو لري.

افغانستان د ارزونې لاندې موده کې نړيوالې پراختيايي ټولنې (نړيوال بانک)، د آسيا پراختيايي بانک، د پيسو نړيوال صندوق او د OPEC صندوق ته د پور د اصلي مبلغ بيا اداينه کړې ده. حال دا چې نړيوال بانک، د آسيا پراختيايي بانک او د کويټ صندوق ته د خدمتونو لګښتونه هم تاديه شوي دي.

په ورته وخت کې افغانستان ته د ستر څو اړخيزه پور ورکوونکي په توګه نړيوال بانک د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې ځيني اصلي پورونو او د خدمتونو لګښتونه بخښلي او د آسيا پراختيايي بانک بيا يوازې د خدمتونو لګښتونه بخښلي دي.

سربېره پر دې، د پاريس کلب له غړو پرته لکه (پرمختيا لپاره د سعودي صندوق، بلغاريا، د کويټ صندوق او ايران) د پور ورکونې کچه د ۱۳۹۵ مالي کال په دريمه ربعه کې ۸۷.۲۳ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسيږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ورته ربعې د ۸۵.۹۰ ميليونه امريکايي ډالرو په پرتله ۲ سلنه ډېر لږ زياتوالی ښکاره کوي.


د پاريس کلب پور ورکوونکو Paris Club Creditors ته د ټوليزه ورکول کيدونکو پورونو کچه د ۱۳۹۵ مالي کال په دريمه ربعه کې ۸۸۲.۳۲ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسېږي چې د روسيې فدراسيون ته ورکول کيدونکې دي.

په بله وينا، افغانستان ته کوم پورونه چې د پاريس کلب غړو ورکړي د ټولو جاري بهرنيو پورونو شاوخوا ۴۱.۰ سلنه جوړوي چې د تير کال د دريمې ربعې په پرتله د ۱۳۹۵ مالي کاله په دريمه ربعه کې ۱ سلنه کموالی لري.

له بلې خوا، افغانستان ته د څو اړخيزو پور ورکوونکو د پور کچه د ۱۳۹۵ مالي کال په دريمه ربعه کې ۱،۱۷۷.۷۲ ميليونه امريکايي ډالرو ته رسيږي چې د تير کال د ورته ربعې د

۱،۱۸۲.۶۲ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله د ارزونې لانـدې موده کې شاوخوا ۵ میلیونه امریکایي ډالره کموالی ښـکاره کوي.

۱۳.۴ ګراف: د بهرنی پوراینې پرته کول، د ۱۳۹۴ کال دریمه ربعه او د ۱۳۹۵ کال دریمه ربعه




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د پولي سیاست لوی آمریت

**۵.۴ خالصه نړیواله زېرمې**

د شته وروستیو شمېرو پر بنسټ، خالصه نړیواله زېرمې (NIR) د ۱۳۹۵ مالي کال په دریمه ربعه کې ۶،۷۶۷.۸۰ میـلیونـه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ثبت شوې ۶،۶۰۱.۵۱ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله شـاوخـوا ۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي (د لا وضاحت لپاره ۷.۴ جدول او ۱۴.۴ ګراف ته مراجعه وکړئ).


د خالصه نړیواله زیرمو (NIR) د کچې د زیـاتـېدو عـمـده لامل د شتمنیو د زېرمو زیاتوالی په ګوته شوی چې د ۱۳۹۵ مالي کال په دریمه ربعه کې ۷،۳۴۷.۴۲ میلیونـه امـریـکـایـي ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورتـه ربـعـې ۷،۰۴۴.۵۹ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۴ سلنه لوړوالی لري.

همدا ډول د ۱۳۹۵ مالي کال په دریمه ربعه کې د پوراینې د زېرمو کچه ۵۷۹.۶۱ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د دریمې ربعې د ۴۴۳.۰۸ میلیونه امریکـایـي ډالره ثبت شوې کچې په پرتله ۳۱ سلنه زیاتوالـی ښـیـي؛ دا شمېرې ښکاره کوي چې د پوراینې د زېرمو د کـچـې پـه پرتله د شتمنیو د زېرمو کچه لوړه ده. د پورایـنـو زېـرمـو د کچې د زیاتیدو اصلي لامل په بهرنیو اسعارو د سوداګـریـزو بانکونو امانتونه په ګوته شوي چې کچه یې د ۱۳۹۵ مـالـي کال په دریمه ربعه کې ۵۰۶.۵۸ میلیونه امریکایـي ډالـرو تـه رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ثبـت شـوې ۳۵۲.۲۱ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله شاوخوا ۴۴ سلـنـه زیـاتـوالـی ښکاره کوي.

له تمویلي منابعو څخه د ګټې اخیستنې کچه د ۱۳۹۵ مـالـي کال په دریمه ربعه کې ۷۲.۹۰ میلیونه امریکـایـي ډالـرو تـه رسیږي چې د تیر کال د ورته ربـعـې د ۹۰.۷۴ مـیـلـیـونـه امریکایي ډالرو په پرتله شاوخوا ۲۰ سلنه ټیټوالی په ګوته کوي. په بهرنیو اسعارو کې د نامیشتو امانتونو د پوراینې د زېـرمـې کچې د ۱۳۹۵ مالي کال په دریمه ربعه کې هیڅ ډول بدلـون موندلی نه دی.

اوس مهال، خالصه نړیواله زېـرمـې(NIR) د شـاوخـوا ۱۴ میاشتو وارداتــو لپاره بسنه کـوي. پـه داسې حـال کې هـغـه هېوادونه چې د خپلو خالصه نړیواله زیـرمـو لـه لارې د ۶ میاشتو واردات ترسره کولای شي د خپلو زیرمو له نسبتاً ښـه وضعیت څخه خوښ ښکاري.

۱۴.۴ ګراف: د تیرې دورې په اوږدو کې خالصه نړیواله زیرمې (په میلیون امریکایي ډالر)




سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د پولي سیاست لوی آمریت

### ۱.۴ جدول: د توکو سوداګري (په میلیون امریکایي ډالر)

| کلونه | ۱۳۹۱ مالي کال | | ۱۳۹۲ مالي کال | | ۱۳۹۳ مالي کال | | ۱۳۹۴ دریمه ربعه | | ۱۳۹۵ دریمه ربعه | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | تولیز | ونډه (سلنه) | تولیز | ونډه (سلنه) | تولیز | ونډه (سلنه) | تولیز | ونډه (سلنه) | تولیز | ونډه (سلنه) |
| واردات | 6,419.67 | 100% | 9,339.60 | 100% | 7,294.63 | 100% | 2,303.13 | 100% | 1,454.17 | 100% |
| صنعتي مواد | 969.88 | 15.1% | 1,272.14 | 13.6% | 863.19 | 11.8% | 177.44 | 7.7% | 169.66 | 11.7% |
| نفت او روغنیات | 1,083.65 | 16.9% | 2,167.37 | 23.2% | 1,155.94 | 15.8% | 669.38 | 29.1% | 213.85 | 14.7% |
| مصرفي توکي | 1,255.48 | 19.6% | 1,942.85 | 20.8% | 2,345.86 | 32.2% | 493.71 | 21.4% | 413.27 | 28.4% |
| پانګه ایزه توکي او داسې نور | 3,110.66 | 48.5% | 3,957.24 | 42.4% | 2,930 | 40.2% | 962.60 | 41.8% | 657.39 | 45.2% |
| صادرات | 261.63 | 100% | 499.81 | 100.0% | 620.88 | 100% | 156.45 | 100% | 172.45 | 100 % |
| غالي او ټغرونه | 8.43 | 3 % | 85.49 | 17.1 % | 87.0 | 14.0 % | 19.71 | 12.6% | 4.59 | 2.7% |
| خوراکي توکي | 104.23 | 40 % | 175.92 | 35.2 % | 272.13 | 43.8 % | 70.00 | 44.7% | 65.28 | 37.9% |
| څرمن او وړۍ | 26.82 | 10% | 59.54 | 11.9 % | 49.35 | 7.9% | 7.26 | 4.6% | 27.92 | 16.2% |
| طبي بذرونه او داسې نور | 122.15 | 47 % | 178.86 | 35.8 % | 212.36 | 34.2 % | 59.48 | 38.0% | 74.66 | 43.3% |
| د سوداګرۍ بیلانس | -6,158.04 | | -8,839.79 | | -6,673.75 | | -2,146.68 | | -1,281.72 | |
| د کورني ناخالصه تولیداتو د ونډې په توګه د سوداګرۍ بیلانس | -31% | | -43% | | -31% | | -10% | | | |

سرچینه: د پولي سیاست لوی آمریت، د افغانستان بانک

### ۲.۴ جدول: د افغانستان د ادایتو بیلانس (په میلیون امریکایي ډالر)

| اقلام/کلونه | ۱۳۹۴ لومړۍ ربعه | ۱۳۹۴ دویمه ربعه | ۱۳۹۴ دریمه ربعه | ۱۳۹۴ څلورمه ربعه | ۱۳۹۵ لومړۍ ربعه | ۱۳۹۵ دویمه ربعه | ۱۳۹۵ دریمه ربعه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| جاري حساب | -809.06 | -1138.27 | -1744.16 | -1062.09 | -1176.74 | -902.80 | -1097.09 |
| کریډیټ | 1249.14 | 1056.66 | 994.64 | 817.05 | 806.48 | 1121.57 | 740.07 |
| ډیبټ | -2058.20 | -2194.93 | -2738.80 | -1879.14 | -1983.22 | -2024.36 | -1837.15 |
| د توکو حساب | -1500.51 | -1625.15 | -2042.63 | -1288.93 | -1482.22 | -1285.14 | -1322.18 |
| کریډیټ | 128.89 | 121.96 | 162.90 | 166.24 | 133.92 | 116.99 | 172.46 |
| ډیبټ | -1629.41 | -1747.10 | -2205.53 | -1455.17 | -1616.14 | -1402.13 | -1494.64 |
| دخدمتونو حساب | -102.30 | -202.30 | -200.80 | -224.01 | -188.22 | -165.87 | -218.94 |
| کریډیټ | 264.48 | 190.39 | 279.20 | 133.31 | 127.63 | 129.97 | 99.73 |
| ډیبټ | -366.78 | -392.69 | -480.00 | -357.33 | -315.85 | -295.83 | -318.67 |
| د عوایدو حساب | 72.71 | 48.19 | 37.34 | 21.72 | -6.82 | -229.97 | 17.50 |
| کریډیټ | 107.12 | 68.88 | 63.58 | 47.40 | 14.08 | 37.74 | 28.75 |
| ډیبټ | -34.41 | -20.69 | -26.24 | -25.68 | -20.89 | -267.71 | -11.25 |
| جاري لیږدوني | 721.05 | 640.99 | 461.93 | 429.13 | 500.51 | 778.18 | 426.53 |
| کریډیټ | 748.65 | 675.43 | 488.95 | 470.09 | 530.85 | 836.88 | 439.12 |
| ډیبټ | -27.60 | -34.45 | -27.03 | -40.96 | -30.34 | -58.70 | -12.59 |
| پانګه ایز او مالي حسابونه | 192.09 | 270.82 | 512.25 | 596.47 | -1.29 | 456.74 | 183.31 |
| پانګه ایز حساب | 276.74 | 340.30 | 299.40 | 509.43 | 168.22 | 267.45 | 249.34 |
| کریډیټ | 284.30 | 353.82 | 309.78 | 509.83 | 171.13 | 270.30 | 249.34 |
| ډیبټ | -7.56 | -13.52 | -10.38 | -0.41 | -2.91 | -2.85 | 0.00 |
| پانګه ایزي لیږدوني | 283.36 | 350.94 | 308.73 | 509.43 | 171.13 | 270.30 | 249.34 |
| کریډیټ | 284.29 | 353.49 | 309.73 | 509.83 | 171.13 | 270.30 | 249.34 |
| ډیبټ | -0.93 | -2.55 | -0.99 | -0.41 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| مالي حساب | -84.65 | -69.47 | 212.84 | 87.04 | -169.51 | 189.29 | -66.04 |
| مستقیمه پانګونه | 17.80 | 33.18 | 77.98 | 40.20 | 17.74 | 21.54 | 23.53 |
| د پورټوفولیو پانګونې | -14.82 | -36.55 | -15.83 | -14.31 | -18.47 | -39.15 | -20.33 |
| شتمنی | -14.82 | -36.55 | -15.83 | -14.31 | -18.47 | -39.15 | -20.33 |
| پوروانې | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| نورې پانګونې | 52.74 | -18.37 | -91.79 | -4.37 | -68.69 | 513.11 | -35.03 |
| شتمنی | 62.87 | -5.39 | -108.22 | -4.38 | -89.18 | 87.17 | -11.70 |
| پوروانې | -10.13 | -12.98 | 16.44 | 0.01 | 20.49 | 425.94 | -23.33 |
| د زیرمو شتمنی | -140.36 | -47.73 | 242.48 | 65.52 | -100.09 | -306.21 | -34.21 |
| خالصه خطاګانې او تیروتنې | -616.97 | -867.44 | -1231.91 | -465.62 | -1178.03 | -446.05 | -913.78 |

سرچینه: د احصائیې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د پولي سیاست لوی آمریت

### ۳.۴ جدول: د بهرني سوداګرۍ لورى، د ۱۳۹۵ مالي کال دريمه ربعه (په ميليون امريکايي ډالر)

| د هېواد نوم | صادرات | د ونډې سلنه | واردات | د ونډې سلنه | د سوداګرۍ بيلانس |
|---|---|---|---|---|---|
| پاکستان | 110.60 | 64.13% | 225.15 | 15.48% | -114.55 |
| هند | 48.75 | 28.27% | 32.90 | 2.26 % | 15.85 |
| ايران | 1.75 | 1.01% | 265.88 | 18.28% | - 264.13 |
| جرمني | 0.25 | 0.14% | 7.02 | 0.48% | - 6.77 |
| چين | 0.06 | 0.03% | 335.09 | 23.04% | - 335.03 |
| بريتانيا | | 0.00% | 2.21 | 0.15 % | - 2.21 |
| سعودي عربستان | 0.03 | 0.02% | | 0.00 % | 0.03 |
| امريکا متحده ايالات | | 0.00% | 19.59 | 1.35 % | -19.59 |
| د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونه | 1.73 | 1.00% | 320.60 | 22.05% | -318.87 |
| جاپان | | 0.00% | 63.58 | 4.37% | - 63.58 |
| نور هېوادونه | 9.28 | 5.38% | 182.19 | 12.53% | - 172.91 |
| ټوليز | 172.45 | 100 % | 1,454.21 | 100% | (1,281.76) |

سرچينه: د احصائيې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د پولي سياست لوى آمريت

### ۴.۴ جدول: د بهرني سوداګرۍ لورى، د ۱۳۹۴ مالي کال دريمه ربعه (په ميليون امريکايي ډالر)

| د هېواد نوم | صادرات | د ونډې سلنه | واردات | د ونډې سلنه | د سوداګرۍ بيلانس |
|---|---|---|---|---|---|
| پاکستان | 78.89 | 50.43% | 307.41 | 13.35% | - 228.52 |
| هند | 38.85 | 24.83% | 43.68 | 1.90% | - 4.83 |
| ايران | 4.50 | 2.88% | 561.32 | 24.37% | - 556.82 |
| جرمني | 1.69 | 1.08% | 8.17 | 0.35% | - 6.48 |
| د ګډو ګټو خپلواکه هېوادونه | 8.07 | 5.16% | 514.70 | 22.35% | - 506.63 |
| چين | 2.27 | 1.45% | 336.59 | 14.61% | - 334.32 |
| سعودي عربستان | 0.00 | 0.00% | | 0.00% | 0.00 |
| جاپان | | 0.00% | 72.94 | 3.17% | - 72.94 |
| بريتانيا | | 0.00% | 1.67 | 0.07% | - 1.67 |
| امريکا متحده ايالات | | 0.00% | 37.02 | 1.61% | - 37.02 |
| نور هېوادونه | 22.18 | 14.18% | 419.59 | 18.22% | - 397.41 |
| ټوليز | 156.45 | 100.00 % | 2303.09 | 100.00 % | -2146.64 |

سرچينه: د احصائيې مرکزي اداره/ د افغانستان بانک د پولي سياست لوى آمريت

### ۵.۴ جدول: بهرنۍ پورواينې: د ۱۳۹۵ مالي کال دريمه ربعه ( په ذکر شوي واحدونو کې)

| | په ميليون امريکايي ډالر | ټوليزه سلنه |
|---|---|---|
| ټوليزه بهرنۍ پورواينې | 2,147.27 | 100.00 |
| دوه اړخيزه | 969.54 | 45.15 |
| د پاريس کلب | 882.32 | 41.09 |
| د روسيې فدراسيون | 882.32 | 41.09 |
| امريکا متحده ايالات | - | 0.00 |
| جرمني | - | 0.00 |
| د پاريس کلب پرته | 87.23 | 4.06 |
| څو اړخيزې ټولنې: | 1,177.72 | 54.85 |
| د پرمختيا نړيواله ټولنه ( نړيوال بانک) | 363.28 | 16.92 |
| د آسيا پراختيايي بانک | 674.77 | 31.42 |
| د پيسو نړيوال صندوق | 88.04 | 4.10 |
| اسلامي پرمختيايي بانک | 49.87 | 2.32 |
| د اوپيک صندوق | 1.75 | 0.08 |

سرچينه: د پورواينې د شتمنيو د مديريت واحد، د افغانستان د ماليې وزارت

### ۶.۴ جدول: خالصه نړیواله زېرمې؛ د ۱۳۹۴ مالي کال دریمه ربعه (میلیون امریکایي ډالر)

| د تېرې ربعې بدلونونه | ۱۳۹۲ مالي کال | د بدلونونو سلنه | ۱۳۹۳ مالي کال | د بدلونونو سلنه | ۱۳۹۴ دریمه ربعه | د بدلونونو سلنه | ۱۳۹۵ دریمه ربعه | د بدلونونو سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| خالصه نړیواله زېرمې (په میلیون ډالر) | 6,678.62 | 23.22 | 6,693.65 | 0.22 | 6,601.51 | -1.38 | 6,767.80 | 2.52 |
| شتمنه ایزه زېرمې | 7,183.33 | 22.71 | 7,247.76 | 0.90 | 7,044.59 | - 2.80 | 7,347.42 | 4.30 |
| د پوراینې زېرمې | 504.71 | 10.91 | 554.12 | 9.79 | 443.08 | - 20.04 | 579.61 | 30.81 |
| په بهرنیو اسعارو د سوداګریزو بانکونو امانتونه | 367.65 | 4.00 | 443.80 | 20.71 | 352.21 | - 20.64 | 506.58 | 43.83 |
| په بهرنیو اسعارو د نا میشتو امانتونه | 0.14 | - 89.57 | 0.14 | - 0.02 | 0.14 | 0.00 | 0.14 | - 0.03 |
| له تمویلي منابعو څخه ګټه اخیستنه | 136.92 | 17.53 | 110.18 | - 19.53 | 90.74 | -17.65 | 72.90 | - 19.66 |
| ناخالصه نړیواله زېرمې (د وارداتو د میاشتې په اساس) | 9.23 | | 11.92 | | 9.18 | | 15.16 | |
| خالصه نړیواله زېرمې (د وارداتو د میاشتې په اساس) | 8.58 | | 11 | | 9 | | 14 | |

سرچینه: د پولي سیاست لوی آمریت/ د افغانستان بانک

# ۵

# د مالي سکتور بدلونونه

# ۵

# د مالي سکتور بدلونونه

د ۱۳۹۵ مالي کال په دريمه ربعه کې د عامه سکتور په ځانګړي توګه د حکومت لخوا د کورني عوايدو د راټولولو په برخه کې ټوليزه کړنې مطلوبې وې.

همدا ډول د افغانستان عامه لګښتونه د ۱۳۹۵ مالي کال د دريمې ربعې په اوږدو کې نامتوازنه پاتې شوي دي چې عمده لاملونه يې د خراب امنيتي وضعيت په پايله کې د شخصي پانګونې کموالی او د بودجې په اجراء کې ځنډ ګڼل کيږي. سربېره پر دې دغو عواملو د عملياتي لګښتونو په ځانګړي توګه د نويو ګمارل شويو ملي پوليسو او ملي اردو د غړو د معاشونو د زياتوالي ترڅنګ حکومت د مالي ټيکاو په ساتلو کې جدي ستونزو سره مخ کړی دی.

## ۱.۵ د بودجې د اجراء نرخ

د ۱۳۹۵ مالي کال له پيل څخه د دريمې ربعې تر پايه پورې حکومت توانيدلی چې د تېر کال د ۴۶ سلنې په پرتله د ځانګړې شوې بودجې يوازې ۴۷ سلنه مصرف کړي. د عادي (عملياتي) بودجې د اجراء نرخ د ۱۳۹۴ مالي کال د دريمې ربعې له ۵۴ سلنې څخه۵۶ سلنې ته زيات شوی دی. په ورته وخت کې د پراختيايي لګښت د اجراء نرخ د تېر کال د دريمې ربعې د پای له ۳۰ سلنې څخه ۳۰.۲۱ سلنې ته لوړ شوی دی. د ټوليزه بودجې د اجراء نرخ د ۱۳۹۴ مالي کال د دريمې ربعې د پای په پرتله نږدې ۱ سلنه زياتوالی ښکاره کوي.

د اصلي بودجې د اجراء په نرخ کې کموالي ډېر لاملونه لري چې ډېر مهم يې د تدارکاتو اوږده پروسه او د تدارکاتو د ملي ادارې لخوا د لګښتونو په تصويب کې ځنډ، د بودجې د تصويب ځنډول، په ولايتونو کې خراب امنيتي شرايط او د بودجوي ادارو ناسمه کړنې ګڼل کيږي.

## ۲.۵ د بودجې کسر


د بسپنه ورکوونکو له مرستو مخکې ټوليزې بودجې د ۱۳۹۵ مالي کال په دريمه ربعه کې ۲۹.۴۳ ميلیارده افغانۍ کسر درلوده. حال دا چې د ارزونې لاندې ربعه کې د بسپنو او د کورني عوايدو په ګډون ټوليزه بودجې ۶.۹۶ ميلیارده افغانۍ ډېريدنه درلودلې ده.

## ۳.۵ د عوايدو راټولول

د ۱۳۹۵ مالي کال په دريمه ربعه کې ټوليزه راټول شوي کورني عوايد ۵۹.۷۳ ميلیارده افغانۍ ته رسيږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ورته ربعې د ۲۸.۸۶ ميلیارده افغانۍ په پرتله ۱۰۷ سلنه د پام وړ زياتوالی ښکاره کوي.


په دريمه ربعه کې د مثبت بدلون عمده لاملونه په ګمرکونو او د عوايدو په ادارو کې د بنسټيزو سمونونو راوستل، د نوي مالياتي تدابيرو پلي کول، د موبايل پر مصرفي کارتونو باندې د ماليې د وضع کولو ترڅنګ په نورو برخو باندې د مالیو زياتول او د ګمرکو او عوايدو په ادارو کې د نورو مهمو اداري سمونونو راوستل دي.

۱.۵ ګراف: د ټوليزه عوايدو ترکيب، د ۱۳۹۵ مالي کال دريمه ربعه





سرچينه: د ماليې وزارت/ د پولي سياست د لوی آمريت محاسبه

۲.۵ ګراف: د تولیزه عوایدو پرتله کول، د ۱۳۹۵ مالي کال دریمه ربعه او د ۱۳۹۴ مالي کال دریمه ربعه




سرچینه: د مالیې وزارت/ د پولي سیاست لوی آمریت محاسبه

۴.۵ ګراف: د مالیاتي عوایدو ترکیب





سرچینه: د مالیې وزارت/ د پولي سیاست لوی آمریت محاسبه

### ۱.۳.۵ مالیاتي عواید

د شته معلوماتو له مخې، د ګمرکي حقونو په ګډون تولیزه مالیاتي عواید د ۱۳۹۴ مالي کال د دریمې ربعې له ۲۱.۱۳ میلیارده افغانۍ څخه د ۱۳۹۵ مالي کال په ورته ربعه کې ۲۴.۴۹ میلیارده افغانۍ ته زیات شوي چې ۱۶ سلنه یا ۳.۳۶ میلیارده افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي.

حال دا چې له ګمرکي محصول څخه تولیزه راټول شوي مالیاتي عواید د ۱۳۹۵ مالي کال په دریمه ربعه کې ۶.۹۵ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ورته ربعې د ۷.۴۶ میلیارده افغانۍ په پرتله ۷ سلنه کموالی ښکاره کوي.

۳.۵ ګراف: د مالیاتي عوایدو پرتله کول




سرچینه: د مالیې وزارت/ د پولي سیاست لوی آمریت محاسبه

### ۲.۳.۵ غیر مالیاتي عواید

غیر مالیاتي عواید چې د کورني عوایدو عمده برخه جوړوي، ۳۳.۹۴ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیر کال د ورته ربعې د ۶.۶۰ میلیارده افغانۍ په پرتله ۴۱۴ سلنه د پام وړ زیاتوالی په ګوته کوي. د غیر مالیاتي عوایدو د دې زیاتوالي اصلي لاملونه د مخکې ورکړې پورونو د عوایدو او د لګښتونو د بیرګشت، د کان کیندنې د صنعت، د اداري فیسونو او د داسې نورو عوایدو زیاتوالی په ګوته کوي.

له بلې خوا، د کان کیندنې له صنعت څخه ترلاسه شوې عواید چې د غیر مالیاتي عوایدو ستره برخه جوړوي او کچه یې د ۱۳۹۵ مالي کال په دریمه ربعه کې ۰.۵۶ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تیرو ربعو او د ۱۳۹۴ مالي کال د ورته ربعې د ۰.۱۳ میلیارده افغانۍ په پرتله ۳۲۳ سلنه زیاتوالی ښیي. تولنیزې بسپنې چې د تولیزه کورني عوایدو یوازې ۲ سلنه جوړوي، ۱۵ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. تولیزه راټول شوي عواید د ۱۳۹۴ مالي کال د ورته ربعې د ۱.۱۳ میلیارده افغانۍ په پرتله ۱.۳۰ میلیارده افغانۍ ته زیاتوالی موندلی دی.


### ۴.۵ د بسپنه ورکوونکو مرستې

د افغانستان حکومت له بېلابېلو بسپنه ورکوونکو او نړيوالو کمېټو څخه په دواړو عملياتي او پرمختيايي لګښتونو کې د مختلفو پروګرامونو د تمويل په موخه مالي مرستې ترلاسه کوي. ټولېزه مالي مرستې د ۱۳۹۴ مالي کال د ورته ربعې په پرتله د ۱۳۹۵ مالي کال په دريمه ربعه کې يو اندازه زياتوالی ښکاره کوي.

ټولېزه پراختيايي او عملياتي بسپنې د ۱۳۹۵ مالي کال په دريمه ربعه کې ۳۶.۳۹ ميليارده افغانۍ ته رسېږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د ورته ربعې د ۳۵.۷۰ ميلياردو افغانيو په پرتله ۲ سلنه زياتوالی لري.


په همدې ترتيب، د افغانستان د بيا رغونې د پېسو صندوق پروګرام (ARTF) لاندې ترلاسه شوې بسپنې د ۱۳۹۵ مالي کال په دريمه ربعه کې ۸.۷۵ ميلياردو افغانيو ته رسېږي چې د تېر کال د ورته ربعې په پرتله ۴۶ سلنه کموالی ښکاره کوي. همدا ډول د افغانستان د قانون او نظم لپاره وجهي صندوق (LOTFA) څخه ترلاسه شوي مالي مرستې د ارزونې لاندې ربعه کې ۶.۳۶ ميلياردو افغانيو ته رسېږي چې د ۱۳۹۴ مالي کال د دريمې ربعې د ۶.۴۲ ميلياردو افغانيو په پرتله ۱ سلنه کموالی په ګوته کوي. په دريمه ربعه کې حکومت توانيدلی چې د کورنيو عوايدو په مرسته د ټولېزه اصلي بودجې ۶۲ سلنه تمويل کړي او پاتې ۳۲ سلنه يې بهرنۍ بسپنې (مالي مرستې) تمويلوي.

۵.۵ ګراف: د ملي بودجې د تمويلولو سرچينې، د ۱۳۹۵ مالي کال دريمه




سرچينه: د ماليې وزارت/ د پولي سياست د لوی آمريت محاسبه

۶.۵ ګراف: د بسپنو ورکوونکو د ونډې پرتله کول




سرچينه: د ماليې وزارت/ د پولي سياست د لوی آمريت محاسبه

### ۵.۵ لګښتونه


د ۱۳۹۵ مالي کال په دريمه ربعه کې ټولېزه لګښتونه ۸۹.۱۶ ميلياردو افغانيو ته رسېږي چې د تېر کال د همدې مودې د ۸۲.۴۹ ميلياردو افغانيو لګښت په پرتله ۸ سلنه زياتوالی ښکاره کوي.

همدا ډول د ۱۳۹۵ مالي کال په دريمه ربعه کې عادي لګښتونه ۶۵.۰۹ ميلياردو افغانيو ته رسېږي چې د تېر کال د ورته ربعې د ۶۶.۵۷ ميلياردو افغانيو په پرتله ۲ سلنه يا ۱.۴ ميلياردو افغانيو ټيټوالی په ګوته کوي.

له بلې خوا، پراختيايي لګښتونه له ۱۵.۹۱ ميلياردو افغانيو څخه ۲۴.۰۷ ميلياردو افغانيو ته زيات شوي چې د تېر کال د ورته ربعې په پرتله ۵۱ سلنه د پام وړ زياتوالی لري.

د ټولېزه لګښتونو ۷۳ سلنه عادي بودجه او ۲۷ سلنه پراختيايي بودجه جوړوي.

۷.۵ ګراف: د حکومت د ټولېزه لګښتونو ترکيب، د ۱۳۹۵ مالي کال دريمه ربعه




سرچينه: د ماليې وزارت/ د پولي سياست د لوی آمريت محاسبه

٦

# د بانکي نظام د کړنو څرنګوالی

## ۶
## د بانکي نظام د کړنو څرنګوالی

د بانکي نظام شتمنۍ د تېرې ربعې (د ۲۰۱۶ کال د جون د پای) د ۲.۵۱ سلنه زیاتوالي په پرتله د ارزونې لاندې ربعه کې ۰.۴۱ سلنه یا ۱.۱۲ میلیارده افغانۍ ته زیاتې شوي دي. د ارزونې لاندې ربعه کې د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو د زیاتیدو اصلي لامل د ګټې او د پانګې په بهیدنه کې زیاتوالی ښودل شوی دی.

د بانکي نظام د ناخالصه پورونو پورتفولیو د تیرې ربعې (د ۲۰۱۶ کال د جون) د ۲.۹۷ سلنې زیاتوالي په پرتله ۸.۵۷ سلنه (۳.۹۸ میلیارده افغانۍ) ته راکمه شوې ده. په دریمه ربعه کې د پور په پورتفولیو کې د کموالي اصلي لاملونه د شتمنیو بیرته ترلاسه کول چې ۱.۰۴ میلیارده افغانۍ ته رسېږي، د پورونو تسویه او د اضافه برداشت پورونو کمه کارونه ګڼل کیږي.

امانات چې د بانکي نظام مهمه تمویلي سرچینه جوړوي، ۲۳۷.۵۵ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د بانکي نظام د ټولیزه پوراینو ۹۵.۷۴ سلنه جوړوي. د ۱۳۹۵ مالي کال په دریمه ربعه کې امانتونه د تیرې ربعې د ۳.۰۶ سلنې زیاتوالي په پرتله ۰.۲۸ سلنې ته راکم شوي دي. د بانکي نظام په ټولیزه امانتونو کې د کموالي اصلي لامل په امریکایي ډالرو د سپما امانتونو کموالی ګڼل کیږي.

د بانکي نظام ډیری امانتونه په امریکایي ډالرو (۶۵.۳۶ سلنه) ورپسې افغانۍ امانتونه ۲۹.۲۱ سلنه دي. د بانکي نظام افغانۍ امانتونه د ۲۰۱۶ کال د جون د ۱۴.۸۸ سلنې زیاتوالي په پرتله په سلو کې ۰.۸۲ زیاتوالی ښکاره کوي، په داسې حال کې چې ډالري امانتونو د ارزونې لاندې ربعه کې ۱.۵۲ سلنه کموالی ثبت کړی دی.

د بانکي نظام پانګې پیاوړی وضعیت درلود او ۴.۲۵ سلنه زیاتوالي په درلودلو سره ۲۸.۹۶ میلیارده افغانۍ ته رسېږي. د بانکي نظام په مالي پانګې کې د زیاتوالي عمده لاملونه د ګټې او د پانګې بهیدنې په ګوته شوي دي. د بانکي نظام پانګې د کفایت نسبت ۲۲.۰۲ سلنه ثبت شوی دی. د ټولو بانکونو د پانګې د کفایت نسبت له ټاکلي حد څخه پورته دي، خو د یو بانک د کفایت نسبت منفي دی. د بانکي نظام د ارزونې لاندې ربعه کې ۵۹۳ میلیونه افغانۍ خالصه ګټه کړې ده چې د تېرې ربعې د ۳۸۴ میلیونه افغانۍ خالصې ګټې څخه زیاتوالی ښکاره کوي. له شتمنۍ څخه د ترلاسه شوې ګټې (ROA) کلنی نرخ ۱.۹۳ سلنې ته رسېږي چې د دویمې ربعې د ۲.۴۸ سلنې څخه کموالی ښکاره کوي. همدا ډول، د تېرې ربعې د ۲۴.۷۰ سلنې په پرتله د ۲۰۱۶ کال د جون میاشت کې د پانګې څخه ترلاسه شوې کلنۍ ګټه ۱۹.۰۹ سلنې ته رسیږي. د بانکي سکتور د ګټورتیا د زیاتوالي اصلي لامل د ارزونې لاندې موده کې د پور په تامیناتو کې د پام وړ کموالی ګڼل کیږي. خصوصي بانکونو او د بهرنیو بانکونو نمایندګیو د ارزونې لاندې ربعه د ګټې سره پای ته رسولې ده.

### ۱.۶ د بانکي نظام شتمنۍ

د بانکي نظام شتمنۍ د ۲۰۱۶ کال د جون د ۲.۵۱ سلنه زیاتوالي په پرتله د ارزونې لاندې ربعه کې ۰.۴۱ سلنې ته زیاتې شوي دي.

د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو اجزاء ښکاره کوي چې تر ټولو ښکاره زیاتیدنه په خزانه کې پیسو او د افغانستان بانک باندې د طلباتو ثبت کړې ده. ټولیزه شتمنۍ ۴.۶۶ میلیارده افغانۍ

(۴.۰۶ سلنې) ته زیاتې شوی دي. ورپسې په ترتیب سره پانګه اچونې ۱.۱۹ ملیارده افغانۍ (۵.۲۹ سلنه) او بېرته ترلاسه شوې شتمنۍ ۱.۰۴ ملیارده افغانۍ زیاتوالی موندلی دی.

په ورته وخت کې ناخالصه پورونه او د بانکونو ترمنځ طلبات د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې په ترتیب سره ۳.۹۸ ملیارده افغانۍ (۸.۵۷ سلنه) او ۳.۴۹ ملیارده افغانۍ (۴.۶۱ سلنه) کموالی ښکاره کوي.

د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو د پورټوفولیو تر ټولو مهمې برخې په خزانه کې نغدې پیسې/ په د افغانستان بانک باندې طلبات (۴۳.۱۵ سلنه)، د بانکونو ترمنځ طلبات (۲۶.۱۰ سلنه)، نګه(خالصه) پورونه (۱۳.۸۳ سلنه)، پانګونې (۸.۵۴ سلنه)، نورې شتمنۍ (۵.۱۶ سلنه) او ثابته شتمنۍ د ټولیزه شتمنیو ۲.۶۴ سلنه جوړوي. د لا وضاحت لپاره ۱.۶ جدول وګورئ.

۱.۶ ګراف: د بانکي نظام په ټولیزه شتمنۍ کې د بانکونو د ډلو ونډه




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت، د افغانستان بانک

## ۱.۶ جدول: د بانکي نظام د شتمنیو او پوراینو ترکیب


| مبلغ په میلیون افغانۍ | د ۱۳۹۵ غبرګولی د ۲۰۱۶ جون | د ۱۳۹۵ وری د ۲۰۱۶ سپتمبر | د ټولیزه شتمنیو/ پوراینو سلنه | ربعه په ربعه وده |
|---|---|---|---|---|
| شتمنۍ | | | | |
| په خزانه کې پیسې او د افغانستان بانک باندې طلبات | 114,913 | 119,575 | 43.15 | 4.06 |
| د بانکونو ترمنځ طلبات | 75,827 | 72,331 | 26.10 | - 4.61 |
| پانګونې | 22,483 | 23,673 | 8.54 | 5.29 |
| | 41,443 | 38,332 | 13.83 | - 7.51 |
| پورونه (خالصه) | 535 | 526 | 0.19 | - 1.73 |
| | 0 | 1,042 | 0.38 | - |
| ثابته شتمنۍ | 7,022 | 7,318 | 2.64 | 4.21 |
| نور | 13,744 | 14,292 | 5.16 | 3.99 |
| ټولیزه | 275,967 | 277,090 | | 0.41 |
| پوراینې | | | | |
| امانتونه | 238,228 | 237,554 | 95.74 | -0.28 |
| پور اخیستنې | 3,745 | 3,357 | 1.35 | -10.38 |
| نور | 6,211 | 7,183 | 2.90 | 16.26 |
| ټولیزه | 248,184 | 248,126 | | -0.02 |
| مالي پانګه | 27,783 | 28,964 | | 4.25 |

سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت، د افغانستان بانک

### ۱.۱.۶ ناخالصه پورونه

د بانکي نظام ټولیزه ناخالصه پورونو د تېرې ربعې راپدېخوا ۳.۹۸ میلیارده افغانۍ یا ۸.۵۷ سلنه کموالی ښکاره کوي چې د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو ۱۵.۳۳ سلنه جوړوي.

۲.۶ ګراف: د ناخالصه پورونو په پورټفولیو کې د بانکي ډلو ونډه




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت، د افغانستان بانک

د ټولیزه پور په پورټفولیو کې کموالی په عمده توګه د ۱.۰۴ میلیارده افغانۍ په ارزښت د شتمنیو بېرته ترلاسه کولو، د پورونو تسویې او د اضافه برداشت پورونو کمې کارونې پورې تړاو لري.

د پور د پورټفولیو کموالی په لسو بانکونو کې تر سترګو شوی، حال دا چې څلورو بانکونو خپله پورټفولیو زیاته کړې ده. همدا ډول پاتې یو بانک (نوی کابل بانک) په پور ورکولو کې ونډه نه ده اخیستې.

د ناخالصه پورونو په پورټفولیو کې د خصوصي بانکونو او د بهرنیو بانکونو د نمایندګیو ونډه راکمه شوې ده، خو په دولتي بانکونو کې زیاتوالی راغلی دی. خصوصي بانکونو د ارزونې لاندې ربعې په اوږدو کې د ټولیزې پورټفولیو د ۹۱.۷۴ سلنې ونډې په درلودلو سره ۹.۳۰ سلنه یا ۳.۹۹ میلیارده افغانۍ کموالی، د بهرنیو بانکونو نمایندګیو د ۱.۱۸ سلنه ونډې په لرلو سره ۹.۷۲ سلنه یا ۵۳.۹۰ میلیارده افغانۍ کموالی او دولتي بانکونو د ۷.۰۸ سلنه ونډې په درلودلو سره ۲.۲۹ سلنه یا ۶۷ میلیونه افغانۍ زیاتوالی ثبت کړی دی.

### ۲.۱.۶ د پور د زیان زیرمې

د اعتباري خطر د کچې د ارزولو پرمهال بانکونه باید د خطر کمولو د اډانې له مخې د اعتباري خطر د کمولو ابزارونو ته پاملرنه وکړي. بانکونه اړ دي چې د دواړو عمومي زیرمو (معیاري شتمنۍ) او ځانګړي تدارکاتو (غیر معیاري شتمنیو) د چمتو کولو له لارې خپل اعتباري خطرونه راکم کړي.

د شتمنۍ د ډله بندۍ او د پور د تامینولو د تجدید شویو مقررو له مخې، د ۲۰۱۶ کال د سپتمبر میاشتې راهیسې بانکونه اړ دي چې لږ تر لږه ۱ سلنه زیرمې د معیاري شتمنۍ لپاره تعیین کړي.

د ۲۰۱۶ زیږدیز کال د سپتمبر (۱۳۹۵ وږي) په پای کې د بانکي نظام د ټولیزه ناخالصه پورونو تدارکاتي زېرمې ۹.۷۶ سلنې ته رسیږي چې د تېرې ربعې (۲۰۱۶ جون) د پای ۱۰.۸۰ سلنې په پرتله کموالی ښکاره کوي.

### ۳.۱.۶ د کریډټ ویشنه

د افغانستان بانک د پور پورټفولیو د خطر د تنوع او مالي خدمتونو ته د لاسرسی د لاپراختیا په موخه نور سوداګریزه پورونه دیرشو نورو سکتورونو ته متنوع کړي دي[2]. د یادولو وړ ده چې" نور سوداګریزه پورونه" د پور د پورټفولیو ۹۱.۹۲ سلنه جوړوي چې د ۲۰۱۶ کال د جون په میاشت کې متنوع شوی دی، " د تیلو او روغنیاتو" سکتور لپاره (۱۱.۲۱ سلنه)، " د نورو ټولو خدمتونو" د سکتورونو لپاره (۱۰.۳۵ سلنه)، "د رغاونې او ودانیزو" چارو سکتور لپاره (۹.۵۱ سلنه، "خوراکي توکو" لپاره (۷.۸۵ سلنه) او سکتورونو "د غونډ پلورنې" لپاره (۶.۹۲ سلنه) ځانګړې شوې ده. د کوچنۍ

۲. د ۱۳۹۳/۰۶/۲۶ نیټې د ۹۳/۰۱ ګڼې د محاسبې متحد المال

سوداګرۍ، خدمتونو او د هوايي ټرانسپورټ سکتورونو ته د پور ورکړې په دواړو مطلق مبلغ او د سلنې له پلوه د پام وړ کموالی راغلی، په داسې حال کې چې د غونډ پلورنې، سمنټو او ودانيزو موادو په سکتورونو کې تر ټولو زيات پورونه ثبت شوي دي. دکوچني پورونو سکتور ته ځانګړې شوي پورونه ۳.۷۴ ميلیارده افغانۍ ته رسيږي چې ۶۱ ميليونه افغانۍ زياتوالی ښکاره کوي او يوازې د يو بانک لخوا وړاندې شوي دي. د کوچني او منځني تشبثاتو سکتور پورونه ۲.۲۴ ميلیارده افغانۍ ته رسيږي چې ۱۷۵ ميليونه افغانۍ زياتوالی موندلی او د پنځو بانکونو لخوا وړاندې شوی دی. د پورونو شاوخوا ۷۶.۴۰ سلنه لومړی په کابل کې ځانګړي شوي چې هرات او بلخ ولايتونه په ترتيب سره دويم او دريم ځای او قندهار او بادغيس ولايتونه په څلورم او پنځم ځای کې واقع کيږي. په نورو ولايتونو کې د پورونو تخصيص ډېر لږ دی. د سکتور، جغرافيا او ادارې له پلوه د پورونو تخصيص په کافي اندازه متنوع شوی نه دی، خو تمه کيږي چې د پورونو جغرافيوي تنوع په راتلونکو کلونو کې ښه شي.

**۲.۶ جدول: د کريډېټ سکتوري ويش**

| | د ۱۳۸۸ کب (د ۲۰۱۰ مارچ) | د ۱۳۸۹ کب (د ۲۰۱۱ مارچ) | د ۱۳۹۰ کب (د ۲۰۱۲ مارچ) | د ۱۳۹۱ لیندی (د ۲۰۱۲ دسمبر) | د ۱۳۹۲ لیندی (د ۲۰۱۳ دسمبر) | د ۱۳۹۳ لیندی (د ۲۰۱۴ دسمبر) | د ۱۳۹۴ لیندی (د ۲۰۱۵ دسمبر) | د ۱۳۹۵ وری (د ۲۰۱۶ سپتمبر) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د ملکيتونو او ودانيزه پورونه | 19.92 | 25.98 | 2.85 | 2.29 | 2.02% | 1.80% | 1.90% | 1.95 % |
| **نور سوداګريزه پورونه** | - | - | - | - | - | | | |
| کان کيندنه | - | 0.02 | 0.72 | 0.11 | 0.07 % | | | |
| توليدات | 1.22 | 2.72 | 13.32 | 11.88 | 9.36 % | | | |
| سوداګري | 32.29 | 34.16 | 27.84 | 28.3 | 29.81% | | | |
| اړيکې | 1.04 | 1.23 | 0.94 | 2.35 | 3.70 % | | | |
| خدمتونه | 4.84 | 6.72 | 11.95 | 15.94 | 22.11% | | | |
| آسانتياوې (سهولتونه) | 2.47 | 0.03 | 0.3 | 0.07 | 0.05 % | | | |
| کرنيز پورونه | | | | | | 0.27% | 0.33 % | 0.11% |
| څاروي او فارمونه | | | | | | 0 % | 0.03 % | 0.04 % |
| توليدات او صنعت (د فلزونو، لرګيو، پلاستيک او ربړ توليد) | | | | | | 2 % | 4.42 % | 3.62% |
| توليدات، لاسي او ماشيني توليدات | | | | | | 4 % | 4.24 % | 3.59% |

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| سمنټ او ودانیز مواد | | | | | | 3% | 1.96 % | 2.32 % |
| منسوجات (نساجي) | | | | | | 2.59 % | 0.52 % | 0.73 % |
| بریښنا | | | | | | 0.35 % | 0.22 % | 0.54 % |
| ودانیز او تعمیرات | | | | | | 12.52 % | 7.54 % | 9.51 % |
| خدمتونه | | | | | | 4.79 % | 3.80 % | 1.54 % |
| هوټل او رستورانټونه | | | | | | 1.20 % | 1.46 % | 1.43 % |
| مخابرات | | | | | | 2.92 % | 5.70 % | 6.52 % |
| ځمکني ټرانسپورټ | | | | | | 4.87 % | 5.31 % | 4.45 % |
| هوايي ټرانسپورټ | | | | | | 4.18 % | 2.66 % | 2.53 % |
| روغتیا | | | | | | 0.71 % | 1.16 % | 1.59 % |
| رسنۍ، اعلانونه او چاپ | | | | | | 0.04 % | 0.04 % | 0.04 % |
| نور ټول خدمتونه | | | | | | 1.41 % | 7.56 % | 10.35 % |
| غونډ پلورنه | | | | | | 4.93 % | 9.89 % | 6.92 % |
| ماشینونه | | | | | | 0.12 % | 0.25 % | 0.26 % |
| نفت او روغنیات | | | | | | 8.74 % | 9.80 % | 11.21 % |
| پرزه جات | | | | | | 0.24 % | 1.42 % | 0.26 % |
| الکترونیکي وسایل | | | | | | 1.40 % | 1.58 % | 1.91 % |
| سمنټ او نور ودانیز مواد | | | | | | 1.87 % | 2.73 % | 2.08 % |
| خوراکي توکي | | | | | | 4.52 % | 8.24 % | 7.85 % |
| نور ټول توکي | | | | | | 5.72 % | 3.47 % | 3.59 % |
| پرچون پلورنه | | | | | | 3.92 % | 3.28 % | 4.56 % |
| لارې او ریل پټلۍ | | | | | | 2.41 % | 1.17 % | 0.72 % |
| بندونه | | | | | | 0.61 % | 0.09 % | 0.00 % |
| کانونه | | | | | | 0.08 % | 1.48 % | 0.49 % |
| نورې بیخبنسټیزې پروژې | | | | | | 1.81 % | 2.44 % | 3.17 % |
| مالي او پور ورکوونکي ادارې | | | | | | 0.00 % | 0.00 % | 0.00 % |
| کرنیز پورونه | 0.88 | 0.75 | 2.06 | 2.66 | 2.38 % | 2.34 % | 2.35 % | 2.65 % |
| مصرفي پورونه | 1.33 | 1.01 | 0.82 | 0.74 | 0.24 % | 0.26 % | 0.30 % | 0.52 % |
| اشخاصو ته د استوګنې رهني پورونه | 7.3 | 8.95 | 15.65 | 14.46 | 10.84 % | 7.14 % | 2.68 % | 2.69 % |
| نور ټول پورونه | 3.69 | 10 | 12.65 | 10.71 | 9.41 % | 6.68 % | 0.00 % | 0.27 % |

سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت، د افغانستان بانک

## ۲.۶ د پوروونو ډله بندي

### ۱.۲.۶ صعب الحصول پوروونه

صعب الحصول پوروونه د تېرې ربعې د ټوليزه ناخالصه پوروونو د ۷.۹۵ ميلیارده افغاني يا ۱۷.۱۱ سلنې په پرتله د ارزونې لاندې ربعه کې ۵.۶۷ ميلیارده افغانۍ ته رسيږي (د ټوليزه ناخالصه پوروونو ۱۳.۳۵ سلنه) چې د بانکي نظام د مقرراتي پانګې ۲۲.۵۷ جوړوي. د صعب الحصول پوروونو د کموالي عمده لامل د شتمنيو بيرته ترلاسه کول او د پوروونو لغو کول ګڼل کيږي. د صعب الحصول پوروونو د ۵۹ سلنې څخه زياته برخه دريو خصوصي سوداګريزو بانکونو پورې اړه لري چې د بانکي نظام د ټوليزه ناخالصه پوروونو ۶۰.۰۸ سلنه جوړوي.

د مالي چارو د څارنې لوی آمريت د مالي موسسو سره چې د پور کړنه يې کمزوره ده، له نږدې همکاري کوي څو د خپلو شتمنيو د کيفيت د ښه کولو لپاره پلانونه طرحه او تطبيق کړي. دا وضعيت مقرراتي څارنې او چټکه اصلاحي اقداماتو ته اړتيا لري څو د دغو کمزورو بانکونو د ګټورتيا او د پانګې پر کفايت باندې د منفي اغېزې څخه د مخنيوي لپاره اعتباري خطر مديريت پياوړی کړي.

د بانکي نظام د صعب الحصول پوروونو پراخه ويش ښکاره کوي چې د صعب الحصول پوروونو عمده برخه د سوداګرۍ سکتور جوړوي چې د دې سکتور د صعب الحصول پوروونو ۳۶.۹۶ سلنه رانغاړي. وروسته د توليداتو سکتور د دريم ځای په درلودلو سره د صعب الحصول پوروونو ۱۹.۰۵ سلنه ونډه جوړوي، خو سره له دې هم صعب الحصول پوروونو په دغو سکتورونو او خدماتي سکتورونو کې کموالی ښودلی دی.

۳.۶ ګراف: د پور د پورټوفوليو کيفيت




سرچينه: د مالي چارو د څارنې لوی آمريت، د افغانستان بانک

### ۲.۲.۶ معکوس ډله بندي شوي پوروونه

معکوس ډله بندي شوي (تحت المعيار، مشکوکه) پوروونه د تېرې ربعې په اوږدو کې د ۱.۸۹ ميلیارده افغانۍ کموالي په درلودلو سره ۸.۱۴ ميلیارده افغانۍ ته رسيږي او د ټوليزه ناخالصه پوروونو ۱۹.۱۷ سلنه يا د مقرراتي پانګې ۳۲.۴۲ سلنه جوړوي.که څه هم دغو پوروونو کموالی موندلی، خو لا هم د عامل پلاوي لخوا پياوړې څارنې او اصلاحي اقداماتو ته اړتيا لري څو د معکوس ډله بندي شوي پوروونو کچه مطلوب حد ته راښکته کړي. سربېره پر دې، د هغو بانکونو چې د پور ورکړې کيفيت يې ټيټ دی، د ګډې اداري د پياوړي کولو، د داخلي ابزارونو د اغېزمنتيا زياتولو او د اصلي (داخلي) او غير داخلي خطر پر ښه مديريت باندې ډېر ټينګار وشي.

### ۳.۲.۶ تر نظر لاندې کټګورۍ کې پوروونه

تر نظر لاندې کټګورۍ کې ډله بندي شوي پوروونه ۲.۷۰ ميلیارده افغانۍ ته رسيږي چې د ټوليزه ناخالصه پوروونو ۶.۳۶ سلنه جوړوي او د تېرې ربعې (۲۰۱۶ جون) راپديخوا ۱۴.۴۳ سلنه کموالی ښکاره کوي چې دا کموالی د بانکي نظام په دريو سوداګريزو بانکونو او يو دولتي بانك پورې تړاو لري. د پوروونو دا کټګوري دقيقې

څېړنې او څارنې ته اړتیا لري، ځکه هغه پورونه چې تر نظر لاندې کټګورۍ کې راغلي، زیات احتمال شته چې معکوس ډله بندي شوي(تحت المعیار، مشکوکه) پورونو ته واوړي او په راتلونکي کې په خساره کټګورۍ کې وشمېرل شي.


### ۴.۲.۶ په خساره کټګورۍ کې پورونه[۳]

په خساره کټګورۍ کې ډله بندي شوي پورونه د ټولیزه ناخالصه پورونو ۷۱۹ میلیونه افغانۍ یا ۱.۶۹ سلنه جوړوي چې د تېرې ربعې راهیسې ۵۲۴ میلیون افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي چې په زیاته اندازه پنځو بانکونو پورې تړاو لري. بانکونه اړ دي چې په هر وخت کې کافي پانګه وساتي څو په دې کټګورۍ کې د ډله بندي شوي پورونو خساره جبران شي، ځکه چې دا د بیلانس شیټ څخه پورونه لغو کوي.

### ۵.۲.۶ د بانکونو ترمنځ طلبات

د بانکونو ترمنځ طلبات د شتمنیو کټګورۍ دویمه ستره برخه جوړوي چې د ۱۳۹۵ مالي کال کې د ټولیزه شتمنیو ۷۲.۳۵ میلیارده افغانۍ (۲۶.۱۱ سلنه) جوړوي او ۳.۴۹ میلیارده افغانۍ (۴.۶۰ سلنه) کموالی ښکاره کوي. د بانکونو ترمنځ د طلباتو دومره کموالی لسو بانکونو پورې تړاو لري. د تېرو بدلونونو په پام کې نیولو سره، بانکي سکتور د بانکونو ترمنځ د طلباتو یوه لویه برخه په خزانه کې نغدي پیسو او د افغانستان بانک د پانګه ایزو پانګو حسابونو ته لیږدولي دي څو د خطر کچه راټیټه او د هغوی د سیالیت وضعیت پیاوړی کړي. د لا وضاحت لپاره ۴.۶ ګراف وګورئ.

۴.۶ ګراف: په بانکي ډلو کې د بانکونو ترمنځ د طلباتو ونډه




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت، د افغانستان بانک

### ۶.۲.۶ پانګه اچونه

د بانکي نظام د پانګې پورټوفولیو چې په اړوندو کمپنیو کې پور پانګې، دولتي بیه لرونکي پاڼې او په اړوندو کمپنیو کې پانګه اچونه رانغاړي د ارزونې لاندې ربعه کې د ټولیزه شتمنیو ۲۳.۶۷ میلیارده افغانۍ یا ۸.۵۴ سلنه جوړوي چې ۵.۲۹ سلنه یا ۱.۱۹ میلیارده افغانۍ زیاتوالی ښکاره کوي. دا زیاتوالی څلورو بانکونو پورې تړاو لري. د دې سکتور د پانګونې لویه برخه د هېواد بهر ترسره شوې ده. د پانګې پورټوفولیو دوو دولتي بانکونو، پنځو سوداګریزو بانکونو او دریو بهرنیو بانکونو نمایندګیو پورې تړاو لري.

### ۷.۲.۶ په خزانه کې پیسې او د افغانستان بانک باندې طلبات

په خزانه کې پیسې او د افغانستان بانک باندې طلبات د ټولیزه شتمنیو تر ټولو لویه کټګورۍ ده چې د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو ۴۳.۱۵ سلنه جوړوي چې د تېرې ربعې (د ۲۰۱۶ جون) راهیسې د ټولیزې شتمنۍ په دواړه مطلق او همدا ډول سلنه ایز کې ۴.۶۶ میلیارده افغانۍ زیاتوالی ښکاره

[۳]. هغه شتمنۍ دي چې د ۱۶/۰۹/۱۳۹۲ نیټې د ۰۳/۹۲ ګڼې د محاسبې متحد المال له مخې، د اصلي مبلغ یا ټکټانې د بیا ورکړې د سر رسید له موعد څخه یې ۵۴۰ یا زیاتې ورځې تیرې شوي وي.


کوي. بانکي نظام په بشپړه توګه د اجباري زیرمې له مقررې سره په تطابق کې دی او محتاط او ورو ډول راجلب شوي پیسې د شتمنیو نورو ډولونو کې ځای پرځای کوي.

### ۳.۶ پوراینې

د بانکي نظام ټولیزه پوراینې ۲۴۸.۱۳ میلیارده افغانۍ ته رسېږي چې د تېرې ربعې (د ۲۰۱۶ جون) د ۲۴۸.۱۸ میلیارده افغانۍ په پرتله ۵۸.۰۲ میلیونه افغانۍ (۰.۰۲ سلنه) کموالی ښکاره کوي. د "نورو پوراینو" برخه د ټولیزه پوراینو تولې برخې، ځنډېدلي حسابونه او د ادایني وړ اضافه شوې ټکټانه په دریمه ربعه کې راکم شوي دي.

ډېرې پوراینې د امانتونو (۹۵.۷۴ سلنه) او وریسې د "نورو پوراینو" پور اخیستنو لخوا جوړې شوي دي. ۵.۶ ګراف وګورئ.

۵.۶ ګراف: پوراینې ۵۸.۰۲ میلیونه افغانۍ یا ۰.۰۲ سلنه کم شوي دي




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت، د افغانستان بانک

### ۱.۳.۶ امانتونه

امانتونه چې د بانکي نظام مهمه تمویلي سرچینه جوړوي، د ارزونې لاندې ربعه کې ۲۳۷.۵۵ میلیارده افغانۍ ته رسېږي چې د تېرې ربعې د ۳.۰۶ سلنې زیاتوالي په پرتله ۰.۲۸ سلنه (۶۷۴.۰۴ میلیونه افغانۍ) کموالی موندلی دی. د بانکي نظام د امانتونو د کموالي اصلي لامل د امریکایي ډالرو د سپما امانتونو کموالی ښودل شوی دی. د اسعارو په برخه کې شننه ښکاره کوي چې په افغانۍ اېښودل شوي امانتونه د ۲۰۱۶ کال په جون کې ۰.۸۲ سلنه زیاتوالی موندلی چې د ټولیزه امانتونو ۲۹.۲۱ سلنه جوړوي، په داسې حال کې چې په امریکایي ډالرو اېښودل شوي امانتونه په همدې ربعه کې ۱.۵۲ سلنه راکم شوي چې د بانکي نظام د ټولیزه امانتونو ۶۵.۳۶ سلنه جوړوي.

د خصوصي بانکونو امانتونه ۱۵۵.۷۴ میلیارده افغانۍ جوړوي او د ارزونې لاندې ربعه کې ۰.۸۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې د بانکي نظام د ټولیزه امانتونو ۶۵.۵۶ سلنه جوړوي.


د بانکي نظام په ټولیزه امانتونو کې د دولتي بانکونو ونډه ۶۲.۹۹ میلیارده افغانۍ ته رسېږي چې د ټولیزه امانتونو ۲۶.۵۲ سلنه جوړوي. په دریمه ربعه (د ۲۰۱۶ جون) کې د دولتي بانکونو امانتونه ۲.۴۲ سلنه راکم شوي دي.

همدا ډول، د بهرنیو بانکونو د نمایندګیو امانتونه ۱۸.۸۲ میلیارده افغانۍ (د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو ۷.۹۲ سلنه) ته رسېږي. د بهرنیو بانکونو د نمایندګیو امانتونه په دریمه ربعه (د ۲۰۱۶ جون) کې په دوامداره توګه ۲.۰۷ سلنې ته راکم شوي دي.

د امانتونو د ډولونو له مخې، د بانکي نظام جاري امانتونه د ټولیزه امانتونو ۷۵.۱۳ سلنه جوړوي چې د ۰.۶ سلنه زیاتوالي په درلودلو سره لومړی مقام لري. د بانکي نظام د سپما امانتونه د ټولیزه شتمنیو د ۱۸.۳۵ سلنې په جوړولو سره دویم ځای لري چې ۵.۰۱ سلنه کموالی ښکاره کوي. په داسې حال کې چې د بانکي نظام مودیزه (میعادي) امانتونه د امانتونو د پورټوفولیو د ۶.۵۲ سلنې په جوړولو سره ۳.۷۲

سلنه (د ۲۰۱۶ جون راهیسې) لوړوالی موندلی دی.

۶.۶ ګراف: د امانتونو اسعاري ترکيب





سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت، د افغانستان بانک

۷.۶ ګراف: په افغانی اینبودل شوي امانتونه





سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت، د افغانستان بانک

۸.۶ ګراف: امانتونه ۰.۲۸ سلنه یا ۶۷۴ میلیونه افغانی کم شوي دي




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت، د افغانستان بانک

۹.۶ ګراف: د امانتونو ويشنه




سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت، د افغانستان بانک

### ۲.۳.۶ پور اخيستنې

د بانکي نظام د تمويل په ټوليزه جوړښت کې د پور اخيستنې ونډه د ۱۰.۳۸ سلنې کموالي په درلودلو سره د ۲۰۱۶ کال په سپټمبر مياشتې کې ۳.۳۶ ميلیارده افغانۍ ته رسيږي. د يادولو وړ ده چې پور اخيستنې د ټوليزه پورراینو د ۱.۳۵ سلنې په جوړولو سره په تېره ربعه کې ۱.۳۹ سلنه زياتوالی موندلی دی.

### ۴.۶ نقدينګی (سياليت)

د نقدينګی خطر کولای شو د پور اخيستونکو او امانت اینبودونکو د تقاضاوو د پوره کولو لپاره د کافي سيالو شتمنيو نه درلودل تعريف کړو. ټول بانکونه اړ دي چې د نقدينګی څخه د راولاړې شويو ستونزو د مخنيوي لپاره سياليت په مطلوب حد کې وساتي.

په همدې ترتيب، بانک بايد د شتمنيو يوه مسئوله کميټه (ALCO) ولري چې د دې کميټې دندې د بانک د سياستونو په پام کې نيولو سره د نيمګړتياوو د تحليل او د تجزيې له لارې د بانک د نقدينګی، د حساسيت د ټيسټ، د سناريو د شننې، د نغدي جريان د شننې او داسې نورو له مديريت څخه عبارت دي.

۳.۶ جدول: د بانکي نظام د مالي ټینګښت مهم شاخصونه

| نسبتونه | (د ۲۰۱۰ مارچ) | (د ۲۰۱۱ مارچ) | (د ۲۰۱۱ مارچ) * | (د ۲۰۱۱ مارچ) | (د ۲۰۱۲ ډیسمبر) | (د ۲۰۱۳ ډیسمبر) | (د ۲۰۱۴ ډیسمبر) | (د ۲۰۱۵ ډیسمبر) | (د ۲۰۱۶ سپتمبر) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د پانګې د کفایت د نسبت مجموعه | 25.81 | -14.46 | 30.39 | 23.06 | 21.84 | 26.34 | 26.46 | 19.94 | 22.02 |
| په ۱ ردیف کې د پانګې د کفایت نسبت | 24.19 | -14.51 | 30.29 | 23.98 | 19.97 | 24.65 | 26.09 | 19.66 | 18.48 |
| په ټولیزه ناخالص پورونو کې د صعب الحصول پورونو ونډه | 0.5 | 48.4 | 3.75 | 5.15 | 5.31 | 5.1 | 8.09 | 12.34 | 13.35 |
| له شتمنۍ ترلاسه شوې ګټه (ROA) | 1.41 | -20.08 | 0.24 | - 1.21 | - 0.54 | 0.74 | 0.90 | 0.20 | 1.93 |
| له پانګې ترلاسه شوې ګټه (ROE) | 10.35 | - 520.66 | 1.9 | - 17.9 | -7.17 | 10.03 | 7.35 | 1.69 | 19.09 |
| د سیالیت نسبت (پراخه منځنۍ کچه) | 59.19 | 63.32 | 63.83 | 57.37 | 72.13 | 67.93 | 73.6 | 68.22 | 68.09 |
| په ټولیزه شتمنیو کې د سیالو شتمنۍ ونډه | 0.38 | 40.58 | 47.01 | 55.82 | 63.75 | 73.18 | 73.28 | 75.05 | 69.84 |

* له کابل بانک پرته

سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت، د افغانستان بانک

**۱.۴.۶ د سیالیت نسبت (پراخه کچه)**

بانکونه اړ دي چې د نغدي (سیالو) شتمنیو نسبت له ۱۵ سلنې ټیټ ونه ساتي. دا کار د سیالیت د کمیدو د مخنیوي لپاره ښه لاره ګڼل کیږي.

د بانکي سکتور د نقدینګی کچه په ټولیزه توګه په دې دوره کې زیاته ده چې د ټولیزه شتمنیو ۶۹.۸۴ سلنه نغدي شتمنی جوړوي. په منځني ډول د ټول بانکي نظام د نقدینګی کچه ۶۸.۰۹ سلنې ته رسیږي. د ټولو بانکونو د نقدینګی نسبت له ټاکلي حد څخه لوړ دی. (۵.۶ جدول وګورئ).

**۵.۶ پانګه**

بانکي نظام کافي پانګه لري. د بانکي نظام پانګه ۲۸.۹۶ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې په تېره ربعه کې ۰.۰۴۲۵ سلنه یا ۱.۱۸ میلیارده افغانۍ زیاتوالی موندلی دی. د ټولیزې پانګې د زیاتوالی لامل د ګټو او د پانګې بهیدنو پورې تړاو لري.

په ټولیزه توګه د بانکي نظام د پانګې د کفایت نسبت ۲۲.۰۲ سلنې ته رسیږي. (د لازیاتو معلوماتو لپاره د ۵.۶ جدول وګورئ) خو ناټولیزه شننه او تجزیه ښکاره کوي چې د یو بانک پرته ټولو بانکونو د پانګې د کفایت نسبت د ټاکل شوي حد (د خطر په اساس د عیار شوي شتمنۍ په سلو کې ۱۲ سلنه) څخه لوړ دی. د بازل معیار د پانګې او د خطر په اساس د عیار شوي شتمنۍ لپاره په سلو کې ۸ دی.

**۶.۶ ګټورتیا (نافعیت)**

د ۲۰۱۶ کال د سپتمبر میاشتې په پای کې بانکي نظام په ټولیزه توګه ۵۹۳ میلیونه افغانۍ خالصه ګټه ترلاسه کړې چې د ۲۰۱۶ کال د جون میاشتې د ۳۸۴ میلیونه افغانۍ خالصه ګټې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي.

د بانکي نظام د ګټورتیا زیاتوالی چې د ګټې/زیان په ۵.۶ جدول کې ښودل شوی، په عمده توګه د پور د جبران زیرمو کې کموالی ښودل شوی، د دې ترڅنګ عادي (عملیاتي) لګښت کې کموالی په ګوته شوی، په داسې حال کې چې د ټکټانې خالصه عاید د ارزونې لاندې موده کې ټیټوالی ثبت کړی دی. (د لازیاتو معلوماتو لپاره ۵.۶ جدول وګورئ)

د شتمنۍ څخه ترلاسه شوې ګټه په تېره ربعه کې (ROA) د ۲.۴۸ سلنه کلنې نرخ څخه ۱.۹۳ سلنې ته رسیږي او د پانګې

ترلاسه شوې ګټه (ROE) د ۲۴.۷۰ سلنه کلني نرخ څخه ۱۹.۰۹ سلنې ته رسیږي.

په ټولیزه توګه د بانکي نظام ټولورو بانکونو د ارزونې لاندې ربعې کې ۲۹۰ میلیونه افغانۍ زیان کړی، په داسې حال کې چې د ۲۰۱۶ کال د جون میاشتې په ربعه کې بیا هم ټولورو بانکونو ۳۱۶ میلیونه افغانۍ زیان ثبت کړی دی.

د اصلي عاید (Core Income) پر بنسټ، د تېرې ربعې د دریو بانکونو په پرتله د ارزونې لاندې ربعه کې دوو بانکونو زیان کړی دی.

د ډلې پر بنسټ شننه ښکاره کوي چې دولتي بانکونه، خصوصي بانکونه او د بهرنیو بانکونو نمایندګۍ د ارزونې لاندې ربعه کې ګټه کړې ده (۱۰.۶ ګراف وګورئ).

د بانکي نظام د ګټورتیا لویه برخه خصوصي بانکونو پورې تړاو لري چې ۳۷۵ میلیونه افغانۍ ته رسیږي. دولتي بانکونه او د بهرنیو بانکونو نمایندګۍ دویم او دریم ځای لري چې په ترتیب سره ۱۳۵ میلیونه افغانۍ او ۸۴ میلیونه افغانۍ ګټه کړې ده.

۱۰.۶ ګراف: د بانکي نظام ګټورتیا (نافعیت)





سرچینه: د مالي چارو د څارنې لوی آمریت، د افغانستان بانک

**۴.۶ جدول: د بانکي نظام ګټه/زيان**

| اقلام | ۱۳۹۴ (د ۲۰۱۵ سپتمبر) | ۱۳۹۵ (د ۲۰۱۶ جون) | ۱۳۹۵ (د ۲۰۱۶ سپتمبر) | د ربعې له مخې د بدلونونو سلنه |
|---|---|---|---|---|
| د ټکټاني عايد | 2,385 | 2,361 | 2,260 | - 4.30 |
| د ټکټاني لګښت | 526 | 433 | 434 | 0.06 |
| د ټکټاني خالص عايد | 1,859 | 1,928 | 1,826 | - 5.28 |
| غير ټکټاني عايد | 1,472 | 2,279 | 1,217 | - 46.60 |
| غير ټکټاني لګښتونه | 1,288 | 1,453 | 1,371 | - 5.63 |
| د معاشونو مصارف | 959 | 930 | 926 | - 0.44 |
| کريډيټ (اعتبار) چمتو کول | 264 | 589 | (2) | - 100.32 |
| له ماليې مخکې ګټه/زيان | 820 | 1,235 | 748 | - 39.47 |
| له ماليې وروسته ګټه/زيان | 758 | 384 | 593 | - 54.27 |


سرچينه: د مالي چارو د څارنې لوی آمريت، د افغانستان بانک

۱۱.۶ ګراف: له پانګې ترلاسه شوي ګټه او له شتمنيو ترلاسه شوي ګټه




سرچينه: د مالي چارو د څارنې لوی آمريت، د افغانستان بانک

۱۲.۶ ګراف: نهايي خالصه ټکټانه




سرچينه: د مالي چارو د څارنې لوی آمريت، د افغانستان بانک

**۷.۶ د اسعارو خطر**

د اسعارو پرانیستی عمومي وضعیت د خطر کچه تر ډېره حده پورې په هغه محدوده کې د بانکونو لخوا په پام کې نیول شوی چې د افغانستان بانک لخوا ټاکل شوې ده. بانکونه په ټولیزه توګه د افغانستان بانک لخوا د اسعارو د عمومي پرانیستي وضعیت لپاره د حد اقل ټاکل شوي حدودو په مطابقت کې قرار لري، پرته له دریو بانکونو څخه چې د اسعارو د پرانیستي عمومي وضعیت او همدا ډول د اسعارو د انفرادي وضعیت (امریکایي ډالرو) له ټاکل شویو حدودو څخه سرغړونه کړې ده.

د بانکي نظام په مقرراتي پانګې باندې د اسعارو په نرخ کې د بدلونونو اغېزه ښکاره کوي چې د اسعارو د ۲۰ سلنې مبادلوي ارزښت د لوړیدو سره د بانکي نظام مقرراتي پانګه ۸.۹۷ میلیارده افغانۍ ډیریږي او د دې برعکس راکمیدلی شي. همدا ډول، ۴ سلنه بدلون ۱.۷۹ میلیارده افغانۍ په کچه بدلون راولي او کمېدل یې د دې برعکس بدلون راوستلی شي.

**۸.۶ د ټکټانې د نرخ خطر**

ټول بانکي نظام د ټکټانې د نرخ د حساس وضعیت څخه برخمن دی. خو بیا هم د بانکونو د ټکټانې نرخ د حساسیت د مهال ویش محاسبه ښکاره کوي چې د بانکي نظام د ټکټانې خالص عاید به په راتلونکو ۱۲ میاشتو کې په بازار کې د ټکټانې د ۰.۰۳ سلنې نرخ د زیاتوالي له امله ۱.۳۱ میلیارده افغانۍ ته زیات شي. برعکس، که چیرې د ټکټانې نرخ ۰.۰۳ سلنه ټیټوالی ومومي له ټکټانې څخه ترلاسه شوی عاید به ۱.۳۱ میلیارده افغانۍ راکمه شي. که چیرې د دوو بانکونو د ټکټانې نرخ ۰.۰۳ سلنه زیاته شي، د هغې د ټکټانې خالصه عاید په راتلونکو ۱۲ میاشتو کې کمیږي.

د بانکونو د شتمنیو د حساسیت په میزان باندې د فشار راوړلو عمده لامل د پوراینې د ټکټانې د اداینې په نسبت د شتمنیو د ټکټانې د اداینې زیاتوالی دی. که څه هم دا کار د بانکونو د خالصه ټکټانې کچه او ګټه زیاتوي او په بازار کې د نرخونو د ناڅاپي کموالي له امله بانکونه ډېر زیانمنوي.

**مدیره پلاوی**

د پولي سیاست د لوی آمریت آمر: سید اسحاق علوي

د پولي سیاست د لوی آمریت مرستیال: سید مرتضی مظفري

د پولي سیاست د لوی آمریت مرستیال: نایب خان جمال

د پولي سیاست د لوی آمریت مرستیال: عبدالله مسعود

**مدیر مسئول**

د پولي سیاست د لوی آمریت اقتصادی څیرونکی: احمد خالد

**ترتیب کوونکې**

د مالي سکتور شنونکې: زرلشت معصوم

**د کارکوونکو ونډه**

اقتصادي څېړونکی: اقبال صافی

د بهرني سکتور شنونکی: ولي الله روحي

د پولي سکتور شنونکی: محمد جواد فریاد

د مالي چارو د څارنې د لوی آمریت

د داخلي برخې مدیره: انیسه اثیر

د حقیقي سکتور شنونکی: شفیق احمد فقیر زاده

د مالي سکتور شنونکې: زرلشت معصوم

ژباړه: عین الله عیان

ایډیټ: ایمل هاشور، د اسنادو او اړیکو لوی آمر

د سمون چارې: یما عفیف، د خپرونو مدیر

ډیزاین: خالد احمد فیضي

عکس: زیرک ملیا

د زیاتو معلوماتو لپاره:

ټلیفون: ۰۲۰-۲۱۰-۳۹۳۲

فکس: ۲۰۲۱۰۰۳۰۵ (۰) ۹۳+

برښنا لیک: info@dab.gov.af

ویب پاڼه: www.dab.gov.af







د اسنادو او اړیکو لوی آمریت

برښنالیک: info@dab.gov.af

ټلیفون: ۲۱۰۴۱۴۶ ۲۰ ۹۳+